**لوړو زده کړو وزارت**

**کندهار پوهنتون**

**د ژبو او ادبیاتو پوهنځی**

**د پښتو ژبي او ادبیاتو څانګه**

د لیسانس دورې پایلیک

# د ډاکتر عبدالحکیم هلالي پېژندنه
# او د ژبپوهني مقالې ئې

Ketabton.com

راټولونه او اوډنه: محمد طاهر کریاب

لارښود استاد: پوهنیار مطیع الله روهیال

(۱۳۹۷) کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لوړو زده کړو وزارت**

**کندهار پوهنتون**

**د ژبو او ادبیاتو پوهنځی**

**د پښتو ژبي او ادبیاتو څانگه**

د لیسانس دورې پایلیک

# د ډاکتر عبدالحکیم هلالي پېژندنه او د ژبپوهني مقالې ئې

راټولونه او اوډنه: محمد طاهر کریاب

لارښود استاد: پوهنیار مطیع الله روهیال

(۱۳۹۷) کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډیز

ډاکتر عبدالحکیم هلالي د فراه ولایت د گلستان ولسوالۍ د کوتلک په کلي کي په ۱۳۱۴ل کال زېږېدلی دئ. لومړنۍ زده کړې ئې په نیمروز ولایت کي ترسره کړې، متوسطه او ثانوي زده کړې ئې(د اووم ټولگۍ څخه بیا تر دولسم ټولگۍ پورې) په کابل کي ښوونځی لوستی. ښاغلی هلالي د هېواد د سترو ژبپوهانو په لومړي قطار کي راځي، چي د ژبپوهني په برخه کي ئې د دوکتورا ترکچې زده کړې کړې. خپلي مورنۍ ژبي پښتو ته ئې د ژبپوهني په برخه کي د قدر وړ خدمتونه کړې، ځانگړې آثار ئې چاپ کړې او د ژبپوهني په مختلفو برخو کي ئې په بېلابیلو مجلو اوجریدو کي مقالې خپرې کړې، چي په دې مونوگراف کي ما دده لنډ ژوند لیک، د آثارو معرفي او د ژبپوهني اړوند دده مختلفي مقالې را اخیستي، چي دده دا مقالې تر ډېره د اوسني لیکدود سره برابرې او د مقاله لیکلو اُصول ئې په بشپړ ډول مراعت کړې. هلالي صاحب یو څو مقالې د ژبپوهني په برخه کي د روسي ژبي څخه و پښتو ته را ژباړلې هم دي، چي زه په مونوگراف کي پر ړغېدلی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دلوړو زده کړو وزارت**
**کندهار پوهنتون**
**دژبو او ادبیاتو پوهنځی**
**تدریسي عمومي مدیریت**

ښاغلي محمدطاهر کریاب د غلام نبي زوی د (پښتو) څانګې د څلورم کال محصل د ( **ډاکتر عبدالحکیم هلالي پېژندنه او د ژبپوهنې مقالې ئې**) تر عنوان لاندې خپل مونو ګراف د علمي او اعتبار لرونکو منابعو او مأخذونو له مخې لیکلی دئ، تر اصلاح او ترتیب وروسته زما د تائید وړ وګرځېدی.

په درنښت

لارښود استاد

پوهنیار مطیع الله روهیال

ژوري هیئت: د سمینار د دفاع نېټه: ۲/ ۲ / ۱۳۹۷ل

۱ـ نامزد پوهنیار جمیل الرحمن زېری

۲ـ پوهیالی عبدالواحد ریحان

۳ـ پوهیالی رحمت الله کټوازی

وکتل سو!

د لېسانس دورې مونوګراف په (بریالی) توګه د (    ) امتیازي نمرو په ترلاسه کولو د ژوري هیئت په حضور کې دفاع او د (پښتو) څانګې د مونوګرافونو د ثبت په کتاب کې په (عـــــــ) شمېره ثبت او صحت لري.

د څانګې آمر

پوهیالی عبدالواحد ریحان

د ژبو او اد بیاتو پوهنځی، د مونوګرافونو د ثبت په کتاب کې په (عـــــــ) شمېره ثبت دئ.

په درنښت

پوهنیار ذبیح الله ادیپال

د ژبو او ادبیاتو پوهنځی رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لارښود استاذ نظر

اروانباد عبدالحکیم هلالي یو له هغو لیکوالو او مترجمینو څخه دئ، چي لوړي زده کړي ئې د ژبپوهني په ساحه کي کړي او په دغه ساحه کي ئې د ژوند تر پایه قلم چلولی دئ.

د مرحوم هلالي ټول اثار ( کتابونه او مقالې) په پوره دقت او د علمیت او پوهي له نظره په لوړه سطحه کي ځای لري. دده د اثارو مطالعه د ادبیاتو د ټولو محصلینو له پاره ضروري ده، د ژبپوهني شاگردان او علاقمندان دده په اثارو کي ډېر څه موندلای سي. د ادبیاتو پوهنځی د څلورم کال محصل ښاغلي طاهر کریاب ته د مرحوم هلالي د ژوند، اثارو او ژبپوهني د برخي د مقالو راټولولو وظیفه ورکول سوه ښاغلي کریاب دا کار په پوره امانتدارۍ او احتیاط کړی دئ. خواري یې د قدر وړ ده. بریا دې مله وي.

په درناوي

مطیع الله روهیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څرګند تیا

زه محمد طاهرد غلام نبي زوی د ژبو او ادبیاتو پوهنځی محصل دا ژمنه کوم چي دغه څېړنه او محتویات زما د ځانګړو هلو ځلو او کوښښونو نتیجه ده، ما د کوم بل لیکوال له اثارو څخه د نامه له ذ کر کولو پرته ګټه اخیستې نه ده.

په درښت

محمد طاهر کریاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مننلیک

مننلیک د رسول الله (ص) په هغه حدیث باندي شروع کوم، کوم چي رسول الله (ص) فرمایلي دي (من لم یشکرالناس لم یشکرالله )رواه ترمذي. یعني څوک چي د انسانانواحسان نه مني اوقدرداني ورڅخه نه کوي هغه د الله(ج) احسان هم نه مني .

زه د دغې موضوع د لیکلو په لړکي د خپل لارښود استاذ نه یوه نړۍ مننه کوم چي له ماسره یې خپلې لازمي لارښووني په ورین تندي شریکي کړي اوهمدا ډول د خپل مور او پلار او وروڼو څخه ډېره مننه کوم چي دوی په دې سختو شرایطو کي زه دېته وهڅولم ترڅوخپل ځوان عمر د علم په زده کړه کي مصرف کړم د زړه له کومي ورڅخه مننه کوم. همدا ډول د خپلو ټولو درنو استاذانو څخه هم نړۍ مننه کوم چی د زده کړیالانو د پوهاوي لپاره ئې د هر ډول وسایلو او میتودونو څخه کار اخیستی اوموږ ته ئې دغه علمي رسالت را په برخه کړی دئ.

په پای کي مننه کوم د ښاغلي جمعه خان بشیري، عبدالجلیل سیار اوملا محمد ناصرسعادت څخه، چي د مونوگراف د موادو د برابرولو په برخه کي یې نه ستړي کېدونکي هلي ځلي وکړي.

په ځانکړې توگه د خپل لارښود استاذ پوهنیار مطیع الله روهیال څخه پوره مننه کوم، چي د ډېرو مصروفیتونو سره سره یې زما د مونوگراف لارښوونه وکړه له الله تعالی نه ورته په باقي ژوند کي د لازیاتوکامیابیو هیله کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


بسم الله الرحمن الرحیم....أ

د تائید سوي هیئت پاڼه....ت

د لارښود استاذ نظر....ث

څرګند تیا....ج

مننلیک....ح

سریزه....١

د څېړني اړتیا او موخه:....٢

تېرو څېړنو ته کتنه:....٢

د څېړني میتودولوژي:....٢

په څېړنه کي ربړي، کړاونه او خنډونه:....٢

دوهمه برخه....٣

د دوکتور عبدالحکیم هلالي پېژندنه....٣

د ډاکترهلالي ځیني آثار....٤

١ـ پښتو قاموس لیکنه:....٤

٢ـ د پښتو ژبي د فونیمیکي الفباء لارښود:....٤

٣ـ د پښتو ژبې فونولوژي:....٤

۴ ـ الفبای زبان پشه یي:....٥

۵- انګلیسي پښتو قاموس:....٥

٦ - پښتوـ پښتو تشریحي قاموس:....٥

ژباړي برخه:....٥

١ ـ زړه بوټي:....٥

٢- بلوچ:....٥

ژبـــــپوهــــــنه....٦

د ژبپوهني موضوع:....٦

د نورو علومو سره د ژبپوهني اړېکي:....٦

د ژبپوهني ارزښت:....٧

هلالي او ژبپوهنه....٧

دریمه برخه....٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه ........................................................ ۹
د ژباړې ارزښت ........................................................ ۹
د ژباړې اړتیا ........................................................ ۱۰
د ژباړې اصول ........................................................ ۱۰
۱. د ګټوري موضوع غوراوی ........................................................ ۱۰
۲. پر موضوع برلاسي ده ........................................................ ۱۰
۳ـ پر خپله موخنه ژبه برلاسي ........................................................ ۱۰
۴ـ پر لومړۍ ژبه برلاسي ........................................................ ۱۱
۵ـ د دواړو ژبو په توپیر پوهېدل ........................................................ ۱۱
٦ـ د امانت ساتنه ........................................................ ۱۱
د ژباړې ډولونه ........................................................ ۱۱
الف. د موضوع له پلوه ........................................................ ۱۱
۱ـ علمي ژباړې ........................................................ ۱۱
۲ـ ژورنالیستي ژباړې ........................................................ ۱۱
۳ـ دیني ژباړې ........................................................ ۱۲
۴ـ ادبي ژباړې ........................................................ ۱۲
الف. منثوره ژباړه ........................................................ ۱۲
ب. منظومه ژباړه ........................................................ ۱۲
۵ـ ګړنۍ (شفاهي) ژباړې ........................................................ ۱۲
الف. د ویناوال د لیکنو پر بنسټ ژباړه ........................................................ ۱۳
ب. بند پر بند ژباړه ........................................................ ۱۳
ج. هم مهاله ژباړه ........................................................ ۱۳
ب. د ژبې له پلوه ........................................................ ۱۳
۱ـ کلمه په کلمه ژباړه ........................................................ ۱۳
۲ـ جمله په جمله ژباړه ........................................................ ۱۳
۳ـ آزاده ژباړه ........................................................ ۱۳
۴ـ د ژباړې ژباړه ........................................................ ۱٤
د دوکتور عبدالحکیم هلالي ژباړه ........................................................ ۱٤
د هلالي د ژباړې ژبه ........................................................ ۱٤

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هلالي د ژباړي کميت ........ ۱٤
د هلاليد ژباړي ځانګړني ........ ۱٥
د پښتو ژبي د کلام اجزاء ........ ۱٦
۲ـ پښتو ګرامر: ........ ۱۷
۳ـ د پښتو پښويه: ........ ۱۷
۴ـ د پښتو ژبي يو بل ګرامر: ........ ۱۷
۵ـ د پښتو ژبي ليار ........ ۱۷
۷ـ پښتو ګرامر: ........ ۱۷
۸ ـ د پښتو مفصل ګرامر: ........ ۱۸
۹ـ ژب ښودنه(۱۳۴۷): ........ ۱۸
۱۰ـ د پښتو ژبي لنډه ګرامري څېړنه: ........ ۱۸
ګرامري کټګوري: ........ ۱۸
کليمه او د کلام اجزاء: ........ ۱۹
د اسم(نوم) کتګوري ........ ۲۰
د اسم د عدد کټګوري: ........ ۲۲
د حالت کټکوري: ........ ۲۳
صفت ........ ۲٥
د جنس کتګوري: ........ ۲٦
د عدد کتګوري: ........ ۲٦
د حالت کتګوري: ........ ۲٦
قيد ........ ۲۷
فعل ........ ۲۸
مصدر ........ ۲۸
فعلي صفتونه: ........ ۳۰
د فعل معنوي اړخونه: ........ ۳۱
د زماني کتګوري: ........ ۳۲
ماضي فعل: ........ ۳۳
۱ ـ دلازمي فعلونو ګروپ: ........ ۳۳
۲ـ د متعدي فعلونو ګروپ: ........ ۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ دریم گروپ فعلونه: ........ ۳۳
دحال زمانه: ........ ۳٤
راتلونکي زمانه: ........ ۳٥
مختاړي( پریفکسونه) ........ ۳٥
دشکل کتګوري ........ ۳۸
دکلام د نورو اجزاوو څخه د فعل جوړېدنه ........ ٤٠
۱ـ د صفتونوڅخه: ........ ٤٠
د ژبو مارفولوژیکي ویش ........ ٤۱
فرازیالوژي او سبکي علامې ........ ٤٥
فرازیالوژي(۱): ........ ٤٥
سبکي علامي: ........ ٤۸
ختیځه ژبپوهنه ........ ٤۹
د کلمو معنوي سپړنه ........ ٥۳
دفلسفي اصطلاحاتو قاموس نومینالیزم او ریالیزم ........ ٥٦
ژبه اوټولنه ........ ٥۷
امونیمونه اوپه قاموس کي د هغوی راوړل ........ ٥۸
د لغتونو ګرامري خصوصیات ........ ٦۱
په قاموس کي د لغتونو تلفظ لیکل او د خج ښوول ........ ٦٥
د لغتونو انتخاب ........ ٦۷
مقایسوي ـ تاریخي ژبپوهنه او ۱۹ پېړۍ ........ ٦۹
ملاده ګراماتیزم ........ ۷۲
د دوکتور عبدالحکیم هلالي ژباړي ........ ۷٦
علمي جهان بیني او د ژبپوهني مسالې ........ ۷٦
د ژبپوهني مسئلي ........ ۷۹
علمي جهانبیني او ژبپوهني مسئلي ........ ۸٤
د ژبي علایم ........ ۸٤
پایله ........ ۸۸
مأخذونه........ ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

ژبپوهنه د یوې ژبې د بډاینې او پرمختګ له پاره د ملا تیر جوړوي، ژبپوهنه په نوره نړۍ کې ډېره پخوانۍ مخینه لري، خو په پښتو ژبه کې د ژبې، ژبپوهنې او ژبنیو مسایلو په اړه هغه ډول څېړنې، چې د ژبپوهنې د نویو ژبپوهنیزو اصولو او پرنسیپونو له بنسټونو او اساساتو سره برابرې وي، ډېرې نوې دي، یعنې دومره مخینه نه لري. په پښتو ژبه کې د ژبپوهنې د ځینو پوهانو د څېړنو او پلټنو پر بنسټ ژبپوهنه د یوه علم په توګه په افغانستان کې په ۱۳۴۰ ل کلونو کې د پښتو ژبې د څېړنو برخه ګرځېدلې او په دې اړه لومړي ګامونه اخیستل سوي دي. په افغانستان کې په پښتو ژبه کې د هربېرت پېنزل د پښتو ګرامر تر ژباړې وروسته او د ارواښاد محمد رحیم الهام د مقالو په خپرېدو سره د نوي ژبپوهنې پر اساس پښتو ګرامر لیکنې ته پام واړول سو او په دغه برخه کې د ارواښاد الهام د پښتو ګرامر طرحه تر سرلیک لاندې لیکنې د اوسنیو ژبپوهنیزو بنسټونو په رڼا کې لیکل سوي دي. په همدغه وخت کې ځینې لوستي افغان پوهان د وخت د حکومت په مرسته د لوړو زده کړو له پاره بهر ته واستول سول، (چې د هغو له جملې څخه ډاکتر عبدالحکیم هلالي د روسي هېواد ته واستول سو، چې د لیننګراد په ښار کې ئې خپلې زده کړې د ژبپوهنې په برخه کې د دوکتورا ترکچې ورسولې) هېواد ته په راستنېدو ئې د پښتو ژبپوهنې په بېلابېلو څانګو کې څېړنې او لیکنې وکړې، چې د دوی ددې لیکنو په برکت د پښتو ژبپوهنې بنسټ هم پرېښوول سو. له ۱۳۴۰ل کال راهیسې د پښتو ژبې په برخه کې د ارواښاد پوهاند محمد رحیم الهام، ارواښاد دوکتور حبیب الله تږي، ارواښاد دوکتور عبدالحکیم هلالي، پوهاند مجاور احمد زیار، دوکتور عبدالرازق پالوال، ارواښاد نوراحمد شاکر، ارواښاد دوکتور پولاد، ارواښاد دوکتور دولت محمد لودین او ځینو نورو ژبپوهانو له لوري د نوي ژبپوهنې په رڼا کې په پښتو ژبه کې ژبنۍ څېړنې پیل کېږي. د همدغو پوهانو د لیکنو له جملې څخه د ښاغلي دوکتور عبدالحکیم هلالي لیکنې د ژبپوهنې په برخه کې خورا غنیمت دي، دا چې د پوهنتون د څلور کلنې دورې په پای کې هر محصل اړ دی، چې د خپلې څلور کلنې دورې د زده کړو د دفاع په ننګه مونوګراف ولیکي، نو ما دخپل مونوګراف موضوع د دوکتور عبدالحکیم هلالي پېژندنه او د ژبپوهنې اړوند دده مقالې وټاکل،که څه هم ژبپوهنه یوه سخته موضوع ده، خو په پښتو ژبه کې ئې سخته اړتیا لیدل کېدل، نو ددې ضرورت پر بنیاد مې دا وپتیله، چې د دوکتور عبدالحکیم هلالي خورې ورې مقالې، چې د افغانستان په مختلفو جریدو او مجلو کې په مختلفو وختونو کې خپرې سوي سره راټولې کړم . ترڅو هغه محصلین او استاذان، چې د ژبپوهنې اړوند موادو ته اړتیا لري. په اسانۍ سره دغه غنیمت موادو ته لاس رسی پیدا کړي. دوکتور هلالي نه یوازې د ژبپوهنې اړوند کتابونه او مقالې لیکي، بلکې د اړتیا سره سم ئې د ځینو نورو بهرنیو ژبو څخه هم وخت په وخت د ژبپوهنې اړوند ژباړې کړې، ترڅو د ژبپوهنې په برخه کې د پښتو ژبې اړتیا پوره کړي او پښتو ژبه د ژبپوهنې په برخه کې بډایه کړي. ددې موضوع د بشپړولو په خاطر مې د علومو اکاډیمۍ او کابل عامه کتابتون ته هم سر ور ښکاره کړ. په کندهار کې د علامه رشاد اکاډیمي ډېره غنیمت وه او کار ئې ډېر راته اسانه کړ. د موادو په راټولو کې د کومې خاصې ستونزې سره نه یم مخ سوی، خو د مجلو او جریدو زوړوالي، کله کله د ځینو ګڼو نه شتون کار له خنډ سره مخ کوی، چې مجبوریدم د هغې ګڼې د پیدا کولو له پاره بلې داسې مرجع ته ورسم، چې هغه ګڼه ورسره موجوده وي. د جرېدو او مجلو څخه مې عکس په سمارټ تلیفون سره اخیست بیا مې د عکس له رویه په کمپیوتر کې ټایپا وه.

دا چې دا لیکنې ډېرې پخوا سوي وي، نو (یا ګانې) چندان نه وي پکښې مراعت سوي. ما تر خپل وسه کوښښ کړی ترڅو یاګانې د اوسنې لیکدود سره سم مراعت کړم.

په درنښت او مینه

محمد طاهر کریاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی برخه

## د څېړنې اړتیا او موخه:

دا چې په پښتو ژبه کې د ژبپوهنې اړوند مواد خورا لږ وه، استاذانو او محصلینو به د لکچر او تدریس له پاره مواد د انګریزي سایټونو څخه را ژباړل، چې ځینې محصلینو به د انګریزي سره بلدتیا نه درلودل او د ستونزو سره به مخامخ کېدل. انترنټ ته نه لاس رسی او د انترنټ لوړه بیه بله ستونزه وه. وایې «آب درکوزه ما تشنه لبان می گردیم» موږ د ژبپوهنې اړوند ډېره ډاټا درلودل، خو خوره وره وه ما ددغې اړتیا د پوره کولو له پاره دغه مواد د مختلفو جریدو او مجلو څخه راټول کړل او موخه مې دا وه، چې دغه اړتیا مشبوع کړم.

## تېرو څېړنو ته کتنه:

پر دغه موضوع تر دې مخکې هیچا کار نه دی کړی دا لومړی ځل دی، چې زه د ښاغلي عبدالحکیم هلالي پېژندنه کوم او د ژبپوهنې مقالې ئې د مختلفو جریدو او مجلو څخه راټولوم، یوازې سیال کاکړ په ادبي څېړو کې دده رنګه عکس راوړی او دده نوم ئې ورته لیکلی.

## د څېړنې میتودولوژي:

دا یوه کتابتوني څېړنه وه، چې ما د کابل په عامه کتابتون، د افغانستان د علومو اکاډمۍ، علامه رشاد اکاډمۍ او د کندهار د اطلاعاتو کلتور ریاست په عامه کتابتون کې په خپل جیبي تلیفون باندې د مجلو، جریدو او کتابونو څخه عکسونه اخیستې وروسته مې هغه پرنټ کړې بیا مې ټایپ کړې او ترتیب کړې دي.

## په څېړنه کې ربړې، کړاونه او خنډونه:

دا چې هیڅ کار بې ستونزو او کړاونو سرته نه رسیږي، نو زه هم د عکس اخیستلو پر وخت کله کله د داسې جریدو سره مخامخ کیدلم، چې زما د اړتیا پاڼه به څېرې سوې وه یا به هغه ګڼه نه وه ورسره موجوده. نو بیا مجبور وم چې ددغې پاڼې د پیدا کولو له پاره بل ځای ته ور سم نور له کومې ځانګړې ستونزې سره نه یم مخامخ سوی.

## د څېړنې سوالونه:

ځینې پوښتنې، چې احتمال لري ستاسو په ذهن کې پیداسې او ماته ددې څېړنې په لومړیو کې پیدا وې په لاندې ډول دي:

ډاکتر عبدالحکیم هلالي څوک وو؟

هغه ترکومې کچې زده کړې کړې وې؟

ایا هغه د ژبپوهنې اړوند مستقل اثار لري ؟

ایا ژباړې ئې هم کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهمه برخه

## د دوکتور عبدالحکیم هلالي پېژندنه

عبدالحکیم هلالي د قاضي عبدالقادرخان زوی، چي د فراه ولایت د ګلستان ولسوالۍ دکوتلک په کلیکي په ۱۳۱۴ل نرۍ ته سترګي غړولي دي په ختېه نورزی دئ.[1]

هلالي خپلي لومړنۍ زده کړي په نیمروز ولایت کي تر سره کړي او ثانوي زده کړي ئې په کابل کي پای ته رسولي، د ثانوي زده کړو له پای ته رسولو وروسته په ۱۳۳۹ل کال د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځی کي شامل او په ۱۳۴۳ل کال کي ددغه پوهنځي له پښتو څانګي څخه د لیسانس په درجه فارغ سو، چي له فراغت څخه وروسته په پښتو ټولنه کي دمسلکي غړي په توګه ومنل سو او په ۱۳۴۴ل کال کي د همدې علمي څېړنیز مرکز له خوا پخواني شوروي اتحاد (اوسنۍ روسیې) ته واستول سو، چي هلته ئې خپلي زده کړي د ژبپوهني په څانګه کي د لیننګراد په ښار کي ترسره کړي.

او په ۱۳۵۰ل کال کي د دوکتورا د سند د ترلاسه کولو وروسته بیرته هېواد ته راستون سو او د تېر په څېر ئې په پښتو ټولنه کي د مسلکي غړي په توګه دندې ته دوام ورکړ، چي له دې وروسته ئې دغه لاندې دندي ترسره کړې دي:

### دندې:

د ۱۳۵۵ ل کال د مرغومي د میاشتي په ۱۴ د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز د لوی آمر په توګه مقررسو او دغي دندي ته ئې د ۱۳۵۷ ل کال د غویې تر میاشتي ادامه ورکړه. ( وروسته د دغه مرکز د ریاست سطحي ته لوړ سو).

دکتور هلالي د ۱۳۵۷ ل کال د غویې له میاشتي وروسته په پښتو ټولنه کي د ژبپوهني د څانګي مسلکي غړی سو.

په ۱۳۵۷ل کال کي، چي کله پښتو ټولنه په علومو اکاډمۍ بدله سوه( ۱۳۵۷ل کال د زمري ۱۵) د همدې کال د تلې د میاشتي په ۲۳ نیټه د علومو اکاډمۍ د ټولنیزو علومو د انستیتوت رئس وټاکل سو.

کله چي هلالي د ټولنیزو علومو له انستیتوت څخه تبدیل سو د ژبو او ادبیاتو د مرکز د ژبپوهني په لوی مدیریت کي غړی سو، چي ډېر وخت ئې په همدې څانګه کي دنده ترسره کړه.

نوموړي « د پښتو ژبي فونولوژي » ترسرلیک لاندي یو علمي اثر همدلته ولیکئ، چي د نورو سندونو په بشپړولو سره ئې په همدې اثر د سرڅېړونکي(اوس څېړنپوه) علمي رتبه هم تر لاسه کړه.

معصومه عصمتي، چي د علومو اکاډمۍ د ټولنیزو علومو د مرکز علمي غړې وه

په ۱۳۶۹ل کال ئې د ډاکتر نجیب الله د حکومت کابیني ته لار وموندله او د پوهني وزیره سوه. دغه مهال دکتور عبدالحکیم هلالي ددې په وړاندیز د پوهني د وزارت د معین په حیث وټاکل سو، چي وروسته د همدې وزارت سلاکار سو،کله چي د ډاکتر نجیب الله حکومت ړنګ سو او واک مجاهدینو ته په لاس ورغی دغه مهال هم څه موده د یاد وزارت سلاکار وو. وروسته چي کورنۍ کور ورانونکي تنظیمي جګړي د قدرت د لیونیانو تر منځ اوج ته ورسیدې، نور نو ډاکتر هلالي هم په کابل کي د پاته کېدو ځواک او توان له لاسه ورکړ.

ډاکتر هلالي پر خپلې مورنۍ ژبي پښتو سربیره په دري، روسي او انګلیسي هم پوهېده.

ډاکتر هلالي د ۱۳۷۳ل کال د جدي پر ۲۹ له دې نړۍ څخه د تل له پاره سترګي پټې کړې.

څېړنپوه عبدالحکیم هلالي د خپل وخت ښه لیکوال، ژبپوه او رینښتنی هېوادپال شخصیت وو.

---

[1] سیار، عبدالجلیل، تلیفوني مکالمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د خپل فرهنګي ژوند په بهیر کې ډېر کتابونه او مقالې لیکلي او یايې ژباړلي دي، چې د علومو اکاډیمۍ او ځینو نورو خپرندویه ټولنو خپاره کړي دي.

## د ډاکترهلالي ځیني آثار

### ۱ـ پښتو قاموس لیکنه:

د ډاکتر عبدالحکیم هلالي اثر دئ، چې په ۱۳۵۴ل کال د وري په میاشت کې د پښتو ټولنې لخوا د ۵۰۰ ټوکه په شمېر د محمد شیرین سنګري په اهتمام له چاپه راووت. کتاب ټولي ۱۲۵ پاڼې لري. په لومړي پاڼه کې د کتاب نوم په غټ فونټ، وروسته د لیکوال نوم ورپسي د خپرندویه ټولنې نوم په بله پاڼه کې، چې کومه شمېره او د الفباء د حروفو حساب نسته د کتاب فهرست راغلی، وروسته د کتاب سریزه چې د هغه وخت د پښتو ټولنې رئیس څېړنوال محمد صدیق روهي په دوه مخه کې پرلیکلې په لومړۍ شمېره مخ کې د لومړۍ خبرو تر سرلیک لاندې راغلې.

کتاب پر دوو برخو ویشل سوی په لومړۍ برخه کې د پښتو قاموس لیکنې لنډه تاریخچه راغلې.

په دوهمه برخه کې د قاموسي مقالې، د لغتونو انتخاب، امونیمونه، د لغتونو د تلفظ افاده، د خج ښوونه، د لغتونو ګرامري خصوصیتونه، د کلمو سپړنه، سبکي علامې، فرازیالوژي، مأخذونه او د سمون لیک عنوانونه راغلي.

### ۲ـ د پښتو ژبې د فونیمیکي الفباء لارښود:

دپښتو ژبې د فونیمیکي الفباء لارښود دڅېړنوال ډاکتر عبدالحکیم هلالي اثر دئ، چې په ۱۳۵۵ل کال پښتو ټولنې د ژبپوهنې څانګې لخوا د محمد شیرین په اهتمام چاپ سوی دئ. تر وقایې وروسته د کتاب نوم، د لیکوال نوم، د خپرندویه ټولنې نوم په غټ فونټ لیکل سوي دي په ورپسې پاڼه کې د سردار محمد داود خان عکس په رنګه ډول راوړل سوی تر عکس لاندې په شین رنګ چاپې خط لیکل سوي: ښاغلی محمد داود د افغانستان د دولت رئیس او صدر اعظم، په وروسته پاڼه کې چې هیڅ شمېره نه لري د «پېژندنه» تر عنوان لاندې د هغه وخت د پښتو ټولنې د رئیس څېړنوال محمد صدیق روهي یو مخیزه لیکنه راغلې بیا د کتاب فهرست په یو مخ کې راغلی. دا کتاب ټول ۵۳ مخه دی، چې پر دوو برخو ویشل سوی په لومړۍ برخه کې ئې سریزه، د پښتو ژبې منل سوي فونمیکه الفبې، د فونیمکي الفبې احتیاطي توري، فونیمکه الفبې او دخیلې عربې کلمې او د پښتو بشپړه فونمیکه الفبې عنوانونه راوړل سوي دي.

دوهمه برخه ئې د شعر او پښتو لنډیو ځیني نموني، چې په فونیمیکي الفبې ئې هم لیکي د فونیمیکي الفبې د ښه زده کړې په خاطر ئې راوړي دي.

### ۳ـ د پښتو ژبې فونولوژي:

د پښتو ژبې فونولوجي د ډاکتر عبدالحکیم هلالي اثر دئ، چې په ۱۳۷۰ل کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت د دوه زره ټوکه په شمېر د ښووني او روزني په مطبعه کې چاپ کړی. مهتمم ئې اسدالله دئ. دا کتاب ټول ۱۵٦ مخونه لري، چې لیکوال په پنځه مخه کې مقدمه پر لیکې، کتاب پر درې فصلونو وېشل سوی. په لومړي فصل کې د پښتو ژبې د فونیمي جوړښت په باب پخوانۍ څېړني راوړل سوي. په دوهم فصل کې فونولوجي، د فونیم مفهوم او بېلونه، د فونیم تعریف، فونیم او الوفونونه، د پښتو ژبې د لوېدیځي څانګې د فونیمونو سیستم، واولونه او کانسوننټونه، واولونه، کانسوننټونه او د پښتو ژبې د دفتانګو مسئله عنوانونه راغلي. په دریم فصل کې پره سودیکه، لغوي خج، سیلاب، آهنګ، ضمیمه، نتیجه، مأخذونه او منابع راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ ـ الفبای زبان پشه یي:

د ډاکتر عبدالحکیم هلالي بل اثر، چي الفبای زبان پشه یي نومیږي د محمد زمان کُلماني او سید اعظم الینایي سره ئې په ګډه د پوهاند محمد رحیم الهام ترنظر لاندي د محمد سرور پاکفر په اهتمام، چي د خراسان په مجله کي خپور سوی په ۱۳۶۷ل کال د علومو اکاډیمی د ژبو او ادبیاتو مرکز د دري ژبي او ادب د انستیتیوت له خوا د ۲۰۰۰ ټوکه په شمېر چاپ سوئ

کتاب ټول ۲۳ صفحي دئ د یادوني وړده ، چي دا کتاب په دري ژبه لیکل سوئ.

په دې کتاب کي د پشه ئې ژبي الفباء په مکمل ډول د مثالونو سره په عربي او فونیمکي لیکدود تشریح سوي ده.

## ۵- انګلیسي پښتو قاموس:

پښتو ټولنې، دولتي مطبعي په ۱۳۵۴ل کال کي چاپ کړی. دا اثر ئې د ځینو نورو پوهانو سره په ګډه لیکلی دئ.

## ٦ - پښتو- پښتو تشریحي قاموس:

دغه اثر د یوې ډلي پوهانو له خوا په څلورو ټوکونو کي د ک تر توري لیکل سوی. ډاکتر هلالي هم ددې قاموس په څلورو سره ټوکونو کي د لیکوالي ډلي غړی و.

ددې قاموس لومړی ټوک په ۱۳۵۸ل کال کي، دوهم ټوک ئې په ۱۳٦۰ل کال، دریم ټوک ئې په ۱۳٦۱ل کال اوڅلورم ټوک ئې په ۱۳٦۵ل کال په دولتي مطبعه کي چاپ سوي دي.

## د ژباړي برخه:

### ۱ ـ زړه بوډۍ:

زړه بوډۍ د ماکسیم کورکي اثر دئ، چي ښاغلي عبدالحکیم هلالي ژباړلی دا اثر د روسي ژبي څخه مستقیم پښتو ته ژباړل سوی، چي په روسي ژبه کي ئې نوم ایزرګیل دئ. په دې اثر کي کورکي فلکلور د ادبیاتو د لندي کیسي په ژانر کي ځای کړی. هلالي صاحب په دې ژباړه کي، خپل د ژباړي مهارت ښودلی د کتاب په لوستلو د سړي داسي ګومان راځي، چي کورکي خپله دا اثر په پښتو ژبه لیکلی.

دا اثر په ۱۳٦۴ل کال د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د علومو اکاډمی د نشراتو او کتابخانو د ریاست لخوا چاپ سوی. د زړي بوډۍ ایزرګیل د داستان په ارتباط د یو څو لنډې خبري تر عنوان لاندي د هغه وخت د افغانستان دعلومو اکاډمی د نشراتو او کتابخانو رئیس محمد ابرهیم عطائې څلور مخه لیکنه راغلي. وروسته د کتاب اصلي متن شروع کېږي، چي ټول ۲۳مخه دئ.

### ۲- بلوچ:

دغه اثر ئې له روسي ژبي څخه را ژباړلی او د علومو اکاډیمی د اجتماعي علومو د مرکز لخوا په ۱۳٦۴ل کال چاپ سوی دئ، اصلي لیکوال ئې م.ګ.پیګولین دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژبـــــپوهـــــــنه

ژبپوهنه هغه علم دئ، چي د هغي په وسيله د ژبي دا خلي ساختمان او جوړښت تر څېړني لاندي نيول کېږي. ژبپوهنه يو علم دئ. ددې علم اصلي موضوع ژبه ده. دې علم ته په پارسي «زبانشناسي» او په عربي علم الغة ويل کېږي. په انگريزي ژبه کي د ژبپوهني معادله کلمه لينگويستکس linguistics ده.

انگريزي ته دا کلمه له لاتين لينگوه lingua څخه داخله سوېده. Lingua د ژبي معنا لري او وروستاړی استيکه astica ئې له يوناني څخه ورسره يو ځای سوی دئ چي د«پوهني» معنا لري. د دغو دوو کلمو له يوځای کېدو څخه لنگويستيکه اصطلاح رامنځته سوې ده، چي په نړيواله سطحه د ژبپوهني له پاره کارېږي. تردې مخکي ژبپوهني ته فلالوژي (philology)اصطلاح کارېده.[۲]

## د ژبپوهني موضوع:

د ژبپوهني موضوع ژبه ده.د ژبپوهني عالم ته ژبپوه ويل کېږي. د ژبپوه کار دادئ، چي د ژبي جوړښت او رغښت ورمعلوم وي. ځيني کسان داسي فکر کوي، چي ژبپوه د ژبي د زده کړي سره سروکار لري، دغه ډول فکر کول يوه سهوه ده، ژبپوه او ژبپېژاند دوه بيلا بيل خلک دي، چي د يوه کار د ژبي د ساختمان سره دئ او بل د ژبپوهني موضوع هم ژبه ده نه د ژبي زده کړه. ژبه او ژبپوهنه دوه بېل بېل واقعيتونه دي. داسي بايد ونه فهمول سي، چي ژبپوهنه گوندي د ژبي د زده کړي معنی لري. ژبپوهنه ددې له پاره لوستل کېږي، چي د ژبي په باب يوه ټوليزه پوهه ترلاسه سي او په تيوريکي ډول پرې د يوې بشري پوهني په توگه علمي تنده ماته سي. د ژبي پيدايښت، څرنگوالی، جوړښت، دنده، اوښتنه، پرمختيا، پراختيا، ډېرښت، د بېلابېلو ژبو کورنی، ځانگي او لهجي او نوري اړيکي سره د ژبي د زده کړي او داسي نور نظري او علمي مسائل ئې وڅېړل سي.

پرلوړو مسايلو سربېره ژبپوهنه د نورو علومو لکه ساه پوهنه، فلسفه، توکمپوهنه او داسي نور اجتماعي علومو سره اړيکي لري، چي وروسته به د هري ځانگي سره د ژبپوهني پر ارتباطاتو باندي لنډې خبري وسي.

په هر ډول د ژبي زده کړه او د ژبپوهني زده کړه توپير سره لري. په دې توگه بايد د ژبي زده کړه او د ژبپوهني زده کړه سره گډه نه سي، داچي وايو پلانی ژبپوهاند دئ دا معنا نه لري، چي هرو مرو به په ډېرو ژبو پوهيږي او رغېږي. كه څوک په ډېرو ژبو پوهېږي بې له دې چي ژبپوهنه ئې لوستي وي يا په پوهنيز ډول پوه سي، ډېر ژبی(پولي لينگوال) يا دوه ژبی (بای لينگوال) ئې بللای سو، نه ژبپوهاند. په پارسي ژبه کي لومړي ته (زباندان) او دوهم ته (زبانشناس) وائې

## د نورو علومو سره د ژبپوهني اړيکي:

ژبپوهنه د يوه علم په توگه د شلمي پېړۍ له نوښتونو څخه گڼل کېږي. دغه علم له ډېرو ټولنيزو علومو سره يو جانبه او له ځينو نورو سره متقابله ټينگ اړيکی لري. په دې ډول چي ځيني علوم د خپلو څېړنو د بشپړولو له پاره له ژبپوهني څخه مرسته غواړي او پرځنگ ئې ځيني علوم او پوهني له ژبپوهني سره مرسته کوي. ژبپوهنه له منطق سره نږدې اړيکي لري، ځکه د منطق مهم عنصر ژبه ده. همدارنگه له طب او طبابت سره هم ارتباط لري، ځکه چي خبري د عصبي رشتو سره ربط لري. ژبپوهنه د فزيک له علم سره هم تړلې ده. فزيکي رغپوهنه (Acoustic phonetics) د رغونو خصوصيات د لوړوالي او کښته والي له پلوه څېړي. د تاريخ سره ئې اړيکي نه شلېدونکي دي. ځيني پوهان عقيده لري:

---

[۲] شاکر،نوراحمد،(ژبنۍ څېړني) ۷مخ،۱۳۵۰ل چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک د يوه اوولس په ژبه او د هغه په ادبي خصوصياتو او کيفياتو باندي ونه پوهېږي د علم په دنيا کي حق نه لري، چي د هغه اوولس تاريخ وليکي.

### د ژبپوهني ارزښت:

ژبپوهنه د ژبو او ادبياتو د پوهنځی له اساسي او اختصاصي مضامينو څخه شمېرل کېږي، چي ددغه پوهنځی په ټولو سمسترونو کي تدريسيږي. له دغه ځايه د ژبپوهني ارزښت، اهميت او مهم والی معلومېدای سي. د ژبپوهني اړيکي د اجتماعي علومو د نورو مضامينو سره دې علم ته نور هم ارزښت ورکړی دئ.

د ځمکي پرمخ ټولني سره مختلفي دي او دا توپيرونه په ګڼو برخو کي ددې لامل سوي، چي ټولني سره تفکيک او څرګند توپير ئې وسي. که د خپل کور، سيمې او ټولني ئې را پيل کړو او بيا پسي نورو ټولنو ته سر ورښکاره کړو، نو د ژبني ويش له مخي ټولني او کورنۍ په يو ژبيزي، دوه ژبيزو او په ګڼ يا څو ژبيزو باندي ويشل سوي دي. د همدغه وېش له کبله د ژبي په تېره د ژبپوهني زده کړه مهمه او ارزښتمنه ده.

دا ددې په خاطر چي ژبپوهنه د ژبي يا ژبو علمي زده کړه او پر هغې پوهاوی دئ. انسان يو ټولنيز موجود دی په ټولنه کي په هره ساحه کي چي وي راکړي ورکړي ته اړ دی او د اړيکو نېولو له پاره ترهڅه د مخه وسيلي ته اړتيا ده؛ يوازيني وسيله، چي په ټولنه کي د انسانانو اړيکي ټينګوي او د چارو په ښه سمباليښت کي ورسره مرسته کوي ژبه ده.

مونږ په کور، لار، کوڅه، جومات، روغتون، ښوونځی، پوهنتون، موټر، دفتر، ښار او بازار او د خپل چاپېريال په هره برخه کي چي يو ژبي ته اړ يو، د ژبي پر مټ لومړۍ اړيکه ټينګه او بيا خپل هدف ته د رسېدو له پاره ګامې لاري خپلوو. ښايې ځينو ته به ژبه يوازي همدومره ارزښتمنه وي، چي خبري په کوو او اړيکه نېسو او تر دې پورته ژبه هيڅ ارزښت نه لري، خو هغوي هيڅکله د ژبي په هکله ژور فکر نه دی کړی او د ژبي جوړښت ته نه دي ځير سوي، دا چي يوه ژبه څنګه را منځ ته کېږي، ږغېزي رغنده توکي ئې څه دي، ولي رامنځ ته کېږي، ولي ژبي سره توپير لري، ولي مونږ په ټولو ژبو نه پوهېږو يا خبري نه سو په کولای.

دا د يو عادي کس کار نه دی او نه هم يو عادي کس ددې درونږ بار له عهدي وتلی سي، دا يوازي د ژبپوه کار دی، څو ژبه را وسپړي، وې شنې، په بېلا بېلو برخو او رغنده توکو ئې رڼا واچوي.

پر ژبپوهنه باندي پوهېدنه،که څه هم هرچاته ضروري ده، خو ښوونکو، څېړنکو، مبليغينو، خطيبانو، ويناوالو، خبريالانو او ليکوالانو ته خو ضروري ګڼل کېږي.

### هلالي او ژبپوهنه

ژبپوهنه هغه علم دئ، چي د هغې په وسيله د ژبي دا خلي ساختمان او جوړښت تر څېړني لاندي نيول کېږي. د ژبپوهني موضوع ژبه ده. ډاکتر هلالي د پښتو ژبي، ژبپوهني ته خورا غنيمت کار کړی دئ. ده هغه وخت د پښتو ژبي د ژبپوهني اړوند څېړني پيل کړي، چي په پښتو ژبه کي د ژبپوهني اړوند مواد خورا محدود وه. ښاغلي هلالي د پښتو ژبپوهني په مختلفو برخو کي څېړني او پلټني کړي دي، لکه: قاموس ليکنه، هلالي نه تنها د پښتو قاموس ليکني تر عنوان لاندي ځانګړی اثر لري، بلکي د قاموسونو او قاموس ليکني اړوند خورا ډېري مقالې هم لري.

همدارنګه هلالي د ژبپوهني د فونولوژۍ په ساحه کي په زړه پوري او د ارزښت وړ کار کړی دئ. د پښتو ژبي فونولوجۍ تر عنوان لاندي يو مستقل اثر لري. ددې ترڅنګ ده د ژبنۍ مسئلي، د ژبو مافولوژيک ويش، د پښتو ژبي د کلام اجزا، د کلمو معنوي سپړنه، د فلسفي اصطلاحاتو نومينالېزم او رياليزم، د فلسفي اصطلاحاتو قاموس، ژبنی سبک، نوی پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاموس، فرازیالوژي، سبکي علایم او داسي نوري.... مقالې د ژبپوهني اړوند کښلي دي، چي « موشت نمونه د خروار ده ».
هلالي د اړتیا پر بنسټ د ژبپوهني په برخه کي ځیني مقالې را ژباړلي هم دي، تر څو په پښتو ژبه کي د ژبپوهني په ساحه کي د موادو د کمبود تشه ډکه کړي او د دغو ژباړو پر بنیاد د راتلونکي نسل لیکوال په پښتو ژبه کي نوي پنځوني وکړي ( چي دا کار پخوانیو ملتونو هم کړی او تجربه سوی دئ. د عباسي خلیفه گانو خصوصاً هارون الرشید او نورو علم دوستو پاچاهانو په وخت کي، چي کوم کتابونه او آثار د یوناني او رومي ژبي څخه د دوو پېړیو په جریان کي را ژباړل سوي وه. کله چي په سلیبي جگړو کي د یونانیانو او رومیانو علمي آثار او کتابونه له منځه ولاړل. بیا چي یونانیانو و غوښتل هغه آثار بیرته خپلي ژبي ته ترجمه کړي، نو دوی دا کار د څلورو پېړیو په جریان کي وکړای سو. نو ددې څخه معلومه سوه، چي اسلامي علماوو د یونانیانو د کتابونو د ژباړي څخه په الهام سره هغومره نور اثار پنځولي وو).

هلالي صاحب په روسي ژبپوهنه کي هم ژوره مطالعه درلوده او د روسي ژبي څخه ئې ځیني داسي موضوعات د ژبپوهني په برخه کي خپلي مورنۍ ژبي پښتو ته را ژباړلي، چي په هغه وخت کي په اروپایي ژبپوهنه کي لاتر اوسه نه وه څېړل سوي.

هلالي صاحب د نوي ژبپوهني له آرونو او اُصولو سره پوره بلد و او څېړني ئې د نوي ژبپوهني د معیارونو پر بنیاد کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریمه برخه

## ژباړه

ژباړه د علم د عامېدلو او د فکر د خورېدلو یوه داسي وسیله ده، چي علم او پوهه نړۍ واله کوي، فکر او فن د انسانانو تر منځ شریکوي. د علامه رشاد په وینا ژباړه د مدنیتونو تر منځ د لېږد ـ رالېږد یوه اغېزناکه وسیله ده، چي ملتونه او وګړي په فکري او ذهني لحاظ سره تړي، تر ډېره ئې له خپلمنځي احساساتو څخه خبروي او له همدې لاري ځانته د پرمختګ دریځې پرانیزي، چي په پایله کي خپل کلتور، ژبه او نور بډایوي؛ نو په لنډ ډول ویلای سو، چي ژباړه د هر فرهنګ او ادب یا په ټولیز ډول د هري ژبي له پاره یوه داسي زینه ده، چي د راتلونکي له پاره د پرمخیون او پرمختیا ضمانت کوي.

حبیب الرحمن هاله په خپل اثر (اساسات ترجمه) کي وایي: ژباړه هغه هنر یا وړتیا ده، چي مانا او منځپانګه یعني ضروري پېغامونه، معلومات او پوهه پرې له یوې ژبي نه بلي ته اوړي. له یوې ژبي نه بلي ته د لیکلو آثارو یا خبرو داسي اړول، چي لوستونکي پرې پوه سي او ګټه ترې واخلي.

ژباړن له یوې ژبي نه بلي ژبي ته ناقل او شناند ته وایي. مرحوم دهخدا په خپله وییزېمه کي وایي: ژباړن هغه کس ته وایي، چي ژبه په بله ژبه واړوي.

ژباړه په اصطلاح کي د لومړۍ ژبي د کلمو له پاره د نژدې او دقیقو انډول موندلو ته وایي، خو چي د لیکوال ویندود (روش) او سیاق خوندي وي. ژباړه له یوې ژبي نه بلي ته د افکارو، غوښتنو، قوانینو، کیسو، هنرونو، پوهنو او نورو د لېږد وسیله او د ناهمژبو خلګو تر منځ فرهنګي تړښت او اړیکه ده.[٤]

### د ژباړي ارزښت

ژباړه د تاریخ په بهیر کي د پاملرني وړ ګرځېدلې او د اړېکوزلو (ارتباطي وسایلو) د سرلیک په توګه د وګړو د پاملرني وړ ګرځېدلې ده.

نن ورځ د ژباړي له ارزښت څخه سترګي نه سو پټولای، د ژباړي د اهمیت په اړه یوازي دومره وایو، که چېري ژباړه نه وای؛ نو له نورو ملتونو څخه به مو هیڅ ډول پوهه او معلومات نه درلودل؛ ځکه چي انسانان د یو او بل علم او فن ته اړتیا لري.

د یوې پرمختللي ژبي له ډېرو غوره ټکو څخه یو هم د هغې ژبي په لمن کي د ډېرو او هر اړخیزو آثارو شته والی دئ، چي له بېلا بېلو ژبو او سرچینو څخه ئې په بېلابېلو برخو (سیاسي، حقوقي، علمي، ادبي، فرهنګي او نورو) کي ژباړل سوي آثار ولري. په دې ډول به هم له یوې خوا د ژوند د بېلابېلو برخو او نړۍ والو مسلو په اړه معلومات ولري او هم به د همدغي ژبي د علم او پوهي خاوندانو ته د ډېرو مأخذونو درلودونکې وي.[٥]

---

[٣] ـ ستانکزی، رفیع الله، د ژباړي فن، مومند خپرندویه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۳. ل، م ۱.

[٤] ـ ښکلی، اجمل، د ژباړي اصول، مومند خپرندویه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۳. ل، م ۱ ـ ۲.

[٥] ـ ستانکزی، رفیع الله، د ژباړي فن، مومند خپرندویه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۳. ل، م ۱۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژباړې اړتیا

ارستو وايي چې انسان مقلد دئ. ماشوم له خپل شاوخوا ژبه، ناسته پاسته او نور ژوند زده کوي. دغسې ټولنې له يو بله زده کړه کوي او د دې علمي او فرهنگي زده کړي له پاره ژباړه ښه لار ده. د علمي او ادبي پرمختگ له پاره هم ژباړه اړينه ده.

ژباړه ژبه له علمي او ادبي پلوه بډايه کوي. بډايه ژبه هغه ده، چې پر هري علمي او ادبي موضوع په کې آثار وي او دا کار له ژباړو پرته ناشونی دئ. ژباړه لوستونکي د نورو ژبو له احتیاجه خلاصوي.[6]

لکه څنگه چې ژباړه يوه علمي، سياسي، ديني او کلتوري اړتيا ده؛ نو په کار ده، چې موږ هم د دې اړتيا په پام کې نيولو سره متې رابډ وهو. نن ورځ له ژباړې نه د ديني علمونو، فنونو، روانو چارو او په بېلابېلو ډگرونو کې گټه اخيستل کېږي.

له دې اسيته ويلای سو، چې ژباړه مو د ژوند، علم او پوهې په ډگر کښې ډېرې اړتياوې راپوره کوي او شا ته پاته ملتونه کولای سي، د ژباړې په مټ خپله ژبه غني کړي او هم د اوسنۍ نړۍ له ټکنالوژۍ څخه پوره پوره بلدتيا حاصله کړي.

## د ژباړې اصول

### ۱. د گټوري موضوع غوراوی

ژباړن چې ژباړه کوي، لومړی د موضوع له انتخاب سره مخامخېږي؛ نو موضوع دې ولولي او فکر دې پرې وکړي، چې زما ټولنې ته څه گټه رسوي که نه، دا دومره خواري ارزي که نه؟ هسې نه چې ژباړن داسې موضوع انتخاب کړي، چې د گټې پر ځای تاوان واړوي. ژباړن ته فکر په کار دئ، چې زه خو د ليکوال يا بلې ټولنې ته تبليغ نه کوم، د بلې ټولنې ناسم اغېز خو نه رانناسم؟ تر دې وروسته که ورته موضوع ښه ښکاره سوه او پوه سو، چې گټوره ده، نو بيا دې ئې ژباړې ته بډې راووهی.

### ۲. پر موضوع برلاسي ده

که دوه کسان په لومړۍ او دويمه ژبه کې يو شان وو، هغه کس به ژباړه کوی، چې په موضوع پوه وي. مثلاً دوه کسان دي او دواړه په دري او پښتو پوهېږي، يوه طب ويلی او بل ادبيات او ژباړه ادبي ژباړه ده؛ نو هغه سړی به ئې ژباړي، چې ادبيات ئې ويلي، ځکه دی په ادبي مسايلو تر ډاکټر ښه پوهېږي.

### ۳ـ پر خپله موخنه ژبه برلاسي

په ژبه کې پر خپله مورنۍ ژبه برلاسی ډېر مهم دئ؛ يعني له ژباړن سره بايد د خپلې ژبې د کلمو، ترکيبونو، اصطلاحاتو او متلونو ډېره زېرمه ورسره وي؛ همداسې د جملو له اجزاوو، ترتيب، ډولونو، مانيز بدلون او نورو باريکيو سره بشپړه اشنايي ولري. که دا نه وي، ژباړه به ئې گونگه، گډه وډه، بې مانا، بې اغېزې او بېخونده وي. له بلې خوا د دې موادو په نه پوهاوي سره ژباړن د بلې ژبې ناوړه اغېز خپلې ژبې ته ننباسي او خپله ژبه خرابوي.

---

[6] ـ ښکلی، اجمل، د ژباړې اصول، مومند خپرندويه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۳. ل، م ۳ـ ۴.

[7] ـ ستانکزی، رفيع الله، د ژباړې فن، مومند خپرندويه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۳. ل، م ۱۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۴- پر لومړۍ ژبه برلاسي

بله لومړۍ ژبه ده، چي ژباړن ته پرې ښه پوهاوی په کار دئ. پر لومړۍ ژبه – چي ژباړه ترې کوي – ژباړن ته دومره برلاسی په کار دئ، چي قاموس ته ډېر اړ نه سي. د کلمو زېرمه ئې ورسره وي او له ضمني ماناوو ئې خبر وي. د اصطلاحاتو او متلونو په وضعي ماناوو ئې پوه وي او د جملو له ترتيب او بدلون څخه ئې آګاهي ولري.

### ۵- د دواړو ژبو په توپير پوهېدل

د ښې ژباړي يوه لار دا ده، چي ژباړن دواړه ژبي سره پرتله کړي. په دې سره په ژبه کي د قومي احساساتو توپير او ورته والی هم جوتېږي.

مثلاً؛ يو قوم د بېلابېلو احساساتو د څرګندولو له پاره يو رنګه کلمې او جملې کاروي او بل قوم بل رنګه؛ نو د داسي کلمو او جملو کټ مټ ژباړه سمه نه ده. مثلاً؛ په پارسي کي وايي ''چشم بد دور'' د دې کټ مټ ژباړه ''بدي سترګي دي ليري'' ده؛ نو دا خو سمه نه ده. سمه ژباړه ئې ''له نظره مه سې'' ده.

### ٦- د امانت ساتنه

په ژباړه کي بله مهمه خبره د ليکوال د خبري سم او بشپړ را اړول دي، چي امانت ورته وايي. دا د ژباړن اخلاقي مسؤليت دئ، چي له ليکوال سره خيانت و نه کړي؛ چي څه ئې ويلي وي، بشپړ ئې را وژباړي.

که ژباړن د ليکوال په خبره کي ګوتي ووهي؛ نو لوستونکي پرې باور نه کوي او چي لوستوال پر يوه ژباړن بې باوره سول، بيا د هغه ژباړي نه لولي.

## د ژباړي ډولونه

### الف. د موضوع له پلوه

### ۱- علمي ژباړي

علمي ليکني زياتره په رسمي يا مستقيمه ژبه وي، په بله وينا، له سبکه خنثی وي. يعني (مړ) ته په کي مړ وايي، (له نړۍ ئې رحلت وکړ/ وفات سو، سترګي ئې پټي کړې/ مردار سو) نه وايي، ځکه پلوي په کي نه وي؛ بل دا چي د معلوماتو سم لېږد په کي مهم وي؛ نو ادبي سينګار يا ادبي ژبي او صنعتونو ته په کي اړتيا نه وي او چي دا اړتيا نه وي، نو ژباړن ته کار اسانېږي، د ژبي يا سبک له ژباړي خلاصېږي. يوازي او يوازي د موضوع ژباړه ئې پر غاړه وي، چي هغسي په مستقيمه ژبه به ئې راژباړي. مثلاً؛ يوه طبي يا ارواپوهيزه موضوع ده، چي د خبري روغ رسول په کي اړين دي، نو ژباړن دي خبره ادبي کوي نه؛ ځکه چي که ادبي ژبه ډېره غالبه سي او خبره تشبيهاتو او مبالغو ته ورسي، نو لوستونکی ئې پر رشتينولۍ شکمنېږي او موضوع ورسره ګونګېږي.٦

### ۲- ژورناليستي ژباړي

په ژورناليزم کي هم خبره سمه په کار ده، خو ژورناليزم نه ټول په علم کي راځي، نه ټول په ادب کي؛ د علم و هنر پر پوله پروت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خبر او رپوټ کې صراحت او لنډيز په کار دئ، نو ژبارن بايد خبره ګونګه او اوږده نه کړي، ځکه که دا خبره اوږده سي، له لوستونکي نه معنا او مفهوم غلطېږي. په دې ژباړه کې په لړو ټکو کي د مفهوم بيانول او وضاحت مهم دئ.

## ۳ـ ديني ژباړې

د دين په چاره کي مسلمانان، په تېره پښتانه ډېر اساس دي او د خدای ج د کلام او د پېغمبر (ص) په احاديثو کي خطا هم – چي د انسان خاصه ده ـ نه سي زغملی، ځکه خو علماوو د آيتونو او آحاديثو کلمه په کلمه ژباړې کړي دي، چي د خدای له قهره او د خلګو له شره بچ وي؛ خو دا ډول زياتره ژباړې بې خونده او بې مفهومه دي او د آيتونو او احاديثو خوند په دوهمه ژبه کي نه سي ساتللای. مثلاً: د لا اله الا الله ژباړه نېغ په نېغه په ((نسته لايق د عبادت، مګر صرف يو الله دئ)) کوي، چي په پښتو کي پرې سړی سم په آسانه نه پوهېږي؛ نو سمه ژباړه ئې کېدای سي (همدا يو الله د عبادت وړ دئ) او يا ښايي تر دې هم ښه جمله ورته پيدا سي.

پر ډېرو ديني ژباړو تور دئ، چي آيتونه او احاديث ئې ناسم ژباړلي او په خدای او پېغمبر پسي ئې دروغ ويلي. د کلام کنايي، رمزي، استعاري خواوي او د کلمو ضمني مانوي ئې نه دي څېړلي، بس کټ مټ ئې ژباړلي دي.

ديني زده کړې په مذهب کي پراخه مطالعه غواړي. که ته يوه فقهي مسئله راژباړې، نو تر شا به دي ئې آيت او حديث ته پام وي او له فقهي اصطلاحاتو سره به آشنا يې، ګنې سمه ژباړه به ئې و نه سې کړای.

## ۴ـ ادبي ژباړې

په ادبي ژباړه کي موضوع يا خبره او ژبه دواړه ژباړن ته ور تر غاړه وي. ژباړن به خبره هم سمه رسا رسوي او ادبي ژبه به هم کاروي.

ځيني پوهان وايي چي ادبي ژباړه آزاده وي او ژباړن په کښې خپل تخيل کارولای سي، لکه په پښتو کي د حميد بابا د (شاه و ګدا) او (نېرنګ عشق) ژباړې، چي موضوع د هلالي چغتايي او مولينا غنيمت ګنجاهي ده؛ خو شاعرانه ژبه، ترکيبونه، تشبيهات او نور د حميد بابا دي. ځيني پوهان بيا د موضوع ژباړه خو پرېږده، د ليکوال يا شاعر د سبک ژباړه هم اړينه بولی.

ادبي ژباړه پر منثوره او منظومه وېشو:

### الف. منثوره ژباړه

په منثوره ژباړه کي پر ليکوال باندي د وزن قيد نه وي؛ خو نورو ژبنيو نزاکتونو ته به پام کوي.

### ب. منظومه ژباړه

شعري ژباړه ډېره سخته ګڼل کېږي، ځکه په دې ډول ژباړو کي وزن، قيد، داخلي موسيقي، بديعي او بياني صنعتونو، شعري کلمو او نورو ټولو برخو ته به پام په کښې کېږي.

## ۵ـ ګړنۍ (شفاهي) ژباړې

شفاهي ژباړه هغې ژباړې ته ويل کېږي، چي يوازي په ګړنۍ توګه سر ته رسېږي، نه ليکنۍ.

په ټوليز ډول ګړنۍ (شفاهي) ژباړه له دوو برخو څخه جوړه سوې وي: د وينا ژباړه او د مرکې ژباړه.

د وينا ژباړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغي ژباړي ته ويل کېږي، چي يو ويناوال خپله وينا اوروي او يو بل کس ئې نورو اورېدونکو ته وينا د اورېدونکو په ژبه اړوي، چي دا ژباړه ډېر تکرار، تمرين او مهارت (تکړه توب) ته اړتيا لري او پر دريو اصلونو سرته رسېږي.

### الف. د ويناوال د ليکنو پر بنسټ ژباړه

په داسي حال کي چي د وينا بشپړ متن ليکلي وي، کولای سي آر متن له ويناوال څخه واخيستل سي او بيا تر ژباړي وروسته د وينا په وروستۍ برخه يا پای کي ولوستل سي.[۸]

### ب. بند پر بند ژباړه

بند پر بند (پاراگراف پر پاراگراف) ژباړه هغه ده، چي وينا کوونکی د خپلي وينا يو پاراگراف ولولي او ژباړن هغه وژباړي، چي دا حالت د وينا تر پايه دوام مومي.

### ج. هم مهاله ژباړه

دا ژباړه د ژباړي د ډولونو تر ټولو ستونزمن ډول دئ؛ ځکه ژباړن ته سوچ او يا قاموس د اړوني له پاره هيڅ وخت نه ورکول کېږي. د ويناوال وينا د د غوږۍ له لاري اوري او بې له ځنډه د هغې ژباړه کوي.

### ب. د ژبي له پلوه

### ۱ـ کلمه په کلمه ژباړه

له دې ډول ژباړي څخه په ديني برخو او ښوونيزو ځايو کي ډېره ګټه اخيستل کېږي. د دغه ژباړي يوازينۍ ګټه دا ده، چي د بلي ژبي د لغتونو د زده کړي له پاره مؤثره تمامېږي. نيمګړتياوي ئې دا دي، چي خپله ژبه د بلي ژبي تر تأثير لاندي راځي او بل د بلي ژبي د ځينو کلمو، اصطلاحاتو، تشبيهاتو، استعارو او کنايو له کبله مټ ژباړي څخه لوستونکی سهي مفهوم نه سي اخيستلای.

### ۲ـ جمله په جمله ژباړه

جمله په جمله ژباړه کي له ليکوال سره وفاداري خوندي ساتل کېږي. مفهوم سم انتقالېږي او موخنه ژبه د لومړنۍ ژبي تر تأثير لاندي نه راځي. په دې ډول ژباړه کي لومړی پر پوهېدا په کار ده، تر څو وروسته په دويمه ژبه کي ورته دقيقه، رنه او برابره جمله وکارول سي.[۹]

### ۳ـ آزاده ژباړه

په آزاده ژباړه کي ژباړن له يوه پراګرافه يا له ټولي ليګني مفهوم اخلي او بيا ئې ژباړي، چي له دې سره موضوع يا خبره د ليکوال، ژبه او سبک د ژباړن وي.

آزاده ژباړه له ليکوال سره جفا ده. ژباړن لومړۍ ژبي ته نه، بلکه موخني ژبي ته ژمن وي. په دې ژباړه کي ژباړن د زياتوب او کمي آزادي لري، خو مهمه خبره دا ده، چي د موضوع اصلي مطلب به له تحريم سره نه مخ کوي.

---

[۸] ښکلی. اجمل،(۱۳۹۳) د ژباړي اصول،مومند خپرندويه ټولنه جلال آباد

[۹] ښکلی، اجمل،(۱۳۹۳ل)، د ژباړي اصول،مومند خپرندويه،جلال آباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ـ د ژباړي ژباړه

د ژباړي ژباړه داسي وي، لکه له کاپي چي کاپي وباسې. ښه دا ده، چي ژباړن اصل متن پيدا کړي او و ئې ژباړي؛ ځکه که يو ژباړن ژباړه ژباړي، د ليکوال يا څېړونکي اصل نظر ته چنداني نه سي رسېدلای او کېدای سي، غلط ئې وړاندي کړي، چي دا بيا د ژباړن په اصولو کي له ليکوال سره خيانت دئ. دا هم شونې ده، چي لومړی ژباړن د ليکوال په فکر سم نه وي پوه سوی، غلط ئې وړاندي کړی وي يا ئې د ليکوال له فکر سره بشپړه همږغي نه وي او بدلون ئې په کي راوستی وي؛ نو بيا به بل ژباړن ته گرانه وي، چي اصل خبري ته ورسېږي.

## د دوکتور عبدالحکيم هلالي ژباړه

ژباړه ده چي کولای سي، يوه ژبه په علمي لحاظ له هره اړخه پياوړې، غني او لوستونکي ئې د نورو له احتياجه خلاص کړي. د نړۍ ډېري ژبي د ژباړي په مټ بډايي سوي او ملتونه ئې د همدې بډايو ژبو په برکت د پرمختگ لوړو مدارجو ته رسېدلي دي، چي ښه مثال ئې زموږ گاونډی هيواد ايران يادولای سو، چي له مختلفو نړۍ والو ژبو هر اړخيز علمي مواد خپلي ژبي ته ژباړي او خپل اولس ته ئې د نظري او عملي زده کړو له پاره په واک کي ورکوي. نتيجه ئې دا سوې، چي تر ډېره حده پوري د نورو له احتياجه خلاص سوي دي.

په افغانستان کي هم ژباړه اوږده مخينه لري او پښتو ته لومړنۍ ژباړه په دريمه هجري پېړۍ کي له عربي ژبي څخه ابو هاشم سرواني (۲۲۳ـ ۲۹۷. ه. ق) کړې، چي د خپل استاد ابن خلاد (۱۹۱ـ ۲۸۳/۲۸۲. ه. ق) يوه بولله ئې راژباړلې ده. تر دې وروسته په نورو مختلفو وختو او دورو کي له باندنيو ژبو څخه پښتو ته ژباړي سوي، خو هومره پام او توجه نه ده ورته سوې؛ لکه څنگه چي اړتيا ئې وه؛ ځکه د نړۍ او آن د سيمي له ژبو سره ئې په دې برخه کي پرتله نه سي کېدلای.

پښتو ژبي ته په ژباړو کي د نورو قدر وړ علمي څېرو په شان هلالي صاحب هم هغه څوک دئ، چي په خپلو هڅو ئې د باندنيو ژبو څخه د ژبپوهني اړوند مواد را ژباړلي دي. د خپل اولس په واک کي ئې ورکړي او د وخت په ورځپاڼو، مجلو او يا هم په کتابي شکل سره ئې په مسلسله توگه خپاره کړيدي. ژباړه ئې تر ډېره د ژباړي له اصولو سره برابره ښکاري او لوستونکي خورا ژر استفاده او فهم ځني اخيستلای سي.

د هلاليژباړه له کومو ژبو

هلالي صاحب له روسي او انگليسي څخه پښتو ژبي ته ژباړي کړي دي، خو زياتره ژباړي ئې له روسي ژبي څخه دي.

## د هلالي د ژباړي ژبه

د هلالي صاحب دژباړي ژبه دومره ساده، روانه، عام فهمه او د اولس له عامي محاورې سره برابره ده. چي اصلاً د ژباړي گومان نه پرکېږي اصطلاحات او ترکيبونه ئې تر ډېره خپل دي. پېچلي الفاظ او گونگ ترکيبونه نه کاروي او کله چي ئې لوستونکي لولي، د موضوع په فهم کي له ستونزو سره نه مخامخېږي.

## د هلالي د ژباړي کميت

د کميت په لحاظ که وگورو هلالي صاحب زياتي ژباړي نه ديکړې. تر ډېره ئې د ژبپوهني اړوندي ژباړي کړيدي. ټولي ژباړي ئې گټمني، باهدفه او د پښتو ژبپوهني د بډايني له پاره خورا غنيمت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هلالید ژباړې ځانګړنې

ځانګړنې ئې په لاندې ډول دي:

۱. ژباړې ئې دومره رواني، چې ان د ترجمې ګومان نه پر کېږي.

۲. اوږدې او ګونګې جملې نه استعمال وي، هره جمله ئې یوه مبدا او یو خبر لري.

۳. جملې ئې لنډې، ترکیبونه ئې خپل او ژباړه ئې خوږه ده.

۴. په لوستلو ئې څوک نه خسته کېږي.

۵. پېچلې کلمات او ګونګ حالت نه لري.

۶. په ژباړه کې ئې د لیکوال خیال ساتلی او له پوره صداقت څخه ئې کار اخیستی دئ.

۷. ژباړې ئې اکثره د ژبپوهنې په برخه کې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورمه برخه

## د پښتو ژبې د کلام اجزاء

ژبه د مفاهمې او تفکر د څرګندولو یو مغلق او پیچلی سیستم دئ. د پخوا راهیسې ژبپوهانو د څېړنو د اسانتیا په غرض ژبه پر دوو لویو ګروپونو ویشلې ده.[10]

لغوي پانګه او ګرامر: هغه علم چې د لغوي پانګې د مجردو کلمو بیل بیل اړخونه څېړي لغت پوهنه ورته وایې.

په ګرامر کې بیا د لغتونو هغه خصوصیتونه څېړل کیږي،چې په یوې خاصې کلیمې پورې اړه نه لري ، بلکې د لغتونو په یوه ګروپ پورې اړه لري.

ګرامر پر دوو لویو څانګو ویشل کیږي مارفولوژي او سینتاکس. مارفولوژي هم د څېړنې مختلف بحثونه لري،خو موږ به یوازې د پښتو ژبې د کلام پر اجزاوو وږغیږو.

د پښتو ژبې مارفولوژي یو له هغه مسالو څخه چې تر اوسه پورې په کافي ډول نه دي څېړل شوي، یوه هم د کلام د اجزاوو مساله ده.

کله چې یو څېړونکی د پښتو ژبې درسي یا تحقیقي ګرامري آثارو ته رجوع وکړي، او په یوه اثر کې هم داسې پرنسیپونه نه شي موندلای چې د هغوی پر اساس دې وکړای شي د پښتو ژبې د کلام اجزاء د ګرامري خصوصیتونو او ګرامري معناوو له پلوه پر کومو خاصو ګروپونو وویشي.

ددې علت به هم دا وي چې د پښتو ژبې د کلام اجزاء تر اوسه پورې په خاص ډول نه ده څېړل شوي، بلکه یوازې په ګرامرونو کې ئې د یوه بحث په حیث یادونه راغلې ده.

ددې د پاره چې د پښتو ژبې د کلام د اجزاوو د پیلولو په برخه کې کوم خاص پرنسیپونه ومومو او پر مشخصو ګروپونو ئې وویشو، نو مجبوره یو چې له یوې خوا د پښتو ژبې ګرامرونوته رجوع وکړو او ددې مسالې تاریخي سیر وڅېړو، او له بلې خوا پر داسې تیورتیکي پرنسیپونو اتکاء و کړو، د کومو په مرسته چې د کلام اجزاء پر بیلو بیلو ګروپونو ویشل کېدای شي.

د پښتو ژبې په ګرامري آثارو کې د کلام د اجزاء د ویش په برخه کې توافق نظر نه لیدل کیږي، د ځینو ګرامر لیکونکو په عقیده د پښتو د کلام اجزاء درې او د ځینو په عقیده شپږ او ځینو بیا لس ګڼلې دي.

په لنډ ډول به د هغو ګرامرونو یادونه وکړو، کوم چې په پښتو ټولنه کې موجود دي:

۱ـ پښتو ګرامر: ددې کتاب مؤلف هانري والټر بیلیو دئ، دا کتاب په انګلیسي ژبه لیکل سوی،چې اول ځل په (۱۸۶۷)م کال په لندن کې او دوهم ځل په (۱۹۰۱)م کال کې په لاهور کې خپور سوی دئ.

په دې کتاب کې مؤلف د کلام اجزا درې ګڼلې دي. مؤلف لیکلي،چې «د فارسي او عربي په شان د پښتو ژبې د کلام اجزاء درې دي،لکه (اسم، فعل، حرف) هانري والټر بیلیو په خپل کتاب کې د پښتو ژبې د کلام د اجزاوو د ویش په برخه کې هیڅ ډول توضیح نه ده ورکړې،چې پرکوم اساس دئ د کلام اجزاء درې ګڼي.

---

[10] زیری جریده ۱۳۵۲کال ۵۲ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲ـ پښتو گرامر:

ددې کتاب مؤلف کوکس او په ۱۹۱۱م کال کي په لندن کي خپور سوی دئ. ددې کتاب فارسي مترجم ارجنداس کپور دئ. ترجمه سوې قلمې نسخه ئې په پښتو ټولنه کي موجوده ده. د کتاب په اتم مخ کي ليکل سوي دي، چي «بقرار نظر به صرف دانان عربی و فارسی سه اجزاء گفتار موجود است که عبارت اند از اسم، فعل و حرف»، په دې کتاب کي هم دا يادونه نه ده سوي،چي د کومو خصوصيتونو او معناوو پر اساس او د کوم پرنسيپ په پيروی د پښتو د کلام اجزاء درې گڼل سوي دي.

### ۳ـ د پښتو پښويه:

دا گرامري اثر د پښتو ټولني له خوا په هغه وخت کي خپور سوی دی،چي پښتو ټولنه د(پښتو مرکه) په نامه يادېده. دا کتاب په فارسي ژبه ليکل سوی دئ. په دې کتاب کي هم د پښتو د کلام اجزاء درې گڼل سوي دي،لکه: اسم، فعل او حرف(د کتاب نهم مخ).

### ۴ـ د پښتو ژبي يو بل گرامر:

چي په اردو ژبه په پيښاور کي خپور سوی دی هم د کلام اجزاء درې بولي،لکه: اسم، فعل او حرف(د کتاب پنځلسم مخ).

ددې کتاب د چاپ نېټه نه ده ښوول سوي، خو مولفين ئې پروفيسر حافظ محمد ادريس ايم ـ ای او قاضي عبدالحليم دي.

### ۵ـ د پښتو ژبي ليار

(بلخ، ۱۳۱۷) ددې کتاب مؤلف محمدگل مومند دئ. دا کتاب په لاهور کي چاپ سوی او په بلخ کي خپور سوی دئ. په دې کتاب کي د پښتو ژبي د کلام اجزاء درې گڼل سوي، لکه اسم، فعل او حرف.

په دې پورتنيو درو کتابونو کي هم د هغو اصولو يادونه نه ده سوي د کومو پر اساس چي د پښتو ژبي د کلام اجزاء درې گڼل سوي دي.

**٦ـ د ډارمستېټر پښتو څېړنه**( کابل، ۱۳۲٦): که څه هم دا کتاب دپښتو ژبي د گرامر په برخه کي نه دی ليکل سوی، خو کله چي د مارفولوژي تر عنوان لاندي د کلام اجزاء مقايسه کوي، نو ددغو اجزاوو نومونه اخلي، لکه: اسم، صفت،د عدد اسم، ضمير، فعل، تغير نه منونکي کلمې يا ادات. چي په دې حساب د کلام اجزاء شپږ گڼل سوي دي.

**۷ـ پښتو گرامر:** دا کتاب په فارسي ژبه ليکل سوی او مؤلف ئې صديق الله «رشتين» دئ. دا کتاب په ۱۳۲۷ کي د پښتو ټولني له خوا خپور سوی دئ. په دې کتاب کي هم د ډار مستتر د پښتو څېړنو په شان د کلام اجزاء شپږ گڼل سوي دي،لکه: اسم، ضمير، صفت، فعل، قيود، ادات. خو دلته دا فرق موجود دی،چي د کلام د اجزاوو په بيلولو او ټاکلوکي(قيود) ور زيات سوي او (دعدد اسم) ورڅخه ايستل سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸ ـ د پښتو مفصل ګرامر:** ددې کتاب مؤلف محمد شيرګل دئ. دا کتاب تر اوسه نه دی چاپ سوی، خو قلمي نسخه يې،چې په ۱۳۳۸ کي ليکل سوي ده په پښتو ټولنه کي موجوده ده. د محمد شيرګل پښتو ګرامر د موادو له حيثه ډېر غني او ګټور اثر دئ. مؤلف په دې اثر کي د پښتو ژبي د ګرامر په څېړنه کي ډېر زيارګاللی دئ.[1]

خصوصاً دا اثر د هغو کسانو د پاره ډېر ارزښت لري،چې غواړي د پښتو ګرامر په برخه کي مفصله څېړنه وکړي. د همدې کتاب په ۲۶ مخ کي د کليمې تر تعريف وروسته د پښتو ژبي د کلام اجزاء په دې ډول ښوول سوي دي: اسم، ضمير، فعل، صفت، قيود، ادات.

**۹ـ ژب ښودنه(۱۳۴۷):** ددې کتاب مؤلف صديق الله رشتين دئ. په دې کتاب کي هم د کلام اجزاء شپږ ګڼل سوي دي، لکه: اسم، ضمير، صفت، فعل، قيد، ادات يا توري.

په دغو ګرامرونو کي،چې د کلام اجزاء شپو ګڼل سوي دي، هم کومه يادونه نسته چي ولي ئې شپږ بللي دي.

**۱۰ـ د پښتو ژبي لنډه ګرامري څېړنه:** ددې رسالي مؤلف دښفېيف دئ. دا رساله د پ. ب. زودين د روسي ـ پښتو ډکشنرۍ (۱۹٦۳) په پای کي خپره سوې ده.

په دې رساله کي د پښتو ژبي د کلام اجزاء لس ښوول سوې دي،لکه: اسم، صفت، د عدد اسم، ضمير،فعل،قيد، د ندا توری، مخنی او وروستنی(پريد لوګ او پوسلي لوګ)، ادات، د ربط توري.

## ګرامري کټګورۍ:

دمخه تر دې،چې د کلام د اجزاوو پر بيلو بيلو اړخونو و رغيږو لازمه ګڼل کيږي:چې ځيني هغه ګرامري مفاهيم تشريح کړو، کوم چې د کلام د اجزاوو د کتګوريو په توضيح کي زموږ مرسته کوي، لکه ګرامري کتګورۍ کلمه او د کلام اجزاء...
هر علم په خپل تکاملي جريان کي د يوې پېښي ٠ پديدي) د اصلي خصوصيتونو د ژوري څېړني او د هغي د سم تشخيص په غرض يو لړ اساسي مفاهيم او پرنسيپونه وضعه کوي. هغه اساسي علمي مفاهيم،چې د يوې پېښي(پديدي) يا کوم شي اصلي اړخونه څېړي او د تکامل قوانين ئې منعکس کوي د کتګوريو په نامه يادېږي. ځيني پوهان کتګوري د جهان او طبيعي پيښو د سمي پيژندني اصلي زينې ګڼي. ګرامر پوهني هغه وخت علمي ښه غوره کړه،چي د ژبي سترکچر د تکامل قوانين او د ګرامر اصلي مفاهيم او کتګورۍ ئې و سپړلي. اوس به د ګرامري کتګوريو د پېژندني د پاره يو مثال راوړو: کورونه، اوږی، ورونه، ملګری، سړی، ولاړل،څو،ښځي....

که چيري دغه پورتنۍ کليمې د لغت پوهنې له نظره و ګورو نو هره يوه بيله بيله لغوي معنا لري،چي د لغوي معنا وو ترمنځ ئې کوم ګډ ټکی نه سته. خو د ګرامر پوهنې له نظره دغه مختلفي کليمي يوه مشترکه خوا لري
۱ـ دا ټولي پورتنۍ کليمې د جمعي معنا افاده کوي.
۲ـ دا ټولي پورتنۍ کليمې د جمعي د معنا د افادې د پاره ځيني علامي لري(لکه، ونه، ـ ې، - ل، - و).
هغه معنا چي د پورتنيو کليمو ترمنځ مشترکه ده او جمعه افاده کوي د ګرامري معنا او کومي علامي،چي دغه معناوي څرګندوي د ګرامري علايمو په نامه يادېږي. په همدې اساس ويلای سوچې: د ګرامري معناوو او ګرامري علايمو دغه ډول

[1] زيری جريده ۱۳۵۳ل ۱ ګنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجرد ارتباط ته په گرامر پوهنه کي گرامري کتگوري ویل کېږي. گرامري کتگورۍ بیا پر دوو برخو ویشل کېږي ـ عمومي گرامري کتگورۍ او ځانگړي گرامري کتگورۍ. ځانگړي گرامري کتگورۍ هغه دي،چي دځانگړو گرامري معناوو په اساس ټاکل کېږي، لکه: د جمعي گرامري کتگورۍ (چي په پورتني مثال کي توضیح سوه) د جنس کتگوري، د حالت کتگوري...

عمومي گرامري کتگورۍ د عمومي گرامري معناوو په اساس ټاکل کېږي،لکه: د کلام د اجزاوو کتگورۍ،دجملې د اجزاوو کتگوري... دعمومي گرامري کتگورۍ د توضیح له پاره به یو مثال راوړو.

لرگی، آس ، کورونه، میزونه، ښځه، غواوې...

دغه پورتنۍ کلیمې سره له دې،چي د لغوي معناوو له پلوه کوم مشترک ټکی نه سره لري، د ځانگړي گرامري معناوو له پلوه هم ټولي په یوه گروپ کي نه شي راتلای.ځکه چي ځیني ئې د مفرد او ځیني ئې د جمعې معنا افاده کوي او ځیني ئې بیا د مونث او ځیني ئې د مذکر په معنا استعمالیږي. سربیره پردې ټولو اختلافونو،چي د پورتنیو کلیمو په ځانگړو گرامري معناوو کي لیدل کېږي، بیا هم د عمومي گرامري معناوو له پلوه ددې ټولو کلیمو ترمنځ یو مشترک معنوي ټکی لیدل کېږي او دا مشترک ټکی (اسمیت) دئ. د همدې (اسمیت) په اساس دغه ټولي پورتنۍ کلیمې په یوه گروپ کي را وړل کېدای سي. دغه گروپ ته په گرامر پوهنه کي د اسم کتگوري وایي. څرنگه چي دغه گرامري کتگوري د کلیمو د عمومي گرامري معناوو په اساس ټاکل کېږي نه د ځانگړو گرامري معناوو،نو ځکه ئې عمومي گرامري کتگورۍ بللای سو.

په همدې اساس د کلام د اجزاوو کتگورۍ عمومي گرامري کتگورۍ دي.

## کلیمه او د کلام اجزاء:

کلیمه او د کلام اجزاء د عبارت او مفاهیمو له نظره ډېر سره نږدې دي، نو اکثراً دغه دوه بېل مفهومونه سره گډېږي. کلیمې څو اړخیزه څېړل کېدای سي، چي د بېلو بېلو معنوي اړخونو د څېړني له پلوه پر خاصو گروپونو ویشل کېږي. که چیري کلیمې د معناوو د نږدې والي او لېري والي پر اساس و څېړل سي، نو د دغسي څېړني په نتیجه کي کلیمې د مترادفو او متضادو گروپونو پردوو ډلو ویشل کېږي.[۲] [۱]

که چیري د استعمال له پلوه وڅېړل سي، نو بیا لغوي پانگه د فعالې او غیر فعالې پانگې یا نوو او زړو کلیمو پر ډلو او گروپونو ویشل کېږي. په همدې اساس کلیمې دبېلو بېلو معنوي اړخونو له پلوه پرمختلفو گروپونو ویشل کېږي. خوکله چي د کلام د اجزاوو یادونه کېږي دلته زموږ مقصد په عمومي ډول د کلیمو بېل بېل ډولونه نه دي، بلکي د کلام د اجزاوو په بېلولو کي یوازي د کلیمو یو معنوي اړخ په نظر کي نیول کېږي، چي هغه د دغو کلیمو گرامري معناوي دي. یوازي د همدغو گرامري معناوو پر اساس د یوې ژبي کلیمې پرمختلفو گروپونو، لکه: اسم ، فعل، صفت او داسي نورو ویشل کېږي. که څه هم کلیمه او د کلام اجزاء په ژبه کي یو له بل سره نږدې ارتباط لري، خو د ژبنیو څېړنو په لړ کي د پرنسیپ له پلوه کلیمه او د کلام اجزاء دوه بېل مفهومونه دي. د کلیمې او د کلام د اجزاوو د توضیح له پاره به یو مثال راوړو: کور، کارونه، مځکه، ونې...

دغه پورتني شکلونه د لغوي معناوو له پلوه هره یوه مستقله کلیمه ده، چي د دوی ترمنځ کوم مشترک لغوي اړخ نه لیدل کېږي او د کلام په هر جز کي چي راشي بیا هم کلیمه ده او د کلیمې له مفهوم څخه وتلای نه سي. دغه پورتنۍ کلیمې د ځانگړو گرامري معناوو له پلوه هم توپیر سره لري: کور ـ مذکر، مفرد، کارونه ـ مذکر، جمعه، مځکه ـ مفرد یا ونې ـ مونث ، جمعه.

[۱] زیری جریده ۱۳۵۲ل کال ۲گڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیري و غواړو چي پورتنۍ کلیمې د کلام د اجزاوو د ګرامري کتګوریو له نظره وڅېړو او یوې ګرامري کتګورۍ ته ئې منسوبې کړو، نو په دې ډول څېړنه کي د پورتنیو کلیمو لغوي معناوي، مفرد والی او یا مونث توب زموږ سره مرسته نه سي کولای. د دغو خصوصیتونو پر اساس دغه پورتنۍ کلیمې کومي ګرامري کتګورۍ ته نه سو ور داخلولای، ځکه چي هره یوه مستقله کلیمه ده او د دوی ترمنځ کوم ګډ اړخ نه لیدل کېږي. دلته یوازي د دغو کلیمو عمومي ګرامري معنوي اړخ دی، چي دغه کلیمې د کلام و یوه جز ته منسوبوي.

دغه عمومي ګرامري معنا ته (شی والی) ویلای سو. د پورتني بحث څخه داسي لنډه نتیجه اخیستلای سو.

۱ـ کلیمه او د کلام جز د ژبنیو څېړنو د اصولو له مخه دوه بیل مفهومونه دي.

۲ـ کلیمه د کلام د جز په تناسب یو کلي مفهوم دئ.

۳ـ کلیمه هم د یوې ژبې د لغوي پانګي اساسي واحد دیئ او هم د ګرامري سټرکچر، مګر د کلام جز یوازي د ګرامري سټرکچر واحد ګڼل کېږي.

۴ـ د کلیمې په ټاکلو کي هم لغوي معنا برخه لري او هم ګرامري معنا، مګر د کلام جز یوازي د ګرامري معنا پر اساس ټاکل کېږي.

۵ـ د کلام جز نسبت کلیمې ته مجرد مفهوم دئ.

هغه کلیمې چي یو کیفیت څرګندوي په یوه ګروپ کي داخلیږي، چي موږ ورته د صفت ګروپ وایو.

کومه عمومي ګرامري معنا چي مختلف افعال په یوه ګروپ کي راولي او موږ ئې د فعل د ګرامري ګروپ په نامه پېژنو هغې معنا ته (عمل) ویلای سو. د دغو درو پورتنیو ګروپونو په بېلولو کي موږ یوازي درې عمومي خصوصیتونه (شی توب،کیفیت، عمل) ذکر کړل، چي د اسم، صفت او فعل د بېلولو په برخه کي اساسي رول لري. خو دکلام د اجزاوو د بېلولو په برخه کي یوازي پر دغو درو خصوصیتونو اتکاء کول څه مشکلات پیدا کوي، چي ښه مثال ئې په پښتو ژبه کي د قید ګروپ دئ. قید هم په پښتو ژبه کي یو کیفیت څرګندوي. په دې اساس مجبوره کېږو، چي د کلام د اجزاوو په بېلولو کي سربېره پرعمومي خصوصیتونو د کلیمو ځانګړو ګرامري خصوصیتونو ته هم مراجعه وکړو. د کلام اجزاوو په ګروپونو کي د ننه ورې ګرامري کتګورۍ سته، چي هغه د ګرامري ګروپونو او د کلام د اجزاوو په بېلولو کي مرسته کوي، مثلاً د اسم د عمومي کتګورۍ د سم تشخیص د پاره ځیني ورې ګرامري کتګورۍ شته، چي د اسم د ګروپ په ټاکلو کي پوره مرسته کوي، لکه: د جنس کتګوري، د عدد کتګوري او د حالت کتګوري.

## د اسم ( نوم ) کتګوري

د اکاډیمیکولو بهیر به د تیوریتیکي لارښونو په پیروۍ او د پښتو ژبې د کلام د اجزاوو د عمومي ګرامري معناوو، مارفولوژیکي خصوصیتونو او نحوي مشخصاتو پر اساس ویلای سو، چي د پښتو ژبې د کلام اجزاء پردوو لویو ډلو ویشل کېدای سي: [3] [1]

۱ـ د اصلي کلیمو ګروپ(کتګورۍ).

۲ـ د کومکي تورو یا کومکي کلیمو ګروپ(کتګوري).

[1] زیری جریده ۱۳۵۳ل کال ۱۱ ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلام اجزاء وي په عمومي ډول ځکه پر دوو لويو کتگوريو ويشل کېږي،چي ١ـ لومړۍ کتگوري مستقلي معناوي لري او دوهمه کتگوري يوازي د لومړۍ کتگورۍ د غړو ترمنځ روابط څرگندوي.٢ـ د لومړۍ کتگورۍ اجزاء په خپله کليمو او د کليمو ترکيبونوته وسعت ورکولای سي ( زه کتاب لولم، مور کورته ځو) مگر د دوهمي کتگورۍ اجزاء (د، له، څخه...) په خپله په ځانگړي توگه کليمې او ترکيبونه نه سي خپرولای (اکاډيميک شېربه).

د پښتو ژبي دکلام د اجزاوو دغه دوه لوی گروپونه هر يو په خپل منځ کي پر نورو کتگوريو ويشل کېږي.

د خپلو څېړنو په لړ کي به اول د اصلي کليمو د گروپ پر کتگوريو وړغيږو او وروسته به پر کومکي تورو يا کومکي کليمو باندي بحث وکړو. د اصلي کليمو د گروپ له ډلي څخه به اوس د اسم پر کتگورۍ وړغېږو او توپيرونه به ئې د کلام د اجزاوو د نورو کتگوريو څخه وښيو.

هغه کليمه،چي د يوه شي يا کوم کيفيت او حالت او يا کوم عمل د نوموني وظيفه اجرا کوي او په دغو ټولو حالتونو کي د (شي والي) يا (شي توب) معنا خوندي ساتي د اسم په کتگورۍ کي داخليږي. اسم په پښتو کي مختلف ډولونه لري:

خاص اسم(کندهار، ميرويس نيکه، زابل...)

عام اسم(سړی، لرگی، ونه، غوښنه...)

د ډلي اسم(لښکر، رمه، ټولۍ اولس...)

مجرد اسم (پوهه، بيره، ژړا...)

غيرمجرد(مشخص) اسم (کور، مېز، چوکۍ...)

بسيط اسم(کور، اور، لار...)

مرکب اسم(تربور، ترله، تروزوی...)

د جنس اسم(اوبه، غوړي، غنم...)

د اسم دغه مختلف ډولونه ټول د اسم په کتگورۍ کي راځي او ټول ډولونه د (شي توب) عمومي گرامري معنا خوندي ساتي او د نوموني وظيفه اجرا کوي. سربيره پر دې هغه مشخصات،چي د اسم کټگوري د کلام د يوه جز په حيث د پښتو ژبي د کلام د نورو اجزاوو څخه بېلوي په دې ډول دي:

١ـ د جنس کټگوري: د جنس کټگوري د اسم په مارفولوژيکي سټرکچر او پېژندنه کي ستر رول لري.

اسم په پښتو ژبه کي د جنس له پلوه پردوو ډلو ويشل کېږي مذکر او مونث.

دغه دوې ډلې سربېره پر گرامري معناوو په پای کي خاصي گرامري علامي هم لري:

## د مذکر اسم علامي:

١.ی(ay) ـ لرگی، نمسی، ختکی...

٢.و(u) ـ تارو، چاکو، باڼو...

٣. زورکی(a) ـ زړه، نيکه، وراره، لېوه...

٤.و(aw) ـ کنډو، پلو، لو...

٥. هغه نومونه،چي په آخرکي ئې اصلي توري راغلي وي(کور، مېز،چرگ..

٦. هغه کلمې،چي په پای کي ئې ساکنه(ی) اوله (ی) نه د مخه ئې معروف واو (u) او يا (الف) وي (لکه: سوی، لوی، ځای، پای...).

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره پر دغه علامو ځيني نوري ګرامري علامي هم سته،چي د مذکرو نومونو په پای کي راځي او د استثنايي حالاتو په نامه يادېږي، لکه: ماما، کاکا، بوډا، موچي، دوبي...

## د مونث اسم علامي:

۱ـ ه(a) ـ کښته، ښځه، کوټه...

۲. ی(əy)ـ ځپلی، ډوډی، هګی، لمسی...

۳. الف(ã) خندا، ژړا، ښوروا...

۴. و(o) بيزو، زانګو، پيشو...

۵. ي (i) دوستي، خپلوي، بياتي...

٦ـ ې(e) ناوې، ملګرې، خوابنې...

په دې ډله کي هم ځيني داسي مونث نومونه سته،چي د ګرامري علايمو له پلوه د پورتنيو قاعدو سره اړخ نه لګوي، لکه

۱ـ ځيني ساکښ نومونه،چي د تانيث ګرامري علامه نه لري خو د جنس په لحاظ مونث نومونه دي، مور،خور،نږور،ترور...

۲ـ لمن، ستن، ميچن، ږمنځ، ورځ، مياشت، لار، غښږ... دغه نومونه په ځينو لهجو کي داسي ويل کېږي،چي د تانيث څرګنده ګرامري علامه لري، لکه لمنه ، په ځينو ژبو (لکه روسي) کي د کلام اجزاء سربېره پردې،چي د ګرامري معناوو له پلوه توپير سره لري، د کلام هرجز خاصي ګرامري علامې هم لري،چي د کلام د نورو اجزاوو څخه فرق لري.

مګر په پښتو ژبه کي دغسي عمومي ګرامري علامي هم لري،چي هغه دي د کلام د اجزاوو په بېلولوکي زموږ سره مرسته وکړي نسته. همدغه علت دی، چي د پښتو ژبي د کلام د اجزاوو مسئله پيچلې غوندي ده. په پښتو ژبه کي چرګ، مېز (اسم) ، خوږ، تريخ (صفت)، پرون، نن،اوس (قيد)، ځم، کتل، ګورم (فعل) د ګرامري معناوو له پلوه د کلام د اجزاوو په بېلو بېلو کټګوريو پوري اړه لري. د پای د ګرامري علامو په لحاظ هيڅ فرق نه سره لري؛ځکه ټولي کليمې په اصلي تورو ختميږي. دغه کليمې يوه هم داسي ګرامري علامه نه لري،چي هغه دي د کلام د کوم جز يا کټګورۍ نمايندګي وکړای سي.

## د اسم د عدد کټګوري:

بل خصوصيت، چي اسم د کلام د يوه جز په حيث د کلام د نورو اجزاوو څخه بېلوي د اسم د عدد کټګوري ده. د عدد کټګوري د اسم د کميت او شمېر له پلوه په پښتو ژبه کي دوه عدده لري مفرد او جمعه. د اسم د عدد (مفرد او جمعه) کټګوري سربېره پر ګرامري معناوو په پای کي ګرامري علامي هم لري،چي دغه ګرامري معناوي څرګندوي لکه:[٤]

## د مفرد اسم علامي:

۱ـ ی (ay) ـ ستوری، لرګی، لوښی...

۲ـ و (u) تارو، تالو، باڼو...

۳ـ ه (ə) ـ زړه، نيکه، وراره...

۴ـ و(aw) ـ لو، پلو، کنډو...

۵ـ وی(uy) ـ سوی، زوی، خوی...

٦ـ اصلي توري ـ کور، مېز، ورور، خور، مور...

[١] زيری جريده ۱۳۵۳ل کال ۲۲ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ـ آی (ay) ځای، پای ...

۸ـ آ (a) ـ ماما، کاکا، بوډا، ښوروا، خندا، ژړا ...

۹ـ ه (a) لښته، ښځه، کوټه ...

۱۰ـ ې(e) هوسې، چوکې، ناوې ،خواښې، لمسې...

۱۱ـ و(o) ـ بیزو، پیشو، زانګو...

۱۲ـ ي (i) دوستي،خپلوي، بیاتي، موچي، دوبي...

## د اسم د جمعي علامې:

۱ـ ي (i ) ـ ستوري، لرګي، لوښي...

۲ـ ګان ـ تاروګان، تالوګان، بوډاګان، نیکه ګان...

۳ـ آن ـ سویان، مېږیان، اوښان، چرګان...

۴ـ ونه ـ کورونه، زړونه، ځایونه، لوونه...

۵ـ یان ـ ملایان، میرزایان، قلمان، معلمان...

٦ـ ه (ə) غله، خره ...

۷ـ وي ـ غواوي، ښورواوي، ژړاوي...

۸ـ آني ـ لمسیاني، خواښیاني، ناویاني...

۹ـ ي ـ لښتي، ښځي، ورځي، لمني...

۱۰ـ ۍ (əy) هوسۍ، هګۍ، چوکۍ، خولۍ...

۱۱ـ ې (e) شپې، تانې، کوټې(هغه مونثي کلیمې،چي په (a) ختمیږي او خج ئې هم په پای کي وي جمعه ئې په ې (e) سره راځي).

۱۲ـ ګاني ـ بیزوګاني، پیشوګاني...

۱۳ـ ي (i,e) خوندي، نږندي، ترندي، مندي...

۱۴ـ زوی ـ زامن ...

۱۵ـ د (a) بدلون په (ə) سره ختګر، بزرګر...

۱٦ـ په پښتو ژبه کي ځیني داسي نومونه سته،چي یوازي د جمعي په شکل استعمالیږي او د اسم د عدد په کټګورۍ کي نه راځي، لکه: اوبه، غنم، غوړي...

د پورتنیو څېړنو څخه دې نتیجې ته رسیږو،چي اسم د کلام د نورو اجزاوو سره دا توپیر لري، چي اسم د عدد کټګوري لري. د کلام نور اجزا شمېر او عدد نه څرګندوي.

## د حالت کټکوري:

یو بل خصوصیت،چي اسم د کلام د یوه جز په حیث د کلام د نورو اجزاوو څخه بېلوي، هغه د اسم د حالت کتګوري ده. د حالتونو شمېر د نومونو د هغو ګرامري اوښتنو پر اساس ټاکل کېږي،چي نومونه ئې په ترکیبونو کي غوره کوي. څرنګه،چي ژبې د ګرامري جوړښت او نحوي ترکیب له پلوه توپیر سره لري، نو د نومونو د حالتونو شمېر ئې هم متفاوت وي. په ترکیب کي د نومونو دغه ګرامري تغیرات د ځینو عواملو(لکه، زمان، مکان، بلنه، علت،غایه او هدف...) پر اساس منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت سربېره پردې،چي اسم د نورو کلمو سره تړي، هغه روابط هم څرګندوي،چي په واقعي ډول د اسم او ترکيب د نورو اجزاوو ترمنځ سته. کله چي[1]اسم خپلواکه بڼه ولري او په ترکيب کي داسي عامل نه وي،چي هغه دي د اسم د بدلون سبب سي، نو د اسم دغسي حالت ته اصلي حالت وائي. او که چيري په کوم ژبني ترکيب کي اسم د کوم عامل پر اساس بدلون مومندلي وي، نو دغه اوښتي شکل ته ئې غير اصلي(اوښتی) حالت وايي.

په عمومي ډول اسم په پښتو کي هم اصلي حالت لري او هم اوښتی:

| اصلي حالت | اوښتی حالت |
| --- | --- |
| ځلمی خط ليکي | ځلمي خط وليکه |
| ځلمی له کوره راغی | دځلمي پلار له کوره راغی |
| ځلمی ولاړ | ځلمي ته مې وويل |
| ځلمی ځي | ځلميه! چيري ځې؟ |
| هلکان راغلل | هلکانو ته مي وويل. |
| ښځه کورته ولاړه | ښځې خط وليکه. |
| ښځې | ښځو |
| مڼې | مڼو... |

په پښتو ژبه کي تر اوسه پوري د اسم د حالتونو په برخه کي کومه داسي څېړنه نه ده سوې،چي د هغي په استناد دې په پښتو ژبه کي د اسم د حالتونو شمېر وټاکل سي.

کومې څېړني،چي په دې برخه کي سوي دي پوره نيمګړتياوي لري.

د ښغېيف په عقيده اسم په پښتو کي دوه حالته لري،چي يو ئې اصلي حالت او بل ئې اوښتی حالت دی،لکه:

| اصلي حالت | اوښتی حالت |
| --- | --- |
| هلک | هلک |
| شپون | شپانه |
| سړی | سړي |

مګر وينو،چي د پښتو ژبي نومونه يوازي دوه حالته نه لري، بلکي کېدای سي،چي تر دوو زيات وي.

په پورتني مثال کي د (هلک) اصلي او غير اصلي حالت په يوه بڼه راغلي دي. مګر په پښتو ژبه کي (هلک) هم يوه اصلي حالت لري (لکه هلک) او هم اوښتی حالت لري. کله،چي (هلک) په ندايې کي وي.

کله چي موږ د اسم حالتونه پر اصلي او اوښتي حالتونو ويشو ددې معنا داده،چي دغه دوه ګروپونه هر يو ئې خاصي ګرامري علامي او خاصي معناوي لري،چي دغه خاصي معنا وي په ترکيبونو کي د کلام د اجزاوو د يوځای کيدو په ترڅ کي لاس ته راځي.

د اسم اصلي او اوښتي شکلو ته ځکه د اسم د حالت کتګوري وايو،چي هرګروپ ئې ځان ته خاصي ګرامري علامي او خاص معنوي اړخونه لري مثلاً:

ځلمی خط ليکي ـ ځلمي خط وليکه.

[1] زيری جريده ۱۳۵۳ل کال ۲۴ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغو دواړو جملو کي (ځلمی) په فاعلي حالت کښې راغلی دی،خو په لومړۍ جمله کي اصلي حالت او په دوهمه جمله کي اوښتی حالت لري. سره له دي،چي (ځلمی) په دواړو جملو کي د فاعل په حيث راغلی نو بيا ولي په لومړۍ جمله کي په اصلي بڼه او په دوهمه جمله کي په اوښتي بڼه ليدل کيږي؟

يوازنی عامل،چي دغه دوې جملې د معناوو له پلوه سره بېلوي او اسم (ځلمي) ته دوې لفظي (ځلمی ـ ځلمي) بڼې ورکوي زمانه ده.

په لومړۍ جمله کي حال زمانه ده او په دوهمه جمله کي تېره زمانه ده. له دې ټولو خبرو څخه داسي نتيجه لاس ته راځي،چي د اسم د حالت کتګوري يوه کتګوري ده، چي ددوو خصوصيتونو (لفظي او معنوي) له مخه ټاکل کېږي،خو ځرنګه چي په (ژب ښودنه) کي د اسم د حالت کتګوريکي خصوصيتونه په نظرکي نه دي نيول سوي،نو ځکه دغسي يوه اشتباه پېښه سوي ده،چي د يوې کتګورۍ دوه خصوصيتونه،چي اصلاً جلا جلا نه سي مطالعه کېدای د دوو مستقلو ډولونو (لفظي او معنوي حالتونو) ترعنوان لاندي راوړل سوي دي. د نوموړي کتاب په (۱۷) مخ کي د اسم د حالتونو ترعنوان لاندي د نوم معنوي حالتونه ـ فاعلي حالت، مفعولي حالت، ندايې حالت او ارتباطي حالت ښوول سوی دئ. مګر په (۱۸) مخ کي د نوم د لفظي حالتونو ترعنوان لاندي بيا هم د مثالونو د راوړلو له پاره فاعلي حالت، مفعولي حالت، ندايې حالت او اصلي حالت ته رجوع کيږي. ددې اصلي علت دادی،چي د اسم د حالت دغه دوه اړخه د حالت د کتګورۍ د تشخيص په غرض په جلا ډول کوم مفهوم نه سي افاده کولای.

په دې برخه کي زموږ اصلي هدف داو چي هغه خصوصيتونه وښيو،چي اسم د کلام د يوه خبر په حيث د کلام د نورو اجزاوو څخه بيلوي او يو له دغو خصوصيتونو څخه د اسم د حالت کتګوري ده. داچي اسم په پښتو ژبه کي څو حالتونه لري مفصله څېړنه او مستقله رساله غواړي،چي د پښتو ژبې پر کافي موادو بنا وي. د حالتونو د شمېر د ټاکلو په برخه کي بايد ټول هغه عوامل وڅېړل سي،چي د اسم د حالت په بدلون کي رول لري.

وروسته له يوې دغسي څېړني څخه د اسم د حالت شمېر په واقعي ډول ټاکل کېدای سي،چي اوس د اسم د حالت دغسي مفصله څېړنه زموږ له موضوع څخه وتلې ده.

**صفت**

تر اوسه پوري،چي کوم ګرامري آثار ليکل سوي او زموږ لاس ته راغلي دي داسي ګرامري اثر نسته،چي په هغه کي دې د صفت هغه اساسي خصوصيتونه ښوول سوي وي،چي صفت د کلام د يوه جز په حيث د کلام د نورو اجزاوو څخه بېلوي.[1]

او که چيري په کوم ګرامري اثر کي د صفت د ځينو خصوصيتونو يادونه سوي هم وي. هغه هم ډېري نيمګړتيا وي لري. هر ګرامري اثر،چي را واخلو او د کلام د اجزاوو بحثونه وګورو وينو،چي اول د کلام د يوه جز تعريف او بيا ئې ډولونه د ځينو مثالونو سره راوړل سوي دي، بې له دې،چي عمومي ګرامري مشخصات ئې و څېړل سي. او دغه سبب دی،چي د پښتو ژبې په عنعنوي ګرامرونوکي اکثراً د کلام د يوه جز تر عنوان لاندي د مثالونو په برخه کي د کلام مختلف اجزاء راغلي دي د مثال په ډول په همدې ګرامرونو کي ترکانې، اندېوالي، روغتيا،پښتونواله، مينتوب ...

[1] زيری جريده ۱۳۵۳ل کال ۲۵ ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجرد وصف تر عنوان لاندي راغلي وي، ښايې،چي ليکونکي به ئې کوم دلايل درلودل،چي دغو نومونو ته ئې مجرد وصف ويلي دي. خو ليکونکي د خپل نظر د اثبات له پاره کوم دلايل نه دي وړاندي کړي،چي لوستونکی پرې قانع سوي وای.

ددې دپاره،چي صفت د کلام د نورو اجزاوو څخه بيل کړو او د صفت بېل بېل ډولونه په يوه عمومي گروپ کي راولو، د څېړني اصول دا ايجاب وي،چي هغه عمومي کتگوريکي خصوصيتونه وڅېړو،چي د صفت د کلام د نورو ټولو اجزاوو څخه بېلوي. که څه هم د پښتو ژبي د کلام د اجزاوو سرحدونه متحرک دي او کله کله يوه کلمه هم د صفت او هم د اسم او يا قيد په شکل استعماليږي، خو بيا هم ځيني عمومي کتگوريکي مشخصات سته،چي صفت د کلام د يوه جز په حيث د نورو اجزاوو په څخه بېلوي او هغه مشخصات په دې ډول دي:

## د جنس کتگوري:

څرنگه چي په پښتو ژبه صفت د اسم تابع او د اسم سره راځي، نو که اسم مذکر وي صفت ئې هم مذکر او که اسم مونث وي صفت ئې هم د مونث بڼه غوره کوي، چي په دې اساس صفت د جنس له پلوه پردوو گروپونو ويشل کېږي مذکر او مونث، لکه:

| | |
|---|---|
| خوږختکي | خوږه هندوانه |
| وچ لرگی | وچه ونه |
| سپين کميس | سپينه لمن |
| تورکوټ | توره کورتی |
| وړی سړی | وړې ښځه |

## د عدد کتگوري:

په پښتو ژبه کي صفت د عدد تابع دئ. که اسم مفرد وي صفت به ئې د مفرد په بڼه او که اسم جمعه وي نو صفت به ئې هم د جمعې بڼه غوره کوي،لکه:

| | |
|---|---|
| خوږختکی | خواږه ختکي |
| وړی سړی | وړي خلک |
| زوړ کميس | زاړه کميسان |
| وچه ونه | وچې ونې |
| اومه مڼه | اومې مڼې |
| سپينه کوتره | سپينې کوتري |

## د حالت کتگوري:

يو بل خصوصيت،چي صفت د کلام د يوه جز په حيث د کلام د نورو اجزاوو څخه بېلوي د حالت کتگوري ده. د صفت د حالتونو شمېر د نومونو د هغو گرامري اوښتنو پر اساس ټاکل کېږي،چي نومونه ئې په ترکيبونو کي غوره کوي. څرنگه،چي اسم په پښتو ژبه کي هم اصلي حالت لري او هم غير اصلي حالت نو صفتونه هم دغه حالتونه غوره کوي،لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| پوه لیکوال | د پوهولیکوالو... |
| خوږختکی | د خواږه ختکي... |
| اومې منې | د اومو منو... |
| زړې کورتۍ | د زړو کورتیو... |

تر دې ځایه پورې د صفت عمومي کتګوریکي خصوصیتونه وښوول سول. مګر صفت د جنس او عدد د کتګوریکي خصوصیتونو له پلوه ډېر استثنایي حالتونه لري،چي یادونه ئې ضروري ښکاري:

۱ـ مخکي مو وویل،چي صفت د عدد تابع دئ. خو ډېر داسي صفتونه سته،چي دغه کتګوریکي خاصیت ترپایه پوري نه سي ساتلای. په پښتو ژبه کي سپین، تور، بد، تېره، بیده، ښه، لوړ، جګ، ټیټ، ارت، تنګ، ژوبل، پوه، سپک، وچ د مونث اسم سره راسي د عدد تابع دی، یعني که مونث اسم مفرد وي دغه صفتونه د مفرد او که مونث اسم جمعه وي دغه صفتونه د جمعې بڼه غوره کوي؛مګر که اسم مذکر وي نو دغه صفتونه د مفرد او جمعې د پاره ئې په یوه بڼه راځي او د عدد د بدلون په نتیجه کي بدلون نه مومي(کله ژوبل زړه ـ ژوبل زړونه، لوړ غرـ لوړ غر، تنګ لښتی ـ تنګ لښتی...)

۲ـ په پښتو ژبه کي ځیني صفتونه سته،چي د جنس تابع نه دي، لکه: ټیپي، ښایسته، آبي...(خو دغه ډول صفتونه لږ دي) چي د مونث او مذکر له پاره په دغه یوه بڼه استعمالیږي. همدارنګه ځیني عربي کلمې لکه اقتصادي، اجتماعي، فلسفي، سیاسي...چي پښتو ژبي ته راغلي او په پښتو ژبه کي د صفت په شکل استعمالیږي د جنس تابع نه دي او د حالت له پلوه هم نه لېدونکي دي.

۳ـ په پښتو ژبه کي ځیني کلمې سته،چي کله کله د صفت او کله کله د قید وظیفه اجرا کوي،لکه: ښه، ورو،ښایسته...

۴ـ ځیني کلمې په ترکیبونوکي د صفت او کله کله د اسم وظیفه اجرا کوي، لکه: مشر، ړوند، سپور، لوی، زوړ او داسي نور...

د پورتنیو څېړنو څخه دې نتیجې ته رسیږو چي: صفت هغه کلمه ده،چي د یو اسم کیفیت او څرنګوالی څرګندوي او په عمومي ډول د جنس، عدد او حالت له پلوه د اسم تابع وي.

## قید

قید په پښتو ژبه کي د کلام هغه جز دی،چي د یوه عمل حالت او وضعیت او د صفت خصوصیت او درجه څرګندوي. قید په پښتو ژبه کي بېل بېل ډولونه لري، لکه: پرون (ولاړم)، نن (راغلم)، سبا(ځم)، دلته (کښېنه)، ناڅاپه، نابېره، ورو، ورو ، ژر ژر، لیري، نږدې، په څېر، په شان،خورا، چیري،هلته،لکه، پخوا، داسي، دغسي، ښخي، ګوندي، ښایي ... ۷

دغه پورتنۍ کلیمې ځکه د کلام د یوه جز غړی ګڼل کېږي،چي د کلام د نورو اصلي اجزاوو څخه دا توپیر لري،چي دغه ګروپ کلمې ځانګړې ګرامري کتګوري نه لري. دغه ګروپ کلمې،چي قید ورته وایو د مارفولوژي له نظره نه بدلېدونکی ګروپ دی، نه بدلېدونکی په دې معنا،چي قید ۱ـ د جنس تابع نه وي، ۲ـ د عدد تابع نه وي، ۳ـ د حالت تابع نه وي. د نحوي اومعنا له پلوه د قید توپیر هغه وخت ښه څرګندیږي،چي د کلام د نورو اصلي اجزاوو سره پرتله سي. سره له دې،چي قید او صفت په معنا کي سره نږدې دي او ځیني ژبپوهان صفت د قید یو شکل بولي؛ خو بیا هم د نحوي او عمومي معنا له پلوه د قید او صفت توپیر دادئ،چي ۱ـ قید د فعل، صفت او قید سره استعمالیږي، ۲ـ صفت د اسم سره استعمالیږي(د زیري په تېرو ګڼو کي د صفت بحث راغلی دی) او د اسم کیفیت او خصوصیت څرګندوي، ۳ـ کله،چي قید د فعل، صفت او قید سره راسي،

[1] زیری جریده ۱۳۵۳ل کال ۴۵ ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د فعل حالت او وضعیت څرګندوي او معنایې مشخصه کوي، لکه: پرون ولاړم، نن راغلم د صفت درجه ښیې، لکه: خورا خوږ ختیکی...

د قید سره د تاکید وظیفه اجرا کوي، لکه: نن بیخي ناروغه یم... ۴ـ کله چي صفت د یوه اسم سره راشي،نو د اسم په معنا کي یا څه شی زیاتوي او یایې ځیني کموي،لکه لکه پوه سړی، خوندور ختیکی ـ ناپوهه سړی، بی خونده ختیکی...

**فعل**

**مصدر:**

د پښتو ژبي په ګرامرونو کي تر اوسه دې ته پوره پاملرنه نه ده سوې، چي مصدري د کلام د یوه خبر په حیث وڅېړل سي. په اکثرو ګرامرونو کي یې یوازي یادونه راغلي ده. مګر په دې برخه کي، چي مصدر د کلام یو مستقل خبر دی او که په نورو اجزاوو کي داخل دي، کومه څېړنه نه ده سوې. په همدې اساس په پښتو ژبه کي د مصدر معنوي او ګرامري خصوصیتونه د یوې کتګورۍ په حیث تت او ناڅرګند ښکاري. کله،چي مصدر او فعل سره مقایسه سي د یوې خوا ځیني شباهتونه پکښې لیدل کېږي او له بلې خوا بیا پوره توپیرونه هم سره لري. په پښتو ژبه کي کله کله ددې د پاره کوښښ شوی دی،چي دفعلي شکلونو او مصدرونو ترمنځ څه اړیکي پیدا کړي. نو د انالوژۍ پر اساس د نورو ژبو له قوانینو څخه استفاده سوې ده او د نورو ژبو ګرامري قوانین پر پښتو ژبه تحمیل سوي دي.

دا څرګنده ده،چي هره ژبه ځان ته خاص جوړښت او جلاجلا قوانین لري. د یوې ژبې ګرامري فارمولونه او قوانین را نقلوم او پربله ژبه ئې تحمیلول اصولي کار نه بریښي. بلکې برعکس باید د یوې ژبې داخلي جوړښت، فونیتیکي، مارفولوژیکي او لغوي اړخونه و څېړل سي او ددغو څېړنو په نتیجه کي قوانین او ګرامري فارمولونه په خپله د ژبې څخه را و ایستل سي.

مګر دا هم کېدای سي،چي ځیني ژبې د ځینو ګرامري خصوصیتونو له پلوه سره نږدې وي.

خو کومي څېړني،چي تر اوسه پوري د پښتو ژبې د ګرامر په برخه کي سوي دي تر ډېره حده پوري د نورو ژبو تر تاثېر لاندي دي.

د مثال په ډول په پښتو ژبه کي دغه فعلي شکلونه: اغوندم ـ اغوندو ـ اغوندې...ځمه ـ ځو ـ ځي...، ګورم ـ ګورو ـ ګوري... سته،چي مستعمل مصدري شکلونه نه لري. مګر ځینو پوهانو کوښښ کړی،چي ددې فعلي شکلونو هغه اصلي شکلونه را پیدا کړي،چي دغه ټول فعلي شکلونه ځیني جوړیږي.څرنګه،چي ددوی په عقیده دغسي اصلي شکلونه مصدرونه دي، نو کوښښ کوي،چي د نوموړو فعلي شکلونو د پاره مصدرونه خلق کړي.

نو ددې په عوض کي،چي د پښتو ژبې داخلي جوړښت او ګرامري ساختمان وسپړي او ګرامري قوانین ئې څرګند کړي، د عربي ژبې د ګرامري قوانینو تر تاثیر لاندي راغلي دي. په عربي ژبه کي فعلونه او اسمونه د مصدر څخه جوړیږي او مصدر هم ځکه ورته وایې،چي افعال او اسما ځیني صادریږي.

نو ددې فرمول په اساس دې فیصلي ته رسیدلي دي.چي په پښتو کي هم دغه فعلي شکلونه باید یو داسي شکل ولري،چي دا نور شکلونه ځیني جوړیږي، نو ځکه د اغوندم ـ اغوندو ـ آغوندي ... له پاره (اغوندل)، د ځمه ـ ځو ـ ځي ... له پاره (ځل)، د ګورم ـ ګورو ـ ګوري ... د پاره (ګورل) مصدري شکلونه ګڼل شوي دي. او وایې،چي ددغو مصدري شکلونو څخه دغه نور فعلي شکلونه را وتلي دي. دغه او داسي نور مصدري شکلونه په قاموسونو کي هم ثبت سوي دي، خو په قاموسونو کي ورته لیکل سوي،چي غیر مستعمل مصدرونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیري د نورو ژبو له ګرامري چوکاټ څخه ووزو او د ننه په پښتو ژبه کي د فعل جوړښت و سپړو نو ګومان کوم،چي په پښتو ژبه کي به فعلي شکلونه له مصدر څخه نه جوړیږي؛بلکي ټول فعلي شکلونه د فعل له اصلي جز څخه لاس ته راځي.

په همدې اساس د پورتنیو فعلي شکلونو د حال زماني فعلي اصلي اجزاء به (اغوند ـ )، (ځ ـ ) او (ګور) وي،چي اغوندم ـ اغوندو ـ اغوندي ....، ځم ـ ځو ـ ځي....، ګورم ـ ګورو ـ ګوري ....، ځیني جوړیږي.

تردې ځایه پوري،چي کوم فعلي شکلونه وښوول د حال په زمانه کي ددغو فعلي شکلونو او مصدرونو په لغوي معناکي کوم شباهت نه لیدل کېږي او که د زیات استعمال په اساس کوم شباهت هم موجود وي، بیا هم کومه داسي ګرامري علامه نسته،چي دغه معنوي شباهت دي څرګند کړي. زموږ مقصد دلته اوسنۍ پښتو ده، مګر داچي په تاریخي لحاظ به کوم معنوي شباهت او کومه ګرامري علامه لري او یا به ئې نه لري، دا دتاریخي ژبپوهني بېله مسئله ده او خاصه څېړنه غواړي.

ددې د پاره،چي فعل او مصدر سره مقایسه کړو او توپیر او ورته والی ئې وښیو، نو باید داسي مصدرونه او فعلي شکلونه راوړو،چي ددوی ترمنځ کوم اشتراک موجود وي. ددې کار له پاره به ځیني دغسي مصدرونه راوړو لکه: ساتل، ګرځول، توږل، ترل، څېړل، لوستل، لېږل ... دغو مصدرونوته په پښتو ګرامرونو کي با قاعده مصدرونه وایي. ددغو مصدرونو او ټولو فعلي شکلونو (په حال او ماضي کي) ترمنځ د لغوي معنا اشتراک څرګند لېدل کیږي. مثلاً د حال په زمانه کي د فعلي اشکالو (ساتم، ساتو، ساتي....، ګرځوم، ګرځوو، ګرځوي....، توږم، توږو، توږي....) فعلي اصلي اجزاء (سات ـ ، ګرځو ـ ، توږ ـ) دي،چي نور ټول فعلي اشکال ځیني جوړیږي. همدارنګه ددغو فعلي اصلي اجزاء وو څخه مصدري شکلونه (ساتل ـ ګرځول ـ توږل) جوړیږي.

ددغه اشتراک په اساس ددغو ټولو فعلي شکلونو او مصدرونو ترمنځ د لغوي معنا یووالی لېدل کېږي. د لغوي معنا د اشتراک په اساس کېدای سي،چي مصدرونه هم د فعل په ډله کي وګڼل سي.

خو کله،چي فعل د یوې ګرامري کتګورۍ په حیث څېړو او د کلام د یوه جز په حیث ئې د کلام د نورو اجزاوو څخه بېلوو، نو د کتګوریکي خصوصیاتو له پلوه مصدر د فعل په ګرامري کتګورۍ کي نه سي راتلای،ځکه که چیري د لغوي معنا اشتراک د معیار په حیث ومنو، نو په دې صورت کي داسي نومونه هم سته،چي د فعل سره د لغوي معنا له پلوه ورته والی لري، لکه: ساتنه، ګرځونه، توږنه، ترنه، څېړنه ...

ددغو نومونو او دغو فعلي شکلونو (ساتم....، ګرځوم....، توږو....،ترې....،څېړو....) لغوي معنا یوه ده، مګر مصدر د ځینو نورو کتګورکي خصوصیتونو پر اساس د فعل سره توپیر لري. فعل ځیني داسي ګرامري خصوصیتونه لري،چي مصدر ئې نه لري لکه:

١ـ مصدر د اشخاصو په لحاظ نه بدلیږي.

٢ـ مصدر عدد نه سي څرګندولای.

٣ـ مصدر زمانه نه ښیې.

په همدې اساس ویلای سو،چي مصدر د فعل په کتګورۍ کي نه سي راتلای او د کلام د اجزاوو یو مستقل جز دئ. دلته یوه یادونه ضروري ګڼم او هغه داچي کومې مقالي،چي دکلام د اجزاوو ترعنوان لاندي خپرېږي د یوې مطلقي فیصلي حکم نه لري،بلکې زما مقصد دادي،چي دغه څېړنه به د کلام د اجزاوو په برخه کي د هر اړخیزي څېړني لاره خلاصه کړي. او د هغو کسانو سره به مرسته وکړي، کوم چي غواړي د پښتو ژبي د کلام د اجزاوو په برخه کي څېړنه وکړي. په دې برخه کي به د څېړني د نوي پرنسپونو سره اشنا سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه پوري د پښتو ژبې د کلام اجزاء په پوره ډول نه دي څېړل سوي او د پښتو ژبې د کلام هر جز د يوه ښه تېزس موضوع کېداى سي.

**فعلي صفتونه:**

د کومو گرامري شکلونو له پاره چې د (فعلي صفتونو) اصطلاح ټاکل سوې ده، تر ډېره حده پوري موزونه نه ښکاري، خو څرنگه،چې دغه اصطلاح د يوې خوا زموږ په گرامرونو کې عامه سوې او د بلې خوا تر اوسه کومه بله نوې اصطلاح نه ده ورته ټاکل سوې، نو اوس به ئې په دغه نامه وبولو . [1]

د پښتو ژبې د کلام د اجزاوو په لړ کې فعلي صفتونه په پښتو گرامرونو کې د صفتونو تر عنوان لاندې د صفت د يوه شکل په حيث راغلي دي،چې ددې څخه داسې معلوميږي،چې فعلي صفتونه د صفت په کتگورئ کې شامل گڼل سوي دي، مگر خبره داده،چې مشکله به وي،چې فعلي صفتونه د صفت (چې د کلام يو جز دئ) په کتگورئ کې شامل وگڼل سي،ځکه چې فعلي صفتونه د لغوي معناوو او گرامري خصوصيتونو له پلوه، د يوې خوا دفعلونو، صفتونو او مصدرونو سره گډ خصوصيتونه لري او له بلې خوا ځيني توپيرونه هم ورسره لري.

فعلي صفتونه لکه: (ساتونکی، کتونکی، تلونکی ، چلوونکی...) د مصدرونو لکه: (ساتل، کتل، تلل، چلول...) سره هم گډټکي لري او هم توپيرونه سره لري.

گډ ټکي ئې دادي:

۱ـ دغه پورتني فعلي صفتونه او مصدرونه د يوه فعلي بنسټ څخه لاس ته راغلي او په ټولوکي مشترکه لغوي معنا پرته ده.

۲ـ فعلي صفتونه د مصدرونو په شان د اشخاصو په لحاظ تغير نه خوري د (متکلم، مخاطب، غايب په لحاظ نه بدليږي).

۳ـ د زماني په لحاظ فعلي صفتونه او مصدرونه په کومه خاصه زمانه پوري اړه نه لري.

په خپله فعلي صفتونه کومه زمانه نه سي څرگندولای. د زماني څرگندول د ترکيب د نورو کلمو په مرسته کېږي. په ټولو مختلفو ترکيبونو (د زماني په لحاظ) کې فعلي صفتونه خپل شکل ساتي. دا په دې معنا،چې زمانه د فعلي صفتونو په شکلي تغيير کې کوم تاثير نه لري، لکه:

۱ـ زه داسې وخت کورته ورغلم،چې دی تلونکی و(ماضي).

۲ـ زه اوس تلونکی يم سبا به خبري سره وکړو(حال).

۳ـ په راتلونکې وخت کې به ډېر سره ووينو(آينده).

د فعلي صفتونو او مصدرونو توپيرونه:

۱ـ مصدرونه عدد نه سي څرگندولای.

۲ـ فعلي صفتونه عدد څرگندوي(تلونکی ـ تلونکي).

۳ـ مصدرونه د مذکر او مونث په لحاظ نه بدليږي.

۴ـ فعلي صفتونه د مذکرو او مونثو نومونو په لحاظ بدليږي(تلونکی ـ تلونکې).

د بلې خوا فعلي صفتونه د صفتونو سره هم ځيني گډ او مختلف اړخونه لري.

گډ اړخونه ئې دادي:

[1] زيری جريده،۱۳۵۳ل کال،۴۶گڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ فعلي صفتونه کله کله د صفت پرځای استعمالېدای سي،لکه: لویه جرګه ـ چلوونکي جرګه، غوره ډله ـ کتونکي ډله.
۲ـ فعلي صفتونه د صفتونو په شان د مذکرو او مونثو نومونو په لحاظ بدلیږي (لکه: تلونکی ـ تلونکې، پوخ ـ پخه).
۳ـ فعلي صفتونه د صفت په ډول عدد ځرګندوي(لکه: ساتونکی ـ ساتونکي، پوخ ـ پاخه) مګر ددې په څنګ کي ځیني مهم فرقونه هم لري، لکه:

۱ـ صفت د یوه اسم کیفیت او څرنګوالی ښیې.

۲ـ فعلي صفتونه د فعلونو سره د لغوي معنا د اشتراک پر اساس یوه پېښه دجریان په حال کي څرګندوي.

همدارنګه فعلي صفتونه د فعل سره هم ځیني د اختلاف ټکي لري.

څرنګه چي فعلي صفتونه د فعلي اشکالو د اصلي فعلي جز څخه جوړیږي،نو فعلي صفتونه او فعلونه ګډه لغوي معنا لري او اساسي او کتګوریکي توپیرونه ئې دادي،چي فعل د زماني په لحاظ مشخصي ګرامري کتګورۍ لري، مګر دغه ګرامري کتګوریکي خصوصیت په فعلي صفتونو کي نه لیدل کېږي.

ددې ټولو څېړنو څخه دې نتیجي ته رسیږو،چي: فعلي صفتونه د یوې خوا د مصدر، صفت او فعل سره ګډ معنوي او ګرامري خصوصیتونه لري، اوله بلي خوا مشخص توپیرونه هم ورسره لري. په همدې اساس د فعلي صفتونو دغه درې اړخیزه مشابه او متضاد خصوصیتونه دا ایجاب وي،چي فعلي صفتونه د کلام د یو مستقل جز په حیث و پیژنو.

## د فعل معنوي اړخونه:

تر دې ځایه پوري مو د فعل ځیني عمومي کتګوریکي خصوصیتونه د مصدر او فعلي صفتونو سره مقایسه کړل. د مقایسي څخه دا څرګنده سوه،چي مصدرونه او فعلي صفتونه د فعل په کتګورۍ کي نه سي راتلای او مصدرونه او فعلي صفتونه هر یو د کلام مستقل اجزاء دي .[۱]

اوس به بیرته فعل ته را وګرځو او د فعل ځیني نور خصوصیتونه به وڅېړو. فعلونه د معنی او نحوي خصوصیتونو له پلوه پر درو ګروپونو ویشل کېدای سي:

لازمي فعلونه ـ متعدي فعلونه ـ غیر لازمي او غیر متعدي فعلونه(یاګډ فعلونه،چي د یوې خوا د لازمي فعلونو او دبلي خوا د متعدي فعلونو سره ګډ ارتباط لري،لکه: الوتکه الوزي ـ توریالی ځي ـ ځلمی بیدیږي...

مګر متعدي فعل بیا یوازي پر عامل اتکا نه کوي؛ بلکي داسي یو عمل بیانوي،چي سربیره پر عامل کوم شي یا چاته راجع وي،لکه: اجمل کتاب لولي ـ توریالی ډوډۍ خوري ـ تورپیکۍ خط لیکي...

په پورتنیو جملو کي د (لولي ـ خوري ـ لیکي) معناوي په خپله دا ایجاب وي،چي یو شی باید موجود وي،چي ولوستل سي، وخوړل سي اویا ولیکل سي،چي نوموړي فعلونه ورته راجع دي. په هغو جملو کي،چي متعدي فعلونه راغلي وي، که چیري هغه شی،چي دغه فعلونه ورته راجع دي په جمله کي نه وي راغلي، نو جمله نیمګړې وي، لکه: ځلمی لولي...؟، توریالی خوري...؟، تورپیکۍ لیکي ...؟

د متعدي فعلونو اساسي معنوي خصوصیت هم دغه دی،چي د یوه عمل په څرګندولو کي یوازي پر عامل اتکاء نه سي کولای. ددې د پاره،چي جمله بشپړه سي، نو د هغه(شی) یا (چا) توضیح غوښتل کېږي،چي دغه عمل ورته راجع کیږي.

---

[۱] زیری جریده، ۱۳۵۳ل کال، ۴۷ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په معنوي او نحوي لحاظ د لازمي او متعدي فعلونو په منځ کي يو بل گروپ هم سته،چي له يوه پلوه د متعدي فعلونو او له بل پلوه د لازمي فعلونو سره ارتباط پيدا کوي،لکه: ټوخي ـ ژاړي ـ خاندي ـ غاپي – لامبي ـ زانگي...

دغه پورتني فعلونه که د حال په زمانه کي استعمال سي، نو د لازمي فعلونو په ډله کي راځي،لکه: ځلمی خاندي ـ تورپيکی ژاړي ـ سپی غاپي، چي په دغو فعلونو کي عمل يوازي د عامل سره ارتباط پيدا کوي او کوم بل چا يا شي ته نه راجع کېږي. مگر د نحوي په لحاظ دغه فعلونه په متعدي فعلونو کي هم داخليدای سي.

که چيري دغه پورتني فعلونه په ماضي زمانه کي استعمال سي، نو په هغه صورت کي بيا دغه فعلونه د متعدي فعلونو گروپ ته ورننوزي، لکه: ما ټوخل، دې خندل، ده ژړل...

د(ټوخل، خندل، ژړل ) کلمې په دغو پورتنيو جملوکي مصدرونه نه دي، بلکې داسي کلمې دي،چي يو عمل په يوه مشخصه زمانه کي ښيي او يوازي د شکل په لحاظ د (ټول ـ ژړل ـ خندل) د مصدرونو سره مشابه ښه لري. په پښتو ژبه کي ددغه ډول مشابهتونو نور مثالونه هم ليدل کېږي. په پښتو ژبه کي د جمع غايب صيغي د مصدري شکلونو سره يوه ښه لري، خو د معنا په لحاظ سره بېليږي، لکه: دوی خپلو کورو ته تلل ـ زه کورته تلم ـ موږ کورته تلو. دغسي شکلونوته گرامري امونيمونه (امونيمونه هغه کليمې دي،چي د شکل او تلفظ په لحاظ سره يو او د معنا په لحاظ سربيلې وي) ويل کېږي.

همدارنگه فعل د يوه کار د کولو يا نه کولو په لحاظ د معنا له پلوه پر دوو گروپونو ويشل کېږي.

۱ـ مثبت فعل ۲ـ منفي فعل.

مثبت فعل هغه فعل دی،چي د يوه کار پرکولو دلالت کوي او منفي فعل بيا هغه فعل دی،چي د يوه کار پر نه کولو دلالت کوي. سربيره پر دې د پښتو په گرامرونو کي فعلونه پر معلومو او مجهولو فعلونو هم ويشل سوي دي. معلوم فعلونه هغه فعلونه بلل سوي دي،چي په جمله کي د يوه فعل فاعل معلوم وي، لکه: زه دي پېژنم.

او که فاعل په جمله کي نه وي معلوم نو بيا دغه ډول فعلونه د مجهولو فعلونو په نامه ياد سوي دي، لکه: دی هره ورځ وهل کېږي.

زما په عقيده د (معلوم فعل) او (مجهول فعل) اصطلاحات به په دغه برخه کي ډېر موزون اصطلاحات نه وي،ځکه په دغو پورتنيو جملو کي فعلونه معلوم دي او يوازي دومره فرق موجود دی،چي په يوه جمله کي فاعلي معلوم او په بله جمله کي فاعل مجهول دئ. دلته به ښه دا وي،چي ددغو اصطلاحاتو پرځای کوم نوي اصطلاحات استعمال سي.

## د زماني کتگوري:

د کلام د نورو اجزاوو په تفاوت فعل د زماني په لحاظ بېل بېل کټگوريکي خصوصيتونه لري. څرنگه،چي فعل يو عمل(پروسه) په زماني کي څرگندوي، نو د زماني په لحاظ پر بېلو بېلو گروپونو ويشل کېږي. فعل په پښتو ژبه کي د زماني په لحاظ پر درو گروپونو ويشل کېږي.[۲]

۱ـ ماضي (تېر) ۲ـ حال ۳ـ مستقبل ( راتلونکی).

[۲] زيری جريده،۱۳۵۳ل کال،۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماضي فعل:**

ماضي فعل هغه فعل دی،چي په تېره زمانه کي د يوه عمل پر کېدو يا کولو دلالت کوي. ماضي فعل د فعلي اشکالو د اصلي خبر(بنسټ) څخه جوړيږي. اکثراً د ماضي فعل اصلي جز د غير معينو افعالو (مصدرونو) د اصلي جز سره يو شی وي،لکه: خوت، کوت، توږه، لوست. ددغو ماضي فعلونو د اصلي جز څخه غير معين فعلي شکلونه جوړيږي لکه: ختل ـ کتل ـ توږل ـ لوستل د پورتنيو ماضي فعلونو د جمع غايب شکلونه د مصدري شکلونو سره د شکل په لحاظ يوشی دي مگر د معناوو له پلوه فرق سره لري. مصدري شکلونه کومه زمانه نه څرگندوي مگر د جمع غايب ماضي شکلونه زمانه ښيې، لکه: ختل، کتل ـ دوی ونې ته ختل، دوی کتابونه لوستل.

مخکي مو فعلونه د معنا په لحاظ پر درو گروپونو ويشلي وو،په همدې اساس د ماضي فعلونو جوړښت هم ددغو درو گروپونو د معنوي اړخ له پلوه په مختلف ډول جوړيږي.

**۱ ـ دلازمي فعلونو گروپ:**

په دې گروپ فعلونو کي د فعل ماضي شکلونه د غير معين فعلي شکلونو د اصلي جز سره يو شی وي او د فعل ماضي شکلونه د تعدد او شکل په لحاظ د فاعل تابع وي.

په دې ډول فعلونو کي د جمع غايب ماضي شکلونه تل دشکل له پلوه د مصدري شکلونو سره يوه بڼه غوره کوي،لکه:
په دې ډول فعلونو کي د جمع غايب ماضي شکلونه تل دشکل له پلوه د مصدري شکلونو سره يوه بڼه غوره کوي، لکه:

دی ونې ته خوت ـ دی کورته ځي ـ دی پاڅيده.

دوی ونې ته ختل ـ دوی کورته تلل ـ دوی پاڅېدل.

**۲ـ د متعدي فعلونو گروپ:**

څرنگه،چي په پښتو ژبه کي متعدي فعلونه د مفعول تابع وي او د فاعل شکل او تعدد پرفعل کوم تاثير نه کوي، نو فعلونه پرخپل شکل استعماليږي، لکه:

ده کتـــاب کوت ـ ده کتـــاب لوسـت ـ ده قلم توږه.

دوی کتاب کوت ـ دوی کتاب لوست ـ دوی قلم توږه.

که چيري مفعول د جمع شکل ولري، نو که فاعل جمع وي او که مفرد د فعل د جمع په شکل استعماليږي،لکه:

ده کتـــابونه لوســـتل ـ ده قلمونه توږل

دوی کتابونه لوستل ـ دوی قلمونه توږل

ده کتـــابونه ولوستل ـ ده قلمونه و توږل

دې کتابونه ولوستل ـ دوی قلمونه وتوږل.

**۳ـ دريم گروپ فعلونه:**

دا هغه گروپ فعلونه دي،چي د يوې خوا د لازمي فعلونو او دبلي خوا د متعدي فعلونو سره گډ خصوصيتونه لري. په همدې اساس مو دغه ډول فعلونه د دريم گروپ په نامه ياد کړي دي. ددغه ډول فعلونو ماضي شکلونه تل د غير معين فعلي شکلونو(مصدرونو) سره په يوه بڼه راځي او د شکل په لحاظ کوم فرق نه سره لري. مگر د معناوو په لحاظ او د زماني د

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګندونې له پلوه فرق سره لري په دې ګروپ فعلونو کې د فاعل مفرد والی او جمع والی او تانیث او تذکیر د فعلي شکلونو په تبدیل کې کوم رول نه لري، لکه:

ده خندل ـ دې خندل ـ دوی خندل

ده وژړل ـ دې وژړل ـ دوی وژړل.

او داسې نور...

## دحال زمانه:

د حال د زماني عمومي معنا داده،چي فعل داسي یو عمل څرګند کړي،چي د وینا په وخت کي پېښېږي. د فعل دغه معنا د عمل او پیښو د لغوي معناوو او ماهیت له پلوه فرق کوي. هغه پېښي،چي د خال په زمانه کي اجراء کېږي د پیښو د ماهیت پر اساس فرق سره لري. ځیني پېښي داسي وي،چي اجراء ئې د زماني په یوه ټاکلي چوکاټ کي پېښېږي او تر یوې اندازي پوري معین حدود لري، لکه: واوره اورې ـ تورپیکې خاندي[1] ...[2]

مګر ځیني پېښي بیا داسي وي،چي د زماني په لحاظ په کوم ټاکلي چوکاټ کي نه محدودېږي او کوم معین حدود نه لري،لکه: مځکه ګرځي ـ زموږ په هېواد کي پسونه روزل کېږي ـ په دښتونو کي لېوان پیدا کېږي...

سره له دې،چي پورتنۍ جملې په حال زمانه پوري اړه لري،خو د معناوو له پلوه فرق سره لري. په لومړي ګروپ کي دواړي جملې د حال په زمانه کي تکرار او دوام نه ښیي. مګر دوهم ګروپ جملې سربېره پر دي،چي د حال زمانه څرګندوي دا هم ښیي،چي دغه پېښي په کوم خاص وخت کي نه محدودېږي او تل دوام لري.

د حال فعلونه هم لکه ماضي فعلونه د فعل د اصلي اجزاوو څخه جوړېږي او د فعل په درو واړو ګروپونو کي د یوې قاعدي پر اساس جوړېږي.

د حال د فعل ټول شکلونه د فعل د اصلي اجزاوو څخه د متصلو ضمیرونو په راوړلو سره جوړېږي:

اول ـ دلازمي افعالو ګروپ:

(ځ): ځم ـ ځو ـ ځي...

(خیژ): خیژم ـ خیژو ـ خیژي...

دوهم ـ د متعدي افعالو ګروپ:

(لول): لولم ـ لولو ـ لولي...

(ګور): ګورو ـ ګوري...

دریم ـ دریم ګروپ افعال

(خاند): خاندم ـ خاندو ـ خاندي...

(ژاړ): ژاړم ـ ژاړو ـ ژاړي...

(لامب): لامبم ـ لامبو ـ لامبي...

په پښتو ژبه کي ماضي فعل د ګرامري علامو له پلوه کوم مشخص ګرامري کتګوریکي خصوصیتونه لري،ځکه د ماضي فعلونو د پای ګرامري علامې او د کلام د نورو اجزاوو ګرامري علامې د شکل له پلوه څرګند توپیر نه لري. یوازیني څرګند معنوي خصوصیت ئې دادی،چي تېره زمانه ښیي. مګر د حال فعل سربېره پر معنوي خصوصیت مشخص ګرامري علامې هم

[2] زیری جریده،۱۳۵۳ل کال، ۴۹ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري،چي د کلام د نورو اجزاوو او هم د ماضي فعل د ګرامري علامو سره فرق لري. د حال د فعلونو مشخص ګرامري کتګوريکي علامې په پورتنيو مثالونو کې په څرګند او سيستماتيک ډول سره ليدل کېږي.

## راتلونکې زمانه:

د راتلونکي زماني معنا داده،چي يو عمل په راتلونکي وخت کې ښيي او هغه کليمه،چي دغه معنا څرګندوي د راتلونکي فعل په نامه يادېږي. راتلونکي فعلونه د حال د فعلونو په ډول د فعل د اصلي جز څخه جوړېږي او د فعل په درو واړو ګروپونو کې د يوې قاعدي اساس جوړېږي او د عمومي ګرامري خصوصياتو او علامو له پلوه يو شی دي. يوازني ګرامري علامه،چي په اکثرو حالتونو کې راتلونکی فعل د حال د فعل څخه بېلوي د(به) علامه ده.

د راتلونکي فعل مختلف شکلونه د فعل د اصلي اجزاوو څخه وو د متصلو ضميرونو په راوړلو سره په دې ډول جوړېږي:

ځم به ـ ځوبه ـ ځي به ...

خيژم به ـ خيژوبه ـ خيژي به ...

وبه ئې لولم ـ وبه ئې لولي ـ وبه لولې ...

ګورم به ـ ګورو به ـ ګوري به...

خاندم به ـ خاندو به ـ خاندي به ...

وبه خاندم ـ وبه خاندو ـ وبه خاندی ...

په دغه پورتنيو جملو کې دوه ډوله ترکيبونه ليدل کېږي،چي د معناوو په لحاظ يو دبل سره توپير لري. د (ځم به ـ ګوروبه ـ خيژي به ـ خاندوبه) ترکيبونه د عمل دوام او جريان په نامحدود وخت کې بيانوي. مګر د (وبه ئې لولم ـ وبه خاندو ـ وبه ئې ګورو ...) ترکيبونه د عمل تکرار نه څرګندوي، بلکې عمل(پروسه) د وخت په يوه ټاکلي جريان کې ښيې.

## مختاړي( پريفکسونه)

مختاړي په پښتو ژبه کې د فعلونو په جوړښت او د فعلونو د معناوو په تشخيص کې مهم رول لري. د مختاړو په واسطه د پښتو ژبي د ځينو فعلونو څخه نور فعلونو جوړېدای سي [۲] .

د بلې خوا د مختاړو په واسطه د فعلونو معناوي مشخصه کېږي، په پښتو ژبه کې د مختاړو رول په لنډ ډول داسې څرګندولای سو:

۱ـ پوري: دغه مختاړي،چي دفعلونو سره راسي د يوه فعل څخه بل فعل جوړوي او د معناوو په منځ کې ئې بدلون راولي. په پښتو ژبه کې دغه فعلي شکلونه ـ وزي ـ ترې ـ وهي ـ خاندي(وتل ـ تړل ـ وهل ـ خندل) مشخصي معناوي لري، لکه:

ځلمی له کوره وزي.

دی خپل خوږ لاس ترې.

دی خپل زوی ډېر وهي.

تورپېکی خاندي.

که چيري ددغو پورتنيو فعلونو سره د (پوري) مختاړی را وړو، نو بيخي نوي فعلي شکلونه لاس ته راځي او معناوي ئې بدليږي،لکه:

---

[۲] زيری جريده،۱۳۵۴ل کال، ۲ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوري وزي(پوري وتل) ـ پوري تري(پوري ترل) ـ پوري وهي (پوري وهل) – پوري خاندي (پوري خندل).

دغه وروستي فعلي شكلونه د معناوو له پلوه د پورتنيو فعلي شكلونو سره پوره توپير لري، لكه:

ځلمی ترسيند پوري وزي.

دی خپل آس په ونه پوري تړي.

دی خپل ملګری پوري وهي.

ځلمی پوری خاندي.

۲ـ پرې د (پرې) مختاړي،چي د فعلونو سره استعمال سي د يوه فعل څخه بل فعل جوړوي او معنايې بدلوي. كه چيري د (پرې) مختاړي را وزي (وتل) ـ كوي (كول) ـ باسي ـ ايستل ـ ښوول د كليمو سره استعمال سي، ددغو كلمو معناوي بدلوي او ددغو كلمو څخه نوري كلمې لاس ته راځي،لكه : پرې وزي( پرې وتل) ـ پرې كوي(پرې كول) ـ پرې باسي ـ پرې ايستل ـ پرې ښوول . په پورتنيو مثالونو كي د لومړي ګروپ او دوهم ګروپ د مثالونو د معناوو ترمنځ څرګند معنوي توپيرونه ليدل كېږي.

۳ـ كښې: همدارنګه د (كښې) مختاړي،چي دفعلونو سره استعمال سي د فعلونو معنا بدلوي او نوي فعلي شكلونه جوړوي،لكه

وتل ـ كښېتل

كښل ـ كښېكښل

ايستل ـ كښې ايستل

۴ـ ننه : دا مختاړي هم د نورو مختاړو په شان د فعلونو معناوي بدلوي او نوي فعلي شكلونه جوړوي، لكه:

وتل ـ ننوتل

ايستل ـ ننه ايستل

او داسي نور...

دلته يوه يادونه ضروري ګنم.

اول داچي دغه پورتني مختاړي په پښتو ژبه كي د ډېرو لږو افعالو سره استعماليږي او د هر فعل سره نه سي استعمالېدای.

دوهم داچي په پښتو ژبه كي ځيني نور دغسي شكلونه هم سته( لكه: پوري ـ پرې ـ كښې)چي مختاړي ئې نه سو بللای،ځكه دغه شكل نور نحوي وظايف اجرا كوي،لكه:

په دې كتاب كښې ډېري نيمګړتياوي ليدل كېږي.

دی زما سره تر ښوونځی پوري ملګری و.

په دې كتاب كي داسي ټكي،چي پوهېدل پرې ايستل كښې ايستل...

په دغسې حالتونو كي (كښې ـ پوري ـ پرې)مختاړي...

بلكه د (څخه ـ تر ـ د ـ له پاره ـ باندي ـ ځيني...)...

چي په پښتو ژبه كي د ادات د تورو يا د ارتباط د تورو په نامه ...

تورو پر ګرامري كتګوريكي خصوصيتونو به پرخپل ځای و...

په پښتو كي ځيني نور فعلي مختاړي هم سته، چي د وظيفي له مخه د (پوري ـ پرې ـ ننه ـ كښې) سره پوره توپير لري او هغه مختاړي دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(و)، (را ـ در ـ ور).

۱ـ و: که چیري دغه مختاړي د فعلونو سره راسي، نو د فعلونو څخه نور نوي فعلونه نه جوړوي، بلکي یوازي د فعلونو معناوي مشخصه کوي، لکه:

لوست ـ ولوست

خوړ ـ وخوړ

کوت ـ وکوت

خوت ـ وخوت

۲ـ را – در – ور: دا مختاړي د خپلو بېلو بېلو خصوصیتونو او معناوو له پلوه هم د (و) او هم د (پوري ـ پرې ـ ننه ـ کښې) د مختاړو سره فرق لري. کله،چي دغه مختاړي په تشریحي ډول وڅېړل سي، نو داسي څرګندیږي،چي دغه مختاړي د یوې خوا په ځینو ترکیبونو کي د ضمیرونو وظیفه اجرا کوي او د بلي خوا د فعلي مختاړو په حیث استعمالیږي. اوس د نومړو ( را ـ در ـ ور) شکلونو د دوه اړخیزو خصوصیتونو د توضیح له پاره ځیني مثالونه راوړو:

دا مسئله پخوا هم را معلومه وه.

دا کتاب مي در وباخښه.

کتاب مې درښوولی و.

څه به ورپېښه سوې وي،چي وخنډېدی.

ته ډېره راباندي ګرانه یې.

په دغو مثالونو کي په واضح ډول سره لیدل کېږي،چي (را ـ در ـ ور) د ضمیرونو په حیث استعمال سوي دي.

مګر د بلې خوا د پښتو ژبې څخه ډېر داسي مثالونه هم راوړای سو،چي (را ـ در ـ ور) شکلونه پکښې استعمال سوي وي،خو د خصوصیتونو او معناوو له پلوه د ضمیرونو په ډول نه وي، لکه:

لمر را وخوت ورځ سوه.

د تګ ورځ رانږدې کېږي.

زه درغلم،خو ته مي ونه لېدې.

پر غلیم ورتلل.

ستا(زما ـ دده ـ ددې ـ د دوی ـ زموږ ـ ستاسي) په ژوندکي ستر تحول راغلی دئ.

په دغو پورتنیو مثالونو کي داسي شواهد لیدل کېږي،چي (را ـ در ـ ور) ضمیرونه وبولو. همدارنګه ددې موضوع د ښه توضیح له پاره به ځیني نور داسي مثالونه راوړو:

رانیول ـ راوړل ـ ور وړل ـ را کول ـ درکول ـ ورکول ـ را رسیدل ـ درتلل ـ راستنول ـ ورختل...

په دغو پورتنیو شکلونو کي (را ـ در ـ ور) د ضمیرونو په حیث نه دي استعمال سوي، بلکي په ټولو فعلي شکلونو کي د فعل کار او عمل (پروسه) خوا اوسمت ښيې او مختاړي (پریفکسونو) په شکل راغلي دي.

دغه مختاړي سربېره پردې د فعل سمت او خوا ښيې، ددوی په راوړلو سره ځیني کلمې خپلي پخوانۍ معناوي بیخي بدلوي،لکه:

وړل ـ را وړل

نیول ـ را نیول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول ـ را کول

نو که چیري دا ومنو،چي (را ـ در ـ ور) په پورتنیو مثالونو کي پریفکسونه دي، نه ضمیرونه، نو ددې ادعا د اثبات له پاره دا هم زیاتولای سو،چي :

۱ـ ضمیرونه د مصدرونو سره د مختاړي په حیث نه راځي.

۲ـ د ضمیرونو یو عمومي خصوصیت دادی،چي د نومونو پر ځای د تکرار د لیري کولو په مقصد استعمالیږي.

۳ـ مصدرونه د نومونو وظیفه اجرا کوي(په دې برخه کي دمصدر بحث ته رجوع وکړی).

که چیري( را ـ در ـ ور) په پوره ډول سره د ډېرو موادو پر اساس په ژبه کي و څېړل سي، کېدای سي،چي ځیني نور معنوي او وظیفوي اړخونه ئې هم څرګند سي او د تحقیق نتني اصول هم دا ایجاب وي،چي په ژبنیو څېړنو کي باید هر ژبنی غړی په بېلو بېلو ترکیبونو کي وکتل سي، ترڅو چي ټول معنوي اړخونه ئې په پوره ډول سره څرګند سي، خو ددغو څو مثالونو په راوړلو سره دغه نتیجه لاس ته راځي،چي(را ـ در ـ ور) سربیره پردې،چي نور معنوي اړخونه لري د فعلونو سره د مختاړو په حیث هم راځي او فعلي مختاړي ئې بللای سو.

## دشکل کتګوري

په پښتو کي د مطلق او استمرار فعل د شکل موضوع د یوې خوا ډېره پیچلي او مغلقه ده او د بلي خوا تر اوسه پوري ددې مسئلي هر اړخیزي څېړني ته پوره پاملرنه نه ده سوې. شکل د یوه عمل د اجراء هغه خصوصیت ښیي،چي د فعل په واسطه څرګندیږي. دا په دې معنا چي شکل د افعالو د دوام تکرار او یا نه دوام او نه تکرار خصوصیتونه ټاکي، ددې خصوصیت له پلوه دپښتو ژبي په فعلونو کي د مطلق او استمرار کتګوري څرګندیږي، استمراري فعل هغه فعل ته وایي،چي [۲] [۳] د یو عمل د کېدو یا کولو دوام یا تکرار ښیي.

اوهغه فعل،چي د یوه عمل دکېدو او یاکولو تکرار نه ښیي د مطلق فعل په نامه یادیږي.

په پښتو ژبه کي د شکل د کتګوریکي خصوصیتونو د څرګندلو له پاره یوازي یوه ګرامري علامه سته او هغه علامه د (و) مختاړی دی،چي د فعلونو د شکل د کتګوریکي خصوصیتونو د توپیر له پاره استعمالیږي.

اوس به د استمراري او مطلق فعل د کتګوریکي خصوصیتونو د توپیر له پاره یو څه مثالونه راوړو:

۱ـ د (و) د مختاړي په راوړلو سره د ځینو استمراري فعلونو څخه مطلق فعلونه جوړیږي،لکه:

| استمراري | مطلق |
|---|---|
| خوت | وخوت |
| کوت | وکوت |
| اورېده | واورېده |
| لیکه | ولیکه |
| خوړ | وخوړ |

او داسي نور...

په دغو پورتنیو فعلونو کي یوازي د (و) په راوړلو سره د استمراري فعل څخه مطلق فعل جوړسوی دی په استمراري شکلونو کي بل هیڅ ډول تغیر نه دی راغلی.

---

[۲] زیری جریده،۱۳۵۴ل کال،۴ګنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بله داچي استمراري او مطلق شکلونه د يوې لغوي ريښې څخه جوړ سوي دي.

څرنګه چي په پښتو ژبه کي فعلونه د جوړښت له پلوه مختلف خصوصيتونه لري، نو د استمراري فعلونو څخه د مطلقو فعلونو جوړول هم په بېلو بېلو ډولو دي،چي ځيني مثالونه به ئې دلته راوړو:

۲ـ دا هغه ګروپ فعلونه دي،چي د مطلق فعل د ځرګندولو له پاره د استمراري فعل سره د (و) فعلي مختاړي راځي او د استمراري فعل څخه مطلق فعل جوړېږي. په دغه ګروپ فعلونو کي استمراري فعل او مطلق د شکل په لحاظ کوم ورته والى نه سره لري او هم د معنا له پلوه د يوه لغوي بنسټ نښه نه پکښې ليدل کېږي،لکه:

| استمراري فعل | مطلق فعل |
|---|---|
| کارکېده | کار وشو |
| تلى | ولاړ |

او داسي نور...

۳ـ دريمه ډله هغه فعلونه دي،چي د مطلق فعل د ځرګندولو له پاره د استمراري فعل سره د (و) فعلي مختاړي نه راځي،بلکي يوازي په شکل کي ئې يو څه تغير پېښېږي په دغه ډله استمراري او مطلقو فعلونو کي د معنا په لحاظ د يوه لغوي بنسټ د اشتراک نښې ليدل کېږي،لکه:

| استمراري فعل | مطلق فعل |
|---|---|
| بيوه | بوت |
| را کاوه | راکړ |

او داسي نور...

۴ـ څلرمه ډله: هغه فعلونه دي،چي د مطلق فعل د جوړولو له پاره د استمرار فعل سره د (و) فعلي مختاړى را وړل کېږي،خو په دې ډله فعلونو کي د استمراري فعل او مطلق فعل ترمنځ هم د شکل او هم د لغوي بنسټ له پلوه څه ناڅه اشتراک ليدل کېږي،لکه:

| استمراري | مطلق |
|---|---|
| کاوه | وکړ |

۵ـ پنځمه ډله هغه فعلونه دي،چي مطلق فعل داستمراري فعل څخه بې د (و) د مختاړي د راوړلو څخه جوړېږي. ددغي ډلي فعلونو د استمرار او مطلقو فعلونو ترمنځ نه د لغوي بنسټ له پلوه کوم اشتراک ليدل کېږي او نه هم د شکل په لحاظ لکه:

| استمراري فعل | مطلق فعل |
|---|---|
| پورته کېده | پورته سو |
| مړېده | موړ سو |

او داسي نور...

٦ـ په هغو فعلونو کي،چي د فعل د معنوي ويش په برخه کي ددريم ګروپ په نامه يادسوي وو د استمراري فعل څخه د (و) د مختاړي په راوړلو سره مطلق فعل جوړيږي او د فعلونو په شکل او لغوي بنسټ کي کوم تغير نه پېښېږي لکه:

| | |
|---|---|
| ده خندل | ده وخندل |
| ده ژړل | ده و ژړل |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ده ټوخل | ده وټوخل |
| ده لامبل | ده ولامبل |

او داسي نور...

۷ـ کله کله د ټولو پورتنيو ډولونو په خلاف د استمراري فعل څخه مطلق فعل داسي جوړيږي، لکه:

| استمراري فعل | مطلق فعل |
|---|---|
| و وړ | يو وړ |
| وروست | وروست |

۸ـ خج: په پښتو ژبه کي د کلمو خج د موقعيت په لحاظ متحرک دی، خج په ځينو کلمو کي پر لومړي سيلاب، په ځينو کلمو کي پر منځني او په ځينو کلمو کي پر وروستي سيلاب راځي. د خج متحرک والی کله کله د کلمو د گرامري معناوو د بدلون سبب گرځي، سربيره پردې کله کله د خج د موقعيت پر اساس استمراري او مطلق فعلونه سره بېليږي،لکه:

| استمراري فعل | مطلق فعل |
|---|---|
| (خج پر وروستي سيلاب) | (خج پرلومړي سيلاب) |
| پو ري وتل | پوري وتل |
| پوري اېستل | پوري اېستل |
| پوري وهل | پو ري وهل |
| پرې ښوول | پرې ښوول |
| پرې اېستل | پرې اېستل |
| کښېوتل | کښېوتل |
| کښېکښوول | کښېکښوول، او داسي نور... |

سربيره پر دې کله کله په ځينو ترکيبونو د استمراري او مطلق فعل د شکل او خصوصيت د ټاکلو په برخه کي د(څو واره) او (څو ځله) شکلونه هم مهم رول لري.

## دکلام د نورو اجزاوو څخه د فعل جوړېدنه

په پښتو ژبه کي سربيره پردې،چي د مختاړو په مرسته د ځينو فعلونو څخه نور فعلونه جوړيږي، د کلام د نورو اجزاوو څخه هم ځيني فعلونه جوړېدای سي.

### ۱ـ د صفتونوڅخه:

| صفت | فعل |
|---|---|
| کوږ | کږوي(کږول) |
| تريخ | تريخوي(تريخول) |
| زوړ | زړوي(زړول) |
| موړ | مړوي(مړول) |
| تريخ | تريخيږي(تريخېدل) |
| کوږ | کږيږي(کږېدل) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوړ　　　زړېږي(زړېدل)

او داسي نور...

۲ـ د صفتونو په شان د ځینو نومونو څخه د فعلي وروستاړو په زیاتولو سره فعلي شکلونه جوړیږي،لکه:

اسم　　　فعل

ژړا　　　ژړوي(ژړول)

خندا　　　خندوي(خندول)

گټه　　　گټي(گټل)

سپا　　　سپموي(سپمول)

نخا　　　نخوي(نخول) نخا　　　نخیږي(نخېدل) ، او داسي نور...

## د ژبو مارفولوژیکي ویش

د نولسمي پېړۍ په ژبپوهنه کي سربیره پر نسبي ویش، ژبي په مارفولوژیکي لحاظ هم پر بېلو بېلو گروپونو ویشل سوي دي. د مارفولوژیکي ویش فرقونه له نسبي ویش څخه په دې کي دي، چي په نسبي ویش کي د مقایسوي ـ تاریخي میتود په رڼا کي ژبي د ورته والي او بېلتون، د پیدایښت، بدلون او تاریخي تکامل له پاره پربېلو بېلو کورنیو او گروپونو ویشل کېږي او هم په دې ویش کي د مقایسوي موادو انتخاب اختیاري کار نه وي، مگر په مارفولوژیکي ویش کي د ژبو تاریخي تکامل او پیدایښت په نظر کي نه نیول کېږي او ژبي یوازي د اوسني جوړښت له پلوه سره پرتله کېږي او پر بېلو بېلو مارفولوژیکي گروپونو ویشل کېږي، چي په دې اساس کېدای سي داسي ژبي په یوه گروپ کي راسي، چي په نسبي او تاریخي لحاظ یو له بله هیڅ اړیکي نه سره لري او هم په دې ویش کي هغه مواد چي د ژبو په مقایسه کښي د معیارونو په حیث ټاکل کېږي اختیاري دي. په مارفولوژیکي ویش کي د ژبو کمي ویش د معیارونو د ټاکلو د شمېر سره متناسب ارتباط لري مثلاً: که چیري د ژبو په مقایسه کي د معیاري موادو په حیث یوازي یو فونتیکي معیار ـ د شونډیزو او غیر شونډیزو واولونو متقابل موجودیت او یا نه موجودیت وټاکل سي، نو ددې معیار له مخي د نړۍ ټولي ژبي پر دوو گروپونو ویشل کېدای سي.[۲] [٤]

یو هغه گروپ چي په هغه کي دا پرنسیپ صدق کوي او بل هغه گروپ چي په هغه کي دا پرنسیپ صدق نه کوي. په هره اندازه چي د ژبو په ویش کي د ټاکلو معیارونو شمېر زیاتیږي په هم هغه اندازه د نړۍ په ژبو کي ډېر مارفولوژیکي گروپونه منځ ته راځي.

د نولسمي پېړۍ په ژبپوهنه کښي ژبي د مارفولوژیکي جوړښت له مخي پر درو گروپونو ویشل سوي دي: مجردي، نه بدلیدونکي او بدلیدونکي ژبي. مجردي هغه ژبي( چیني، تیبتي، برمایي...) گڼل کېږي، چي کلمې ئې په گرامري لحاظ ثابته بڼه لري او د جملو په منځ کي کومکي توري ، د کلمو ترتیب او غاړه (intonation) د گرامري روابطو وظیفه اجرا کوي. د نه بدلیدونکو ژبو په گروپ کي (ترکي، جاپاني...) هغه ژبي شامليږي، چي په جمله کي د کلمو گرامري روابط د وروستاړي په واسطه ښوول کېږي، خو دومره خبره ده، چي له یوې خوا د کلمو په تصریفي شکلونو کښي د کلمو اصلي غړي نه اوړي او خپل اصلي حالات په بېلو بېلو کتگوریو کښي ساتي او له بلي خوا مختاړي او وروستاړي هم په مختلفو حالتونو کي

[۲] کابل مجله ۱۳۵۳ل کال ۹ گڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل شکلي او معنوي استقلال نه بایلي (مثلاً په good او good+ness کي). په پښتو کي هم ددې ډلي ژبو ځیني مشخصات لیدل کېږي لکه : تور ـ تور+والی، سور ـ سور+والی، ښه ـ ښه +والی چي په دې مثالونو کښي د کلمو اصلي غړي (تور، سور، ښه) او هم وروستاړي (والی) نه بدلیږي او خپل معنوي او شکلي حالت ساتي.

د بدلیدونکو ژبو په ډله کي اکثره پوهان ایندو اروپایي او سمتي ژبي داخلوي.

د بدلیدونکو ژبو کښي د کلمو گرامري اشکال د مختاړو، وروستاړو او سوفکسونو په مرسته جوړیږي مختاړي، وروستاړي او سوفکسونه یوه ټاکلي معنا نه لري، بلکي اکثره هر یو په یوه وخت کښي کولای سي، چي څو مختلفي گرامري معناوي افاده کړي. په دې ژبو کي د نه بدلیدونکو ژبو په خلاف مختاړي، وروستاړي، سوفکسونه او د کلمو اصلي مورفیمونه یو په بل کي سره ننوتي او په بېلو بېلو گرامري کټگوریو کي مختلفه بڼه غوره کوي( depth – deep کور ـ کره). د پورتنیو تشریحاتو د توضیح له پاره به د پښتو ژبي ځیني مثالونه راوړو. په پښتو کي د (a) وروستاړی څو مختلفي گرامري معناوي افاده کولای سي . د خندا، ژړا او غوا په کلمو کښي نوموړي وروستاړی په عین وخت کښي دوې معناوي څرگندوي:

۱ ـ مؤنث.

۲ ـ مفرد.

مگر د بوډا په کلمه کي بیا خپلي پخوانۍ معنا وي نه ساتي. په دې کلمه کښي هم دوې معناوي لري یوه د مذکر او بله د مفرد. همدارنگه (پوري) د مختاړي په حیث په بېلو بېلو کلمو کښي خپله اصلي معنا بدلوي لکه: په (پورې+وتل) او (پوري+ ترل) کي

په دې مثالونو کښي نه یوازي داچي د (پوري) معنا په (پوري وتل) او (پورې ترل) کي یوه نه ده او فرق سره لري، بلکي د (پوري وتل) په کلمه کي اصلي غړي (وتل) هم خپله پخوانۍ معنا بایلي.

د اوولسمي ـ اتلسمي پ. په ژبپوهنه کي پوهانو د ژبو د مارفولوژیکي ویش په برخه کي څه څېړني کړي، خو دغو څېړنو په اوولسمه پ. کي د یوه دسپلین بڼه غوره کړي ده. فرید ریچ ښلیگل(۱۸۰۸) په دې عقیده وو، چي د نړۍ ټولي ژبي د گرامري جوړښت له پلوه پر دوو گروپونو ویشل کېږي: نه بدلېدونکي او بدلیدونکي ژبي ، مگر د مقایسوي ـ تاریخي میتود د انکشاف سره سم ژبپوهانو ته دا سوال پیدا سو، چي که چیري د نړۍ ژبي پر دوو گروپونو وویشلې سي، نو چیني ژبي ته به په کوم گروپ کي ځای ورکړل سي، ځکه دا ژبه د مارفولوژیکي جوړښت له پلوه ددې دوو گروپونو سره ستر توپیرونه لري. په همدې اساس په ۱۸۱۸ کي د فرید ریخ ښلیگل ورور افگست ښلیگل په نوموړي ویش کي څه اصلاحات راوړي او وایې چي ټولي ژبي باید پر درو گروپونو وویشل سي: مجردي، نه بدلیدونکي او بدلیدونکي ژبي بیا په خپل منځ کي پر دوو ډلو ویشل کېدای سي: تحلیلي او غیر تحلیلي په ۱۸۲۲ م کال کي وگومبلدت ژبي پر څلورو گروپونو ویشي یعني په پخواني ویش کي یو بل گروپ ور زیاتوي، چي د نیم تحلیلي په نامه یادیږي . ماکس میولر(۱۸۲۳ ـ ۱۹۰۰) په دې عقیده وو چي د ژبو د مارفولوژیکي ویش او د ټولني د اقتصادي او اجتماعي تکامل ترمنځ مستقیم ارتباط موجود دی په همدې اساس دئ مجردي ژبي د هغو خلکو ژبي بولي چي د ابتدایې بشري ټولني په مرحله کي ژوند کوي او ددوی ترمنځ اجتماعي روابط یوازي او یوازي پر کورنیو بنادي. دی په وروستي تحلیل کي دې نتیجي ته رسیږي، چي په دې ډله ژبو کي دومره قدرت نسته، چي لیکونکی دي وکړای سي ددې ژبو په مرسته کوم علمي اثر ولیکلای سي نه بدلیدونکي ژبي د کوچي ژوند د تاریخي مرحلي محصول او بدلیدونکي د هغو خلکو ژبي دي، چي له دې تیټو تاریخي مرحلو څخه تېري سوي او نوي متکامل دولتي سیستم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څرګنده ده، چي د ژبو ګرامري جوړښت د اقتصادي، اجتماعي او تاریخي مرحلو له پلوه څېړل او یوې ژبې ته ښه اوبلې ته ټیټه ویل غیر علمي کار دئ. د ژبو د مارفولوژیکي ویش په برخه کي دا ډول تحلیل سړي ته د واقعیتونو صحیح تشریح او حل نه سي ورکولای، بلکي برعکس سړی ګمراه کېږي او له واقعیته ئې باسي، ځکه هغه څه چي یو لیکوال ئې د بدلیدونکو ژبو په واسطه لیکلای او څرګندولای سي همدغسي د مجردو ژبو ویونکي هم په خپله ژبه هر ډول مفاهیم په پوره ډول افاده کولای سي.

داچي بدلیدونکي ژبي متکاملي او مجردي او نه بدلیدونکي ژبي غیر متکاملي دي کوم علمي اساس نه لري، ځکه دا فرقونه یوازي په ګرامري جوړښت پوري اړه لري مجردي اونه بدلیدونکي ژبي هم پرخپل پخواني ابتدایې حال نه پاتېږي او د ننه په خپل سیستم کي تکامل کوي او د ژبو تکامل هم په دې کي نه دی، چي حتمي دي ګرامري روابط د مختاړو او وروستاړو په واسطه افاده سي. د نولسمي پ. عالم د ناتورالیزم د مکتب (په ژبپوهنه کي) مؤسس ا. ښلیخر(۱۸۲۱ ـ ۱۸۶۸) چي له یوې خوا د نولسمي پ. د طبیعي علومو د انکشاف خصوصاً (داروین) او له بلي خوا د هیګل د دیالکتیک تر تاثیر لاندي راغلی د ژبو د مارفولوژیکي ویش مسئله د تکامل د تیوری له مخي ترڅېړني لاندي نیسي.

ا.ښلخر د خپلو څېړنو په نتیجه کي د ژبې د ماهیت او مشخصاتو په برخه کښي درې اساسي ټکي ټاکلي :

۱ ـ ژبه یو طبیعي اورګانیزم دی او د ژوندانه او انکشاف قوانین ئې همغه قوانین دي کوم، چي د طبیعت د ټولو ژوندیو اورګانیزمونو په برخه کښي صدق کوي.

۲ ـ په همدې اساس ژبپوهنه د طبیعي علومو له ډلي څخه یو علم دئ.

۳ـ د ژبو په څېړنه کي باید د هغو میتودونو څخه کار واخیستل سي کوم چي د طبیعي علومو پوهان د حیواناتو او نباتاتو په څېړنه کښي استفاده ځني کوي.

(هیګل د خپل مشهور منطق شروع د دیالکتیک په دې اساسي مرحلو کوي: د دیالکتیک اوله مرحله هستي ده او دا د تائید ( these) مرحله ده مګر که موږ د هستي مجرد او خالص مفهوم تحلیل کړو د نیستی مفهوم تري راولاړیږي او د هستی تائید ځان په خپله نفي کوي او فکر دیالکتیک په دوهمه مرحله کي داخلیږي، چي هغه د تردید او نفي مرحله ده antithese ددې تائید او تردید له تصادم څخه یوه دریمه مرحله راوزي، چي هغه دمنفي او مثبت ترکیب دی synthase یعني د هستی او نیستی له تصادم څخه یو دریم ترکیبي حقیقت منځ ته راځي........).

ا. ښلیخر د ژبو په مارفولوژیکي ویش کي د هیګل دیالیکتیکي قوانین (چي وایې د هر شي په موجودیت کي درې مرحلي لیدل کېږي these, antithese, synthese تطبیقوي او وایې چي ژبې هم په خپل تکامل(یعني بیالوژیکي تکامل) دغسي درې مرحلي تېروي مجردي نه بدلیدونکو د نه بدلیدونکو ژبو د انکشاف او تکامل په نتیجه کي منځ ته راغلی دئ. ددې نظریو په ترڅ کي یوې داسي فیصلي ته رسیږي : څرنګه چي د ژبې هم لکه ژوندي موجودات زیږي، بلوغ ته رسي او په پای کي زړیږي او مري.

نو په همدې اساس مجردي ژبې د ژبو د طفولیت مرحله، نه بدلیدونکي د بلوغ مرحله او بدلیدونکي د زړښت او انحطاط مرحله ده.

۱ ـ د ژبې تکامل دې ته نه وایې، چي مجردي ژبې دي په نه بدلیدونکو ژبو او نه بدلیدونکي ژبې دي په بدلیدونکو ژبو بدلي بدلي سي، ځکه دا به سمه نه وي، چي سړی هغه ژبې چي په خپل جوړښت کي د کلمو سره مختاړي او وروستاړي ونه لري غیر متکاملي وبولي او د ژبو په تکامل کي د ابتدایې مرحلي په حیث ورته قایل سي او هغو ژبو ته چي ګرامري روابط ئې د مختاړو او وروستاړو په مرسته افاده کېږي متکاملي ووایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ هره ډله ژبې که مجردي وي او که بدليدونکي او يا بدليدونکي د ننه په خپل سيستم کي تکامل کوي اود تکامل قوانين ئې بايد د ننه په هر سيستم کي په جلا ډول ولټول سي نه د باندي له سيستمه، د چيني ژبې( مجردي ژبې ) تکاملي سير بايد په خپله د چيني ژبې په تاريخ کي وسپړل سي نه داچي د چيني ژبې تکاملي سير د انګليسي ژبې په تاريخ کي ولټول سي. ننني چيني ژبې هغه ساده او ابتدايې شکل نه لري، کوم چي زرکاله پخوا ئې درلود او دا قانون د ټولو ژوندیو ژبو په برخه کي صدق کوي پښتو، روسي، انګليسي او نورو ټولو ژبو همداسي ابتدايي او ساده شکلونه درلودل، چي له اوسني وخت سره نه مقايسه کېږي، داځکه چي ژبه يوه اجتماعي زېږنده (پديده) او د ټولني د افهام او تفهيم وسيله ده او د ټولني د تکامل سره سم وده او انکشاف مومي. هر مطلب چي نن ورځ په پښتو، روسي او انګليسي (چي د نه بدليدونکو او بدليدونکو ژبو په ګروپ پوري اړه لري) کي افاده کېداى سي همدغه شان چيني ژبه (چي په مجرد ګروپ پوري اړه لري ) د هر ډول فکر د ځرګندوني پوره استعداد لري.

له ډېري مودي راهيسي پوهان په دې هڅه کي وو، چي ثابته کړي، چي ژبه کټ مټ يو داسي اورګانيزم دى، لکه حيوان او نبات او د ژبو منځ ته راتګ او تکامل هم د هغو طبيعي قوانينو پر اساس منځ ته راځي، دکومو پر اساس چي نور ژوندي موجودات زېږي او انکشاف کوي يعني ژبه زېږي، د بلوغ مرحلي ته رسيږي او په پاى کي زړېږي. د ژبې دغسي تحليل خصوصاً په نولسمه پ. کي زيات عموميت پيدا کوي. ددې علت هم دادى، چي په نولسمه پ. کي طبيعي علوم زياتو موفقيتونو ته رسيږي، مګر د ژبې په باره کي دا ډول قضاوت، چي ژبه کټ مټ داسي يو اور ګانيزم دى لکه حيوان او نبات څېړونکي ته د واقعي او حقيقي پېښو سمه تشريح او حل نه سي ورکولاى، بلکي برعکس ئې له واقعيته لېري کوي، ځکه ژبه د انساني ټولنو د راشى او درشى تماس او معاشرت مهمه وسيله ده. بې له ژبې بشري رابطه او معاشرت ناممکن دي او بې رابطي او تماس نه په خپله انسان وجود لري او نه ټولنه، بې له ژبې تفکر هم ناممکن ښکاري يعني د ژوند او واقعيت درک او په خپله د انسان مفهوم بې ژبې په يوه تپه تياره کي را ايساريږي.

ژبه يوه اجتماعي پديده ده او د باندي له انسانه او ټولني منځ ته نه سي راتلاى، نو په همدې اساس د ژبې د ماهيت او تکامل څېړنه د باندي له انسانه علمي ارزښت نه لري ددې ټولو خبرو څخه دې نتيجي ته رسيږو چي: ژبه نه طبيعي پېښه ده او نه بيالوژيکي د ژبې موجوديت او انکشاف په هيڅ ډول د طبيعي قوانينو تابع نه ګڼل کېږي او هغه طبيعي قوانين د کومو پر اساس چي حيوانات او نباتات منځ ته راځي او تکامل کوي د ژبې د ماهيت او ودې په برخه کي عملي کېداى نه سي.

د شلمي پ. په ژبپوهنه کي هم ځينو پوهانو کوښښ کړى، چي د ژبو د مارفولوژيکي ويش په برخه کي مشخص علمي معيارونه وټاکل سي او د پخواني ويش نيمګړې خواوي پوره کړي ژې ښه مثال ئې د امريکا د مشهور عالم اډوارډ سپير مارفولوژيکي ويش ګڼلاى سو.

اډوارډ سپير په خپل کتاب «ژبه ـ ۱۹۲۱» کي د ژورو علمي څېړنو په ترڅ کي دې نتيجي ته رسيدلى، چي ټولي ژبې د ګرامري جوړښت له پلوه پر ۲۱ ګروپونو ويشل کېداى سي. د مارفولوجيکي ويش يو لوى مشکل دادى، چي د هغو معيارونو انتخاب د کومو پر اساس چي ژبې پر بېلو بېلو مارفولوژيکي ګروپونو ويشل کېږي اختياري کار دئ او کوم معين او ټاکلي پرنسيپونه په دې برخه کي نسته، نو ځکه يو عالم د خپلو ټاکلو معيارونو پر اساس ژبې پر دوو ګروپونو او بل ئې د خپلو ټاکلو پرنسيپونو له مخې پر درو، څلورو او داسي نورو ګروپونو ويشي . له بلې خوا که يوه ژبه له يوه پلوه وڅېړله سي په يوه ګروپ او که له بل اړخ څخه ورته ځير سو نو بيا په بل ګروپ کي داخليداى سي، مثلاً مخکي مو وليدل، چي په پښتو ژبه کي دګرامري جوړښت په لحاظ هم د نه بدليدونکو او هم د بدليدونکو ژبو خصوصيات سته او همدارنګه اکثرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبپوهانو ایندو اروپایې او سیمتي ژبې چې په خپلو منځونو کې ستر ګرامري او مارفولوژیکي اختلافونه لري بیا هم په یوه ګروپ کې راوړي دي.

ددې له پاره چې مارفولوژیکي ویش یو علمي ارزښت پیدا کړي او پر سمو پرنسیپونو بنا وي، نو د ا. ا. ریفرماتسکي د نظریې په تائید باید دوې اساسي مسئلې په نظر کې ونیول سي:

۱ ـ ښه به دا وي، چې د ژبو په مارفولوژیکي ویش کې د هغو ژبو ګرامري جوړښت سره پرتله سي، چې په تاریخي لحاظ په یوې کورنۍ پوري اړه لري او د یوې کورنۍ غړي بلل کېږي، ځکه په مارفولوژیکي ویش کې یوازې د تشریحي میتود له پلوه د ژبو ګرامري جوړښت سره مقایسه کول کافي نه ګڼل کېږي او سربیره پر دې باید د مقایسوي ـ تاریخي میتود څخه هم پوره استفاده وسي او د مقایسوي ـ تاریخي میتود څخه په دې برخه کې هغه وخت لازمه ګټه اخیستلای سو، چې زموږ مقایسه د یوې کورنۍ پر ژبو بناء وي.

۲ـ په مارفولوژیکي تشریح کې به بده نه وي، چې په بېل ډول د هري ژبې ټول مارفولوژیکي خصوصیات و څېړل سي، خاص او عام قوانین ئې وټاکل سي. دغسي څېړنه به له ګټو څخه خالي نه وي. له یوې خوا د پردیو ژبو د زده کړې له پاره منظم درسي مواد ترتیبیدای سي او له بلې خوا د ترجمې (خصوصاً ماشیني ترجمې) په برخه کې پوره اسانتیاوې برابریدای سي.

## فرازیالوژي او سبکي علامې

### فرازیالوژي(۱):

د روسي ژبې ژبني اصطلاحات د څېړنو اوږد تاریخ لري او حتی په هغو قاموسونو کې، چې په اوولسمه پېړۍ کې خپاره سوي دي ژبني اصطلاحات پکښې ۵ را غونډ سوي دي. ۲

همدارنګه د روسي ژبې معاصر قاموسونه هم د ژبنیو اصطلاحاتو له پلوه خورا غني دي سربیره پردې، چې ژبني اصطلاحات په قاموسونو کې ثبت سوي دي، د روسي او شوروي دورو ژبپوهانو په دې برخه کې زیاتې علمي څېړني کړې دي، چې د دوی د تحقیقاتو په نتیجه کې فرازیالوژي اوس د ژبپوهنې د یوې مستقلې څانګې حیثیت غوره کړی دئ. د غربي اروپا او امریکا په ژبپوهنه کې دې موضوع ته تر اوسه پوري پوره پاملرنه نه ده سوې. ا . و. کونین په خپل هغه اثر کې، چې د (انګلیسي ژبې فرازیالوژي) نومیږي داسي لیکلي چې: «د غربي اروپا او امریکا په ژبپوهنه کې د فرازیالوژۍ د تصور په برخه کې تر اوسه پوري کوم خاص اثر نه دئ لیکل سوی، سره له دې چې د دوی په قاموسونو کې ژبني اصطلاحات ډېر راغونډ سوي دي».

په دې څه وروستیو کلونوکې په شوروي ژبپوهنه کې ډېر آثار خپاره سوي دي، چې د ژبنیو اصطلاحاتو بیل بیل اړخونه پکښې څېړل کېږي، خو سره له دې هم د ژبنیو اصطلاحاتو ځیني مسئلې لا تر اوستني او لاینحه پاته دي. د ژبنیو اصطلاحاتو د وېش (کلاسیفیکیشن) او په قاموس کې د هغو د ثبتولو په برخه کې بیلې بیلې نظریې لیدل کېږي.

دفرازیالوژي په تیوریکه سپړنه کې د اکادیمیک و. و وینګرادف څېړنو مهم رول لوبولی دئ. ژبني اصطلاحات د معنوي جوړښت له پلوه د وینګرادف په آثارو کې پر درو ګروپونو ویشل کېږي:

---

۲ کابل مجله ۱۳۵۳ل کال ۳ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ـ په لومړي ګروپ کي هغه ژبني اصطلاحات داخليږي، چي معنايې د ترکيب د اجزاوو د معناوو څخه لاس ته نه راځي او اصطلاحي معنا د ترکيب د اجزاوو پر معنا متکي نه وي لکه (د پښتو ژبي دغه ژبني اصطلاحات: په سترګو نئوتل، پرسپين ډاګ غابښ وتل...) په دوهم ګروپ کي هغه ژبني اصطلاحات راځي، چي اصطلاحي معنايې د ترکيب د اجزاوو پر مجموعي معنا متکي وي لکه (د پښتو ژبي دغه ژبني اصطلاحات: د پايڅي رګ پالل، هر سړی پرخپله ټکي ور اړوي. دی د کراستي ملا بند دئ، پر بدو اوښتل ...).

۲ـ په دې ډله ژبنيو اصطلاحاتو کي هغه ژبنی اصطلاحات راځي، چي اصطلاحي معنايې په تحليلي ډول د ترکيب د ټولو غړو د معناوو سره ارتباط لري، لکه ( د پښتو ژبي دغه ژبني اصطلاحات: پښه اړول، باڼوپر باڼو ايښوول، اوږه کښل، بکړۍ د سره لوېدل ...).

د وينګرادف دغه ويشل دا . و. کليتنينه، ا . پ . مردو بلکه او داسي نور ډېرو ژبپوهانو په آثارو کي تائيد سوي دي. ن . م . ښانسکي هم ژبنيو اصطلاحاتو ته د اکاډيميک وينګرادف له نظره ګوري، خو دی د وينګرادف پر درو ګروپونو يو بل ګروپ هم زياتوي، چي په دې حساب دی د روسي ژبي ژبني اصطلاحاتو پرڅلورو ګروپونو ويشي. دده په عقيده په څلورم ګروپ کي هغه ژبني اصطلاحات راځي، چي که څه هم د ترکيب هر غړی ئې په خپله اصلي معنا استعماليږي او هم د ترکيب عمومي اصطلاحي معنايې د غړو د معناوو مجموعه ده، خو دغه ترکيبونه د استعمال په وخت کي تل خپل ترکيبي شکل ساتي او بي له کوم تغير څخه استعماليږي، چي په همدې اساس دغسي ترکيبونه د ژبنيو اصطلاحاتو په ډله کي راتلای سي، لکه (په پښتو ژبه کي دغسي ترکيبونه: د اوبو شين ډنډ، د سينما ټکس ...

ب . ن . ګلوين د ژبنيو اصطلاحاتو د څېړنو په نتيجه کي دې ټکي ته رسيږي، چي په روسي ژبه کي ژبني اصطلاحات پر څلورو ګروپونو ويشل کېږي. د وينګرادف پر ويش يو بل ګروپ هم ور زيات وي، چي د (اډيم ) په نامه ئې ياد وي.

په شوروي ژبپوهنه کي د اصطلاحاتو په برخه کي يو بل نظر هم سته، چي د پورتنيو نظريو سره پوره توپير لري او هغه دا چي ددې ډلي ژبپوهانو په عقيده سربيره پر پورتنيو ډولونو ټول هغه ترکيبونه، چي تر يوې اندازي پوري خپل ترکيبي ثبات ساتي او تل د مشخصو ترکيبونو په شکل استعماليږي هم د ژبنيو اصطلاحاتو په ډله کي راځي، لکه: متلونه، مقولې او هغه ادبي عبارات، چي عام معروفيت ئې پيدا کړی وي . سربيره پردې د ژبنيو اصطلاحاتو په برخه کي ځيني نوري نظريې هم سته، چي يادونه ئې دلته دومره موزونه نه ښکاري.

سره له دې، چي د ژبنيو اصطلاحاتو ويشنه پر خاصو ګروپونو نسبي بڼه لري او تر ډېره حده پوري د ژبپوهانو په ذهني قضاوت او هغو پرنسيپونو پوري اړه لري، چي ژبپوهان ئې پيروي کوي.

سره له دې ټولو اختلافونو بيا هم په شوروي ژبپوهنه کي د ژبنيو اصطلاحاتو د تشخيص او ويش په برخه کي د اکاډيميک وينګرادف نظر د تائيد وړګڼل کېږي، ځکه چي دده ويش له يوې خوا واقعيت ته نږدې دئ او له بلي خوا ددې خاصو ژبنيو واحدونو د واقعي وېشني په برخه کي زيات امکانات برابروي. د نورو ژبپوهانو په ويش کي اکثره ژبني اصطلاحات او عادي ترکيبونه يا ژبني اصطلاحات، متلونه او مقولې سره ګډيږي او پوره توپير ئې نه سره کېږي. ددغو وروستيو ژبپوهانو نظر کله کله په قاموسونو کي هم منعکس کېږي، مثلاً د شوروي اتحاد د علومو د اکاډيمۍ په قاموس (څلور ټوکه) کي او هم د اوښکوف په مشرح قاموس (څلور ټوکه) کي دغسي عادي ترکيبونه، لکه « ورو، ورو» «لږ، لږ» د قاموسي مقالو په پای کي د ژبنيو اصطلاحاتو په حيث راوړل سوي دي. دا ترکيبونه ژبني اصطلاحات نه دي، بلکي، لکه څنګه چي په هغه وخت کي ف . ف فرتو ناتف اشاره ورته کړي ده. دا هغه ډول ژبني ترکيبونه دي، چي يوه کلمه دوه واره د يوه مقصد يا يوه عمل د شدت په غرض تکراريږي او عادي ژبني ترکيبونه دي، نه ژبني اصطلاحات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژبنيو اصطلاحاتو يوه بله مهمه مسئله، چي تر اوسه تته او لاينحله پاته وه او په قاموسونو کي تر اوسه پوري کوم مشخص پرنسيپ نه دی ورته ټاکل سوی، هغه په قاموسونو کي د ژبنيو اصطلاحاتو د ثبتولو موضوع ده. په دې برخه کي، چي ژبني اصطلاحات ترکومو کلمو لاندي راوړل سي، قاموس ليکونکي تر اوسه کوم مشترک ټکي ته نه دي سره رسيدلي او په مختلفو قاموسونو کي د بېلو بېلو پرنسيپونو څخه کار اخيستل سوی دئ.

پ . ب . زودين او ک . ا . لېبديف په دې عقيده دي، چي ژبني اصطلاحات دې د ژبنيو اصطلاحاتو د ترکيب ترهغې کلمې لاندي راوړل سي د کومي سره چي د ژبنيو اصطلاحاتو معنا هيڅ ارتباط نه لري. اس . اي. اوږيگف بيا د خپل قاموس په مقدمه کي ليکي، چي ژبني اصطلاحات دي ترهغو کلمو لاندي راوړل سي، له کومو سره چي د ژبنيو اصطلاحاتو عمومي معنا اړخ نه لگوي. مگر د شوروي اتحاد د علومو د اکاډيمۍ په کوچني قاموس (څلورټوکه) کي بيا يوه ژبنۍ اصطلاح د ترکيب تر ټولو کلمو لاندي د قاموسي مقالو په پای کي په مکرر ډول سره راوړل کېږي، خو يوازي په يوه ځای کي تر هغې کلمې لاندي تشريح کېږي، کومه چي د ژبني اصطلاح معنوي مرکز تشکيلوي. پروفيسر اي. و. رخمانف کوښښ کړی، چي ددغو مشکلاتو د حل له پاره يوه عملي لار پيدا کړي، نو دی د حل لار په دې کي لټوي، چي ژبني اصطلاحات دې پر دوو گروپونو وويشل سي. يو هغه گروپ ژبني اصطلاحات دي، چي عمومي معنايې د ترکيب د کلمو پر معناوو متکي نه وي.

نو په دې اساس ( دده په عقيده) د لومړي گروپ ژبني اصطلاحات د کلمو تر هغو معناوو لاندي را وړل کېږي، د کومو سره چي د ژبنيو اصطلاحاتو معناوي اړه لري او دوهم گروپ ژبني اصطلاحات په مستقل ډول د قاموسي مقالې په پای کي راوړل کېږي.

لکه څنگه چي څرگنديږي دغه ټول روشونه په قاموس کي د ژبنيو اصطلاحاتو د ثبتولو مسئله نه سي حل کولای. ددې خبري د اثبات او د موضوع د وضاحت له پاره به د پښتو ژبې يوه ژبنۍ اصطلاح را واخلو او خبري په پر وکړو. په پښتو ژبه کي (د پايځې رگ پالل) يوه ژبنۍ اصطلاح ده. د زودين، اوږيگف اولېبديف د نظرياتو پر اساس دا اصطلاح بايد ددې ترکيب ترهغې کلمې لاندي راوړل سي د کومي د معنا سره چي ارتباط نه لري، خو دلته دا مشکله ده، چي سړی دي په وپوهيدای سي، چي ددې ژبنۍ اصطلاح معنا د درو کلمو (پايځه، رگ، پالل) له ډلي څخه د کومي يوې د معنا سره ارتباط نه لري، چي ترهغي لاندي ثبت سي.

بله خبره داده چي ژبنيو اصطلاحاتو اصطلاحي معنا نه يوازي دا چي د ترکيب د کلمو د معناوو سره مستقيم ارتباط نه لري، بلکي کله کله هيڅ ارتباط نه لري. که چيري دغسي ارتباط موجود وي نو ژبني اصطلاح نه سو ورته ويلای بلکي، د ژبې يو عادي ترکيب ئې بولو. همدارنگه هغه روش چي د شوروي اتحاد د علومو د اکاډيمۍ د قاموس له خوا وړاندي کېږي موضوع لاهم پيچلي کوي، ځکه (د پايځې رگ پالل) په ژبني اصطلاح کي کومه کلمه پايځه، رگ او يا پالل د معنوي مرکز حيثيت لري. دا څرگنده ده په هغو ژبنيو اصطلاحاتو کي، چي عمومي معنايې د ترکيب د کلمو پرمعناوو متکي نه وي داسي کلمه پکښې نسته، چي هغه دي د معنوي مرکز په حيث وټاکل سي. ددې ټول بحث څخه يوې داسي نتيجې ته رسيږو، چي د ژبنيو اصطلاحاتو د ثبتولو په برخه کي بايد يو داسي پرنسيپ غوره سي، چي د يوې خوا عملي جنبه ولري اوله بلې خوا د قاموس ليکونکو د ذهني قضاوت دخالت پکښې لږ وي. زما په عقيده يوازيني عملي او غوره پرنسيپ به دا وي، چي په قاموسي مقالو کي دې ژبنۍ اصطلاحات د اصلي کلمو (کومکي توري په ژبنيو اصطلاحاتو کي د اصلي کلمو په حيث نه گڼل کېږي) د الفبا په ترتيب راوړل سي. يعني ژبني اصطلاحات دي تر هغو اصلي کلمو لاندي راوړل سي، کومي چي د ژبنيو اصطلاحاتو د ترکيبونو په سر کي راغلي وي. په دې اساس د پښتو ژبنۍ اصطلاح (د پايځي رگ پالل) بايد د (پايځه) د قاموسي مقالې په پای کي راسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو قاموس کي ژبني اصطلاحات او تشريحي ساده عبارتونه يو ځای راوړل سوي دي. څرنګه چي ژبني اصطلاحات ددې قاموس په قاموسي مقالو کي په مستقل ځای کي نه دي راوړل سوي، نو د ثبتولو د پرنسيپ په برخه کي ئې د صحت او يا غلط قضاوت نه سو کولای او هم نه پوهيږو، چي د نوموړي پښتو قاموس ليکونکي کوم ډول ترکيبونه ژبني اصطلاحات بولي. داچي په پښتو قاموس کي د ژبنيو اصطلاحاتو دبېلولو په برخه کي پوره پاملرنه نه ده سوي، علت به ئې دا وي، چي تر اوسه پوري په پښتو ژبپوهنه کي د ژبنيو اصطلاحاتو د مفهوم او په قاموسونو کي د ژبنيو اصطلاحاتو د ثبتولو په برخه کي سستماتيکه څېړنه نه ده سوي.

د اسلانف په پښتو ـ روسي قاموس کي ژبني اصطلاحات د قاموسي مقالو په پای کي د يوې خاصي علامي په واسطه بېليږي. ددې قاموس ليکونکی داسي ليکي چي : « هغه اډيمونه او ژبني اصطلاحات چي د ترکيب د يوې کلمې د معنا سره هم ارتباط نه لري د قاموسي مقالې په پای کي راوړل کېږي او د يوې خاصي علامې په واسطه ښوول کېږي.» ( د همدې قاموس لسم مخ) د اسلانف د همدې ليکني څخه د ژبنيو اصطلاحاتو مفهوم او په قاموس کي د ژبنيو اصطلاحاتو د ثبتولو پرنسيپ څخه څرګنديږي، نو ځکه دده په قاموس کي د ژبنيو اصطلاحاتو مسئله مغشوشه غوندي ښکاري:

۱ ـ په دې قاموس کي اکثره متلونه او مقولي د قاموسي مقالو په منځ کي د تشريحي مثالونو سره يو ځای راغلي دي، خو کله کله بيا د قاموسي مقالو په پای کي د ژبنيو اصطلاحاتو په حيث راوړل سوي دي (لکه : عقل په ټکر حاصليږي(۲۷۵مخ)، ګوره چي اوښ په کوم اړخ چوکيږي (۳۲۵مخ). نو په دې اساس نه سو پوهېدای، چي نوموړي قاموس ليکونکي متلونه، مقولي د ژبنيو اصطلاحاتو په ډله کي شمېري او که يه؟.

په دې قاموس کي ډېري عادي او ساده جملې د قاموسي مقالو په پای کي د ژبنيو اصطلاحاتو په حيث ثبت سوي دي،لکه: مطلب ئې زه وم (دمطلب ترکلمې لاندي )، خپل حق بودول ( د بودول ترکلمې لاندي)، له چاپ نه بيرون کېدل(دبيرون ترکلمې لاندي)، د اوبو شين ډنډ (د ډنډ ترکلمې لاندي)، د لمبېدو ډنډ (د ډنډ ترکلمې لاندي )، دا څه خبره ده؟

(د «خبره» ترکلمې لاندي)، زما خبره دي نه منله (د «خبره» ترکلمې لاندي)... دغه ټول ترکيبونه، چي اسلانف د ژبنيو اصطلاحاتو په حيث راوړي دي، ژبني اصطلاحات نه دي، بلکي د پښتو ژبي ساده جملې دي که څه هم په دې قاموس کي د ژبنيو اصطلاحاتو د ثبتولو د پرنسيپ يادونه نه ده سوي، خو د پورتنيو مثالونو د تحليل څخه داسي څرګنديږي، چي ده د ژبنيو اصطلاحاتو د ثبتولو په برخه کي د هغه روش څخه پيروي کړې ده د کوم پر اساس، چي ژبني اصطلاحات تر هغو کلمو لاندي راوړل کېږي، چي په ترکيب ئې معنوي رول تر نورو کلمو زيات وي، ددې ډول روش د نيمګړتياوو يادونه مخکي راغلي ده.

## سبکي علامې:

په قاموس کي د سبکونو پر اساس د ژبي د لغوي پانګې وېشنه د قاموس ليکني د پرنسيپونو څخه يو اساسي پرنسيپ ګڼل کېږي. د معياري قاموسونو په برخه کي د شوروي اتحاد يو مشهور ژبپوهاند او قاموس ليکونکی اکاډېميک ل. و. شيربه ليکي: اکثره کله، چي خلک پرمعيارونو ږغيږي، نو دوی سبکي معيارونه هېروي.

که څه هم سبکي معيارونه تر نورو ژبنيو معيارونو مهم نه وي، نو د اهميت له پلوه ترهغوي کم هم نه دي. کله چي ئې له دغو معيارونو (سبکي معيارونو) ادبي ژبه خپل اصلي ارزښت له لاسه ورکوي.

په پښتو قاموس کي د سبکي علامو څخه په پوره توګه کارنه دئ اخيستل سوی. يوازي د مغغنو او پخوانيو کلمو په برخه کي ددغه ډول علامو څخه استفاده سوي ده، چي د (کلمو د انتخاب) په بحث کي موږ خبري پرې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه ژبه کي ټولي کلمې یو ډول نه دي ـ ځیني کلمې په یوه ژبه کي ډېري استعمالیږي او ځیني ئې بیا لږ ـ ځیني ادبي او ځیني بیا غیر ادبي ـ ځیني معیاري رنګ لري او ځیني لهجوي ـ ځیني نوي او ځیني زړې، ځیني محاوري او ځیني کتابي دي ځیني د علومو په کومه خاصه څانګه کي مروجي وي او ځیني ئې عمومي رنګ لري، له همدې کبله د قاموس لیکني د ننني اصولو سره سم باید یو معیاري قاموس وکړای سي. د یوې ژبي د لغوي پانګي دغه معنوي اختلافونه وښیې او د استعمال ساحه ئې و ټاکي.

اسلانف دغه علمي واقعیتونه درک کړي، نو ځکه دده قاموس د سبکي علامو له پلوه د نورو پښتو قاموسونو سره پوره توپیر لري. په دې قاموس کي هغه کلمې، چي د وینا په کومو خاصو سبکونو پوري اړه لري، د مشخصو علامو په واسطه ښوول کېږي. په پښتو ژبه کي یوازي د هغو سبکي علامو په برخه کي، چي لهجوي اختلافات څرګندوي د سم او نا سم قضاوت کول دروند کار دئ، ځکه تر اوسه پوري د پښتو ژبي لهجي په کافي ډول نه دئ څېړل سوي، نو که چیري یوازي د خپل ذهني قضاوت پر اساس یا نا کافي موادو پر بنا ځیني کلمې غربي یا شرقي، اپریدو یا وزیرو او د پښتو داسي نورو لهجو ته منسوبوو، نو نه یوازي داچي زموږ عمل به غیر علمي او غیر اصولي وي، بلکي په خپل قضاوت کي به مو ډېر اشتباهات هم کړي وي. مثلاً د پښتو ژبي دغه کلمې: غېږ، ښخول، اوبوز(وربوز) زموږ له نظره هم د معنا او هم د استعمال له پلوه معیاري ښه لري او کومې خاصي لهجي (شرقي یا غربي) ته نه منسوبیږي. مګر د اسلانف په قاموس کي دغه کلمې د هغو سبکي علامو له مخه، چي په قاموس کي ورته لیکل سوي دي، شرقي لهجي ته منسوبي سوې دي او د اسلانف په عقیده دغه کلمې معیاري نه دي، بلکي یوازي په شرقي لهجه کي مستعملي کلمې دي.

ددې له پاره، چي د کلمو د لهجوي خصوصیتونو د څرګندولو په برخه کي زموږ قضاوت عیني جنبه ولري، نو ښایې چي خپل قضاوت د پښتو ژبي د ټولو لهجو د سیستماتیکي څېړني پرموادو بنا کړو.

یوه بله موضوع، چي د اسلاتف په قاموس کي ګوته ورته نیوله کېږي، هغه داده، چي د دخیلو کلمو په برخه کي د ایمولوژیکي علامو تلل نه لیدل کېږي. په دې قاموس کي یوازي عربي دخیلي کلمې د علامو په واسطه څرګندي سوي دي. مګر کومي کلمې، چي له نورو ژبو څخه پښتو ته ورننوتي او اوس په پښتو ژبه کي مستعملي دي د کومو علامو په واسطه نه دی ښوول سوی.

## ختیځه ژبپوهنه

د اروپا اوسني تمدن ته چي خلک ګوري نو داسي ګومان کوي، چي دا تمدن به د پخوانیو اروپایانو څخه دوی ته په میراث پاته وي. دا هېوادونه به پخوا هم نسبت ختیځ ته په علمي، کلتوري او نورو چارو کي وړاندي وو، مګر کله چي تاریخ ته رجوع وسي، څرګندیږي چي د علم، هنر او کلتور پخواني مرکزونه د ختیځ هېوادونه دي. نن ورځ چي په علمي او ژبنۍ مسئلو کي پوره څېړنه وسي نو شروع او ابتدا ئې په تاریخي لحاظ په ختیځو هېوادونو پوري اړه لري.

فلسفه چي د انسان د عالي فکر او متمدني ټولني نمایندګي کوي په بشري ټولنو کي د لومړي ځل له پاره په ختیځ ـ مصر، بابل، هند او چین کي را پیدا سوې ده. ماتریالیستي او ایډیالیستي جهان بینۍ او علمي نظر ئې د طبیعت د څرنګوالي په برخه کي اول وار په ختیځ کي منځ ته راغلي، فلسفي افکار او نظریات په مصر، بابل، هند او چین کي حتی د غلامۍ په دوره کي (درې زره کاله ق. م) را پیدا کېږي او تکامل کوي.[۲]

[۲] کابل مجله ۱۳۵۳ل کال ۷ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنگه چي د تمدن اساس په ختیځو هېوادونو کي اېښوول سوی، همدا ډول ژبني تحقیقات هم مخکي له غربي نړۍ څخه په ختیځو هېوادونو کي شروع کېږي، چي وروسته بیا په غربي هېوادونو کي تکامل مومي.

دلته غواړو چي یوازي د ژبپوهني تاریخ ته یوه کتنه وکړو، ځکه د ژبپوهني تاریخ موږ د ژبپوهني د علم ـ د ژبي د تکامل ـ د څېړني د اصولو او میتودونو ـ د ژبپوهني د بېلو بېلو مکتبونو سره اشنا کوي. تاریخي معلومات د هغو کسانو سره چي د ژبي په بېلو بېلو برخو کي تحقیق کوي مرسته کولای سي.

د ژبپوهني د تاریخ په برخه کي ډېر کتابونه لیکل سوي دي، مگر داسي اثر چي په هغه کي دي د ختیځو هېودونو د ژبپوهني تاریخي تکامل په منظم ډول سره ښوول سوی وي ستنه.

د مثال په ډول: و. توسن(د ژبپوهني تاریخ د ۱۹ پ. تر اخره) ـ ر . و . ښور ( د ژبپوهني تاریخ له رونانه د ۱۹ پ. تر اخره) ـ ، ک . بولیچ (د ژبپوهني تاریخ په روسیه کي) ـ و . ا . زویگینځیف ( د ۱۹ ـ ۲۰ پ. د ژبپوهني تاریخ).

دې ټولو تاریخونو ته چي رجوع وسي نو بیا هم د ختیځو هېوادونو د ژبپوهني په برخه کي کوم منظم تاریخي معلومات نه سو موندلای او حتی په ځینو کي یې بیخي یادونه هم نه ده سوي. که څه هم کومي ژبنۍ څېړني چي په دې هېوادونو کي سوي دي د ژبپوهني په تاریخ کي ستر ارزښت لري.

**هند:** په پخواني هند کي د ژبپوهني په ټولو څانگو کي گرامري څېړنو ته زیاته توجه سوې ده، گرامر د ټولو پوهنو اساس و، او هر علمي تحقیق له گرامره شروع کېده. ددې علت هم دا و چي دوی غوښتل په پوره ډول ځانونه په سانسکرټ پوه کړي، سانسکرټ علمي او ادبي ژبه وه او د عوامو د ژبي پراکریت سره ئې په هغه وخت (۲۰ ـ ۱۰ پ . مخ. م) کي ډېر تفاوت درلود او تقریباً ټول علمي او ادبي کلاسیک آثار په سانسکریټ لیکل سوي وو او د سانسکرټ د کلاسیکو آثارو او مذهبي ترانو تجلیل د نوي نسل له پاره ډېر مشکل و، نو له همدې کبله ژبپوهانو گرامري څېړنو ته مخه وکړه ترڅو چي وکړای سي د کلاسیکو آثارو او مذهبي ترانو مشکل ځایونه توضیح کړي. ددې څېړنو په ترڅ کي هندي ژبپوهانو د لومړي ځل له پاره د (ریښې)، (سوفکس) او (وروستاړي) مفهومونه وضعه کړل.

د کلمو په تجزیه کي یې له خورا دقت څخه کار اخیست. د فونیم پوهني او ږغ پېژندني د تحقیقاتو پرنسیپونه ئې تر ډېره حده پرعلمي اساساتو بناء و. ددوی په عقیده د ژبي اساسي واحد جمله وه، ځکه چي (د دوی په عقیده) یوازي جمله کولای سي یو فکر څرگند کړي. کلمه دا استعداد نه لري، نو ځکه دباندي له جملې څخه موجودیت هم نه لري. کلمه د معنا په لحاظ او هم د شکل له مخي استقلال نه لري. کلمه بیا په عمومي ډول پر دوو برخو اصلي (ریښه) او فرعي (وروستاړي) ویشي. اصلي برخه هغه ده، چي فعلي معنا ولري او په مختلفو شکلونو کي مختلفي معناوې پیدا کوي.

د ژبي د تکامل مفکوره مخکي له میلاده په څلورمه پېړۍ کي د ورارو چي په کتاب چي (پراکریته ـ پرکاښه: یعني اولسي ژبه) نومیږي موندلای سو.

د ژبنیو څېړنو په ترڅ کي هندي ژبپوهانو قاموس لیکني ته هم ډېره توجه کړي او د قاموسونو ضرورت ئې احساس کړی دئ. په قاموسونو کي په عمومي ډول هغه لغات ثبتیدل چي د متنونو د پوهېدو په لار کي بې خنډونه پېښېدل. قاموس لیکنه په پخواني هند کي مشهور هندي گرامر پوه باسکه ( ۵ پ. مخ ، م .) ته منسوبیږي. څه وروسته مخکي له میلاده په څلرمه پېړۍ کي د سانسکرټ مشهور قاموس (امرا کاښه ) راوزي،چي مؤلف ئې د ژبپوهني په تاریخ کي د (امرادیوه) یا (امراسینها) په نامه یاد سوی دئ.

مگر سره له دې هم تر اوسه پوري ډېر لیکوال د قاموس لیکني د تاریخ شروع له لوېدیځو هېوادونو څخه رانیسي او عقیده لري، چي لومړني قاموسونه د ایټالوي او فرانسوي ژبي قاموسونه دي، چي په اولسمه میلادي پېړۍ کي راوتي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندي ژبپوهنه هغه وخت خپل ارتقا ته رسیږي او نوی رنګ غوره کوي، چې د پاڼیني(۴ پ. مخ . م) آثار را وزي. د پاڼیني ګرامر د پخواني هندي ګرامري څېړنو په برخه کې لومړنی منظم اثر ګڼل کېږي. په دې ګرامر کې د پخوانیو هندي ژبو د فونیم پوهنې، صرف، نحو او لغاتو په برخه کې مفصلې څېړنې سوې دي، په دې تحقیقاتو کې له هغه علمي میتود څخه کار اخیستل سوی، چې په معاصره ژبپوهنه کې د تاریخي ـ مقایسوي میتود د اروپایي ژبپوهانو د څېړنو محصول بلل سوی دئ.

**چین:** کومې ژبنۍ څېړنې، چې په چین کې شروع کېږي تر ډېره حده په عمومي ډول د هندي ژبپوهنې د خط السیر سره فرق لري. په هند کې اکثره څېړنې پر ګرامر بنا وې، مګر په چین کې بیا زیاتره فلسفي رنګ غوره کوي . ژبه د پخوانیو چیني پوهانو په عقیده د طبیعت محصول ده. کوم ږغونه، چې د انسانانو له خولې وزي د مرغانو، تالندې او سیندونو له آوازونو سره کوم تفاوت نه لري. انسان په اصل کې ګونګ منځ ته راغلی، لکه وابنه، اوبه او کاڼي. سړی هغه وخت مجبورېږي، چې خبرې وکړي کله چې نه غواړي خبري وکړي او کوښښ کوي ځان له خبرو کولو څخه وساتي. انساني آوازونه د ځینو غړو د اهتزاز په نتیجه کې را پیدا کېږي. متکامله ژبه هغه وخت منځ ته راغلې، چې انسانان دا استعداد پیدا کړي، چې مستقلې معنا لرونکي کلمې تلفظ کړای سي، ځکه د ابتدایي انسانانو ژبې ډېر ساده شکل درلود.

د همدې تیورۍ (د ژبې د پیدایښت تیوري) مؤسس تر اوسه په مستند ډول نه د ئ معلوم، خو دومره څرګنده ده، چې دغه تیوري په اتمه پیړۍ کې د چین د مشهور عالم خان وین کون(۷۶۸ ـ ۸۲۴ م ). له خوا خپرېږي او تکامل مومي. که څه هم دا تحقیقات یو ساده شکل لري، خو بیا هم کولای سو، چې د ژبې د تکامل او پیدایښت په برخه کې ځینې اساسي ټکي پیدا کړو:

۱ – دا څېړنې د انساني ږغونو او طبیعي آوازونو ترمنځ یو مشابهت بیانوي. د انساني ږغونو منشاء او محرکات د باندې له انسانه لټوي. یعنې انسان مجبورېږي، چې خبرې وکړي او په دې خبرو کې له طبیعي آوازونو څخه تقلید کوي.

۲ـ انساني ږغونه د ځینو غړو (شونډانو، ژبې ....) د اهتزاز په نتیجه کې را پیدا کېږي.

۳ ـ د چیني ژبپوهانو د توضیحاتو څخه دا څرګندېږي، چې دوی عقیده لرله چې د ژبې د تکامل او انساني فکر ترمنځ ټینګې اړیکې موجودې دي.

د هند او چین د پخوانیو کلتوري روابطو په ترڅ کې د لومړي ځل له پاره هندي پوهانو د چین د ژبې په برخه کې عمیقې څېړنې شروع کړې. دوی د چیني ژبپوهانو په ګډون د چیني ژبې خط (د سانسکرت د الفباء له مخه) ترتیباوه؛ د چیني ژبې د فونیتیکي مشخصاتو څېړنه د چیني عالم ښین یو(۴۴۱ـ ۵۱۳ م ) له خوا سوې ده.

په چین کې د ژبپوهنې علمي اساسات د خان(۲۰۶مخ . م. ـ ۲۲۰) د کورنۍ په دوره اېښودل سوي دي او هغه اساسي مسئلې طرحه کېږي، چې د ژبپوهنې سره مستقیم ارتباط لري. زاړه متون له نوي انتقادي نظره څېړل کېږي. د زړو متونو د توضیح او تشریح له پاره مخصوص مکتبونه پرانیځي. د فونیم پوهنې لهجو پیژندني، لیک او ګرامر مسئلې د تیوریکي پرنسیپونو پر اساس څېړل کېږي.

په همدې دوره کې د لهجو قاموس جوړېږي چې مؤلف ئې بان سیون(۵۳مخ. م ـ ۱۳م) ښوول سوی دئ. په همدې قاموس کې د مختلفو لهجو مترادف لغتونه راټول سوي او د هر لغت د استعمال سیمې شوول سوي دي. په همدې دوره کې ځینې داسې قاموسونه هم جوړ سوي دي، چې په هغوی کې لغتونه د الفباء په ترتیب نه دې لیکل سوي، بلکې ټولې کلمې د وروستاړي په ترتیب راغلې دي یعنې په کلمو کې وروستي توري او د خج ځای په نظر کې نیول سوي دي. دا قاموسونه ددې مقصد له پاره جوړېدل چې چیري کوم څوک غواړي شعر وزنونه (۶۰۱م، ۷۵۱م) پکښې را غونډ سوي دي. ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول قاموسونو په مرسته لوستونکو کولای سول چي د پخوانیو شاعرانو د شعر شکل ځایونه توضیح کړي.چیني ژبپوهانو د ژبپوهني په مختلفو څانګو لکه سبک پېژندني (لیوچړي ـ څړي:٦٦١ ـ ٧٢١م). سیما سیالوجي (او یوي : ١١٠٠ ـ ١١٥٥م) او نورو کي وړځېړني کړي.

چړوسي(١١٣٠ ـ ١٢٠٠م ). په خپلو تحقیقاتو کي له مقایسوي میتود څخه کار اخیستی.

**عربي ژبپوهنه:** د ژبپوهني د دوهمي متکاملي دورې مرکزونه سکندریه او مصر دي. مخکي له میلاده په دوهمه او دریمه پیړۍ کي د سکندریې ګرامري مکتب منځ ته راځي. ددې مکتب تحقیقات تر ډېره حده علمي خوا وي لري. د نورو پخوانیو ګرامري تیوریو په خلاف د سکندریې پوهانو زیاته توجه د ژبي ږغیز اړخ ته وه. که څه هم په دې برخه کي دوی نسبت هندي پوهانو ته وروسته پاته معلومیږي، ځکه دوی د فونیم پوهني له درو څانګو فونولوجي، فزیالوجي او ژغ پیژندني څخه یوازي یوې څانګي ـ ږغ پیژندني ته زیاته توجه کړي ده.

د هندي پوهانو په خلاف د عربي ژبپوهانو په عقیده کوچنی ژبنی واحد کلمه ده او جمله بیا د کلمو هغه ترکیب ده چي یوه مفکوره افاده کوای سي.

عربي ژبپوهنه د خلافت په دوره (٧ ـ ١٢ پ) کي ډېر سریع پیشرفت کوي. عربو نه یوازي د زاړه کلتور ارزښتونه ساتلي او نوي دنیا ته ئې وړاندي کړي، بلکه په خپله دوی جغرافې، تاریخ، الجبر، طب، ژبپوهني او نورو برخو کي ډېر اثار لیکلي چي د نړۍ د تمدن په تاریخ کي د ستاینې وړ موقعیت لري.

د عربي ژبپوهني د انکشاف او هغي ته د زیاتي توجه علتونه دا وو، چي عربو غوښتل قرآن چي د عوامو د ژبي او ځینو عربي لهجو سره ئې اختلاف درلود، خلکو ته توصیح او په اسلامي احکامو مسلمانان پوره پوه کړي او له بلي خوا خپله ژبه د مختلفو عربي لهجو او غیر عربي کلمو له نفوذه پاکه وساتي. ددغه ضرورت پر اساس و، چي د عربي ژبپوهانو د تحقیقاتو یو ستر موفقیت دا بللی سو چي دوی هغه فارمولونه چي مخکي له دوی نه وضعه و، په میخانیکي ډول پرخپله ژبه نه تطبیقوي بلکي برعکس د خپلي ژبي داخلي جوړښت فونیتکي، مارفولوجیکي او لغوي اړخونه څېړي.

قوانین او فارمولونه په خپله د ژبي څخه راباسي، ځکه هره ژبه ځانته بېل جوړښت او جلا جلا ګرامري قوانین لري. د یوې ژبي ګرامري فارمولونه را نقلول پر بله ژبه تحمیلول ستره علمي اشتباه ده. متاسفانه د پښتو ژبي په برخه کي چي کومي څېړني سوي دي، تر ډېره حده تقلیدي بڼه لري. د مثال په ډول په پښتو ژبه کي دغه فعلي شکلونه ـ اغوندم ـ اغوندو ـ اغوندې، ځم ـ ځو ـ ځي موجود دي، چي ددې فعلي اشکالو هغه اصلي شکلونه را پیدا کړي، چي دا ټول فعلي شکلونه ځیني جوړیږي. دوی ددې په عوض کي چي په خپله پښتو ژبي ته رجوع وکړي د عربي ژبي د ګرامري قوانینو تر تاثیر لاندي راځي. په عربي ژبه کي ټول افعال او اسماء د مصدر څخه جوړیږي او مصدر هم ځکه ورته وایې چي افعال او فعلي اسماء ځني صادریږي. نو ددې فارمول پر اساس دوی داسي فیصله کوي، چي په پښتو کي هم دا فعلي اشکال باید کوم شکل ولري، چي دا نور شکلونه ځني جوړسوي دي، نوځکه د اغوندم ـ اغوندو ـ اغوندي له پاره (اغوندل) د ځم ، ځو ، ځي، له پاره (ځل) مصدري شکلونه بولي. دغه او داسي نوري کلمې په قاموسونو کي ثبت سوې دي، خو هلته هم ورته لیکلي چي غیر مستعمل مصدرونه دي، نو کله چي سړی د نورو ژبو له چوکاټ څخه را ووزي او د ننه په پښتو ژبه کي د فعل جوړښت وسپړي دا څرګندیږي، چي په پښتو کي افعال د مصدر څخه نه جوړیږي، بلکي ټول فعلي اشکال د فعل له اصلي جز څخه لاس ته راځي. په همدې اساس د پورتنیو فعلي اشکالو اصلي فعلي اجزاء (اغوند ـ ) او (ځـ) دي، چي اغوندم، اغوندو، اغوندې او ځم، ځو، ځي ځني جوړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربي ژبپوهانو د لغت پوهني او قاموس ليکني په برخه کي د ستايني وړ علمي تحقيقات کړي او ډول ډول قاموسونه ئې خپاره کړي دي. د مترادفو لغاتو په قاموسونو کي د (تورې) د کلمې له پاره پنځه سوه د (مزري ـ زمري) د کلمې له پاره پنځه سوه د (اوښ) د کلمې له پاره زر او داسي نورو لغتونو له پاره مترادفي کلمې راټولي سوي دي. د عربي قاموس ليکني په تاريخ کي د الفيروز ابادي اثر شهرت لري، چي په يوه روايت په شپيتو او په بل روايت په سلو جلدونو کي ليکل سوی دئ. دا قاموس نه دی ساتل سوی، خو فيروز ابادي يو بل قاموس ليکلی چي د همدې پورتني قاموس پر اساساتو بنا دئ. ددې دور يو بل مشهور قاموس، چي څلويښت زره لغتونه پکښې ثبت سوي دي د الجوهري قاموس دئ.

ددې لندي تاريخي څېړني څخه دا ښکاري، چي په ختيځو هېوادونو کي نه يوازي د ژبپوهني ابتدايي اساسات ايښوول سوي دي، بلکي هغه تاريخي ـ مقايسوي علمي ميتود چي په ۱۹ پېړۍ کي لوېديځه نړۍ ورسره بلدېږي، هم د ختيځو هېوادونو د ژبپوهانو د تحقيقاتو محصول بللی سو.

## د کلمو معنوي سپړنه

په دوو ژبيزو قاموسونو کي د کلمو د ترجمې او معنی سپړني په برخه کي د مختلفو پرنسپونو څخه کار اخيستل کېږي، چي اساس ئې په دې ډول دئ:[۲]

۱ـ ټکي په ټکي ترجمه. د يوې ژبي د يوې کلمې په مرسته د کومي بلي ژبي د يوې کلمې ترجمه.

۲ـ د يوې کلمې ترجمه د بلي ژبي د څو مترادفو کلمو په کومک.

۳ـ د تشريح او تعريف پر اساس د يوې کلمې معنا ښکاره کول.

په پښتو قاموس (پښتو ـ فارسي) کي د پښتو ژبي ډېرې کلمې په نيمګړې توګه معنا سوي او ترجمې له مخه د پښتو کلمو معنوي اړخونه پوره نه سي ښکاريدای.

په همدې قاموس کي ډېري داسي کلمې ليدل کېږي، چي د ترجمې په برخه کي ئې يوازي يوه کلمه د مترادفي کلمې په حيث راوړل سوې ده.د(کينل) کلمه يوازي په (کندن) سره ترجمه سوې ده. (کينل) او (کندن) د ځينو معناوو،لکه (دڅاه کيندل، د مځکي کيندل) له پلوه سره مترادفي دي. له بلي خوا د (کندن) کلمه خيني نوري داسي معناوې لري، چي (کينل) ئې نه لري. ( کندن) د شکول او کښل په معنا هم استعماليږي، خو د (کينل) کلمه دغه معناوي نه لري، نو په دې اساس د (کندن) کلمه له يوې خوا د (کينل) سره د ځينو معنوي اړخونو له پلوه نږدې ده او له بلې خوا د ( کندن) کلمه په ځينو نورو معناوو کي د پښتو ژبي د نورو کلمو، لکه شکول او کښل سره مشترک معنوي اړخونه لري. ددې مثال څخه دې نتيجي ته رسيږو چي: که څيري د دوو ژبو څو معناييزه کلمې د ځينو معناوو له پلوه سره مترادفي هم وي، بيا هم دغه کلمې په ځينو نورو معنوي اړخونو کي توپير سره لري . په پښتو قاموس کي د (بدلون) کلمه يوازي په (معاوضه) باندي ترجمه سوي ده که څه هم (بدلون) او (معاوضه) د ځينو معناوو( د يوشي بدلولو او عوضولو) له پلوه سره نږدې دي، خو د (بدلون) کلمه په پښتو ژبه کي د تحول او تغيير په معنا هم استعماليږي، چي په دې معنوي برخه کي د (معاوضه) سره توپير لري.

د (ننوتل) کلمه په (داخل شدن) ترجمه سوي ده. دغه دوې کلمې د ځينو معناوو، لکه: (کومي موضوع ته ور داخليدل ـ په يوي کي نفوذ کول، په کوټه يا کور ننوتل) له پلوه دوې مترادفي کلمې دي. که څه هم دغه دواړي کلمې په معناوو کي ډېري نږدي سره ښکاري، خو د استعمال له پلوه د دوی په منځ کي څه توپير ليدل کېږي. ويلای سو چي: احمد داخل کار شد( يعني احمد په کار شروع وکړه ـ يا احمد په کار کي داخل سو). دلته د ( داخل کار شد) پر ځای ( ننوت) نه استعماليږي.

---

[۲] کابل مجله ۱۳۵۳ل کال ۸ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د (کښل) کلمه يوازې په (کشيدن) ترجمه سوې ده، دغه دوې کلمې په ډېرو معناوو کې سره نږدې ښکاري، لکه ۱ ـ څکول ۲ـ ايستل، لکه ( دبوتو، کالو) ۳ـ څکول ( دسګرټو) ۴ ـ ايستل، لکه (د غاښو، د څاه څخه د اوبو کښل) ۵ ـ شړل ۶ ـ د کانال يا ويالې کښل ۷ ـ بې کاره کول (څوک له کاره کښل) ۸ ـ اچول (د کټوې څخه وريجې غورې ته ور اچول). سره له دې، چې (کښل) او (کشيدن) د ډېرو معناوو او استعمال له پلوه سره نږدې دي، بيا هم د دوی ترمنځ څه لږ توپير ليدل کېږي او هغه داچې (کښل) د کتاب د ليکلو او خط ليکلو په معنا استعماليږي، مګر(کشيدن) په دغو معناوو کې د (کښل) سره فرق لري.

که هرڅومره د دوو ژبو څو معناييزې کلمې سره نږدې او مترادفې وي، بيا هم هيڅکله د دوی ټول معنوي اړخونه او د استعمال ځايونه پوره مطابقت نه سره کوي. ددې اصلي علت دادی، چې د هرې ژبې کلمې خاص کلتوري، تاريخي او اجتماعي، معنوي تکاملي سير لري، چې د کومې بلې ژبې د کلمو د کلتوري او تاريخي سير سره سر نه خوري. په دې برخه کې اکاډيميک. ل . وبشير به، ليکي:

... په دوو ژبيزو قاموسونو کې يوه ستره او اصولي اشتباه له هغه تصور څخه منځ ته راغلې، چې ددوو ژبو مفهمونه معادل ګڼل سوي دي. د (شېربه په آثارو کې «قاموس ليکنې عمومي تيوري» د «روسي ـ فرانسوي قاموس» مقدمه ...).

ددوو ژبيزو قاموسونو دغه اشتباه په مدلل ډول ثابته سوې ده. دی ليکي چې: «که چيرې د دوو ژبو سره نږدې کلمې د يوه يا بل معنوي اړخ له پلوه سره مترادفې وي، بيا هم په خينو نورو معنوي اړخونو کې سره بېلېږي».

په همدې اساس په دوو ژبيزو قاموسونو کې د کلمو په ترجمه کې بايد د يوې معادلې يا مترادفې کلمې په راوړلو سره اکتفاء ونه سي، ځکه چې يوه څو معناييزه کلمه يو شمېر معناوې لري، چې دغه ټولې معناوې ئې د يوې مترادفې کلمې په راوړلو سره نه سي څرګنديدلای، نو د يوه ښه دوه ژبيز قاموس اصلي او لومړنۍ وظيفه داده، چې په يوه واضح او سيستماتيک ډول ددغسې کلمو معنوي اړخونه وسپړي.

کاريسل د کليمو او مفاهيمو د ارتباط په برخه کې ليکي چې: د يوه محدود تعداد کلمو په واسطه د مفاهيمو په تناسب د ويش پر اساس يو ستر تعداد مفاهيم څرګنديږي، نو په همدې اساس قاموس ليکونکي ته ښايي ، چې د يوې کلمې معناوې په ميتوديک ډول ترکومه ځايه، چې ممکنه وي، پرګروپونو و وېشي.

څرنګه چې په پښتو قاموس کې دغسې مثالو ته پوره پاملرنه نه ده سوې، نو اکثره پښتو کلمې په نيمګړې توګه معنا سوې دي، مثلاً لڅول يوه څو معناييزه کلمه ده، چې په پښتو ژبه کې دغه اصلي معناوې لري:

۱ـ بر بنډول او کالي ځيني کښل. ۲ـ سپينه او په ډاګه ويل. ۳ ـ توضيح کول. د (لڅول) دغه معناوې پښتو قاموس نه دي را اخيستي، بلکې يوازې په يوې مجازي معنايې اکتفاء کړې ده. په پښتو قاموس کې د (لڅول) کلمه داسې معنا سوې ده: «برهنه کردن و لخت کردن دزدها» دغه ترکيب هم ترډېره حده سم او واضح نه ښکاري. همدارنګه د (خړ) کلمې ته ليکي: «خړ ـ (۱)خاکي، (۲) خجل...» اول خو دا نه ده واضحه چې د (خاکي) څخه مقصد د خاورو څخه جوړ سوی او که خاورو ته ورته دئ. دوهم داچې (خړ) د خړو اوبو، وريځې او غير واضح ( د وخت په باره کې) معناوې هم لري، چې پښتو قاموس نه دي را اخيستي. په پښتو قاموس کې ځيني کلمې بې له ترجمې او بې له تشريحي مثالونو څخه يوازې تعريف سوي دي او دا تعريف کله کله دومره ناڅرګند وي، چې د لوستونکو له پاره د معما حيثيت لري، مثلاً د (جوړېدونکي) کلمه داسې تعريف سوې ده: «جوړېدونکي ـ آب وجلاب وغيره که درشکم قر قر کند» بل ځای ليکي: «تخم ـ نژاد ازتوکم پشتون است» په پښتو قاموس کې ځيني داسې نورې کلمې هم سته، چې معناوې ئې پوره څرګندې نه دي، لکه: بلوره، بلوده، نڅۍ، ټولېدل... ددې ټولو خبرو څخه دې نتيجې ته رسيږو، چې د يوې کلمې د معناوو په سپړنه کې د يو يا بل پرنسيپ څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړي توګه استفاده کول کافي نه ګڼل کېږي، نو ښه به دا وي، چي د کلمو د معنوي اړخونو د سمي سپړني په غرض د درو واړو پرنسیپونو څخه په مجموعي ډول کار واخیستل سي. ددې ډول روش په مرسته کېدای سي، چي د کلمو معناوي څرګندي او د استعمال طرزئې واضح سي.

بله مهمه موضوع، چي د کلمو د معنوي اړخونو د سپړني سره ارتباط لري هغه په قاموسي مقاله کي د کلمو د معناوو ترتیب دئ. کاریس د عملي (امپریزم) او تاریخي میتودونو په برخه کي داسي لیکي: چي موږ د کلمو د معناوو د ترتیب په برخه کي د دوو پرنسپونو سره مخامخ یو، چي هر یو ئې ځان ته بېل اساسات لري.

یو پرنسیپ عملي اړخونه په نظر کي نیسي او بل ئې عملي سمون ته زیات ارزښت ورکوي. مګر د کاریس دغه قضاوت زموږ له پاره د قناعت وړ نه دئ.

د دغو دوو پرنسیپونو (عملي او تاریخي) په مقایسه کي زموږ نظر دا دی: چي عملي (امپریزم) میتود هم په هغه اندازه یو واقعي او عملي میتود دئ، په کومه اندازه چي د کاریس له پاره تاریخي میتود علمي ښکاري.

څرنګه چي دوه ژبنی قاموس اصلاً ددې هدف له پاره جوړېږي چي په لومړي قدم کي د یوې ژبي د کلمو هغه معناوي څرګندي کړي، چي په اوسني حالت کي ډېري مستعملي معناوي او وروسته بیا لږ مستعملي او زړي معناوي لیکل کېږي عملي (امپریزم) میتود دئ ، نو ګومان نه کوم چي د ژبپوهانو په منځ کي به د عملي میتود د ترجیح په برخه کي کوم اختلاف نظر موجود وي، نو سمه به دا وي، چي په دوو ژبیزو قاموسونو کي د تاریخي میتود پر اساس په قاموسي مقاله کي په ترتیب سره اول د کلمو ایتمولوژي بیا هغه معنا چي دغې ایتمولوژي ته نږدې وي، بیا پخوانۍ غیر مستعمله معنا راوړل کېږي او د قاموسي مقالې په پای کي هغه معنا راځي، چي په اوسني حالت کي ډېره مستعمله او مروجه وي.

په پښتو قاموس کي په عمومي ډول اول د کلمو اوسنۍ ډېري مستعملي معناوي او وروسته بیا هغه معناوي راړل کېږي، چي لږ مستعملي او یا زړي وي، مګر د پښتو قاموس لیکونکو دغه سیستم ترپایه پوري نه دی ساتلی او ډېري داسي کلمې پکښې موندلای سو،چي اوسنۍ مروجي معناوي د قاموسي مقالې په پای کي راوړل سوې دي. په پښتو قاموس کي د (تاوان) د کلمې قاموسي مقاله په دې ډول ده:

«تاوان ـ ۱ـ اتهام ۲ ـ بارکردن ۳ ـ جرم، بدل و عوض مال تلف شده غیر ۴ – نقصان وخساره» ښه به دا وای، چي د (تاوان) د کلمې معناوي په دې ترتیب سره راوړل سوې وای: (تاوان) ۱ ـ نقصان، خساره ۲ ـ جرم ـ بدل و عوض مال تلف شده غیر ۳ ـ بارګران ۴ ـ اتهام ( که چیري دغه معناولري). همدارنګه په نومړي قاموس کي د بادام، چم، تکیه، ټابلي، درک ... د معناوو ترتیب نه دی ساتل سوی.

د اسلانوف( پښتو ـ روسی قاموس) د کلمو د معنوي اړخونو د سپړني، د کلمو د معناوو د ترتیب او ترجمې د روش له پلوه ترټولو پښتو قاموسونو ، چي تر اوسه خپاره سوي او زموږ لاس ته راغلي یو غوره اثر دئ.

څرنګه چي په مطبعه کي روسي حروف نه لرو، نو نه سو کولای، چي ددې قاموس ځیني قاموسي مقالې د نموني په ډول لوستونکو ته وړاندې کړو (د نموني په ډول وګورئ ددې قاموس دغه کلمې: ایښودل، احترام).

خو سره له دې بیا هم ددې قاموس دځینو کلمو ترجمه د قناعت وړ نه ښکاري. د (پرې ایستل) د کلمې د معناوو په لړ کي ځیني داسي معناوي هم راوړل سوي دي، چي غورځول، ترېیل ۲ ـ ویشتل ۳ ـ پرې ښوول، طلاقول(لکه د ښځي). په بل ځای کي (زنبیل) او (کچکول) د دوو مترادفو کلمو په حیث راوړل سوي، خو په پښتو ژبه کي (زنبیل) او (کچکول) دوه بیل مفهومونه افاده کوي. همدارنګه د اسلانوف په قاموس کي د هرکاره، سروبی، ړبنګی، باورسی ځیني معناوې سمي نه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژبنیو څېړنو په لړ کي سړی دې ټکي ته رسیږي، چي د یوې ژبې کلمې، چي وبلې ژبې ته ور ننوزي په معناوو کي ئې څه تغیرات پیښیږي او کله کله خپله پخوانۍ معنا له لاسه ورکوي او په یوه نوي معنا مروجه کېږي. اسلانف په خپل قاموس کي دغو معنوي تغیراتو ته تر ډېره حده پاملرنه کړي ده. مثلاً په عربي ژبه کي (مکان) یوازي د (ځای) په معنا استعمالیږي. خو کله چي دغه کلمه پښتو ژبه کي مروجه سوه، نو یوه بله معنایې هم پیدا کړه، چي اوس د (مکان) په پښتو ژبه کي سربیره پر(ځای) د (بیت الخلا) په معنا هم استعمالیږي. اسلانف هم په خپل قاموس کي دغه دواړي معناوي راوړي دي. که څه هم د (خطر) کلمه په عربي ژبه کي ډېري معناوي لري، خو اسلانوف یوازي هغه معناوي را اخیستي، چي په پښتو ژبه کي مروجي دي،(لکه مخاطر، خطر). خو کله کله بیا د اسلانف په قاموس کي د دخیلو کلیمو معناوي پوره سمې نه ښکاري.

(کمیس) په عربي ژبه کي د (خت، جامو) معناوي لري. مګر په پښتو ژبه کي کمیس یوازي د (خت) په معنا راغلی دئ او د (کالو او جامو) په معنا مروج نه دئ.

خو اسلانف په دغو دواړو معناوو راوړی دئ د (ثبت) کلمه په عربي ژبه کي د: ۱ ـ ثبات بدلون نه منونکي، استقامت، پایداري ۲ ـ په لست کي نېول ۳ ـ لیکل، ثبتول په معناوو استعمالیږي. په پښتو ژبه کي یوازي په دوهمه او دریمه معنا مستعمله ده مګر اسلانف په ټولو معناوو را اخیستي ده، همدارنګه د اسلانف په قاموس کي د تباشیر، اخست، متن، رسوخ کلمې په مستعملو اوغیرمستعملو معناوو سره ثبت سوي دي.

د معناوو د ترتیب په برخه کي په عمومي ډول اسلانف د عملي(امپریزم) میتود پیروي کړي ده، خو کله کله دغه ترتیب نه دی مراعات سوی، لکه: «پای ـ ۱ ـ پښه، پای مرد، ۲ ـ تېښته، فرار ۳ ـ آخر، انجام» په دې قاموسي مقاله کي د (پای) د کلمې لومړنۍ مستعمله معنا چي باید په اوله کي راغلي وای په پای کي راوړل سوې ده.

ددې له پاره، چي قاموس لیکونکی د خپلو دغسي اشتباهاتو څخه خلاص سي، نو ښه به دا وي، چي د معناوو د ترتیب په مسئله کي د ژبې پر احصایوي قاموسونو اتکا وکړي (که چیري په یوه ژبه کي دغسي احصایوي قاموسونه موجود وي).

## دفلسفي اصطلاحاتو قاموس نومینالیزم او ریالیزم

د نومینالیزم او ریالیزم اصطلاحات د لاتیني ژبې د (**Nomina**ـ قومونه) او (**Realis** ـ مادي) کلمو څخه اخیستل سوي دي، لکه څنګه چي په تېره مقاله کي اشاره وسوه، د غربي اروپایې هېوادونو د منځنیو پېړیو په فلسفه کي نومینالیزم او ریالیزم دوه اساسي فلسفي جریانونه وو. دا دوه جریانه د څوپېړیو په اوږدو کي د ځینو فلسفي مسئلو په تشریح کي ددوو مخالفو قطبونو په توګه یو دبل ضد مبارزه کوله.[۲]

ددوی مناقشه او شخړه د کُلي او جزیې مفاهیمو پر توضیح بنا وه.

«ریالستانو» به ویل،چي په واقعي ډول د روحي ماهیت پر اساس یوازي کُلي مفاهیم موجودیت لري او هم کُلي مفاهیم نسبت جزیې مفاهیمو( مفردو شیانو) ته مقدم دي. د دوی په عقیده د انسان هغه کُلي مفهوم، چي پرخپلو ټولو انواعو باندي دلالت کوي یو مقدم مفهوم دئ او وروسته بیا ددې کُلي مفهوم په رڼا کي اجزاء (اشخاص) په مفرد شکل پېژندل کېدای سي، یعني اجزاء یوازي دکُلي مفهوم له لاري پېژندلای سو. د «ریالستانو» ددې عقیدې اصلي منشاء د اپلاتون پر فلسفه بنا ده.

[۲] زیری جریده ۱۳۵۲ل کال ۴۰ کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومينالستانو برعکس ټينګار کاوه، چي په واقعي ډول يوازي اجزاء ( مفرد شيان) موجوديت لري او کُلي مفهوم يوازي هغه نومونه ده، چي د بېلو بېلو اجزاوو د ادراک په نتيجه کي وضعه کېږي.

د « رياليستانو» او نومیناليستانو مناقشه ورو ورو عميقه کېږي ترڅو، چي اساسي فلسفي بحث ته ور داخلېږي او لږڅه عميقه فلسفي مشاجره ترې جوړېږي. ددوی بحث داسي شکل غوره کوي، چي کوم شی مقدم او کوم شی مؤخره دئ؟ هغه شيان، چي موږ ئې د حواسو په واسطه احساسولای سو تر مفکورې مقدم دي (نومیناليزم) او که مفکوره مقدمه او شيان مؤخر دي (رياليزم)؟ زموږ ادراک د شيانو د حس کولو له لاري مفاهيم درک کوي او که د مفاهيمو له لاري اشياء؟

د نومیناليستانو او «رياليستانو» دې مناقشي ته يوازي د امپيريزم او راسيوناليزم مبارزوي بڼه غوره کړه، بلکي په واقعيت کي د ماټرياليزم او ايډياليزم ترمنځ مبارزه وه.

سره له دې،چي نومیناليزم په خپلو څېړنو کي ځيني مثبتي او علمي خواوي لري، خو بياهم دا به ستره اشتباه وي، چي نومیناليزم يوه علمي او مثبته فلسفه وګڼل سي، ځکه چي دوی د کُلي مفاهيمو او اجزاء وو د وحدت په واقعيت نه پوهېدل، نو ځکه ئې د کُلي مفاهيمو د واقعي موجوديت څخه رټ انکار کاوه. د سکولانستيک د فلسفي پيرو ب. تورسکي(۱۰۰۰ ــ ۱۰۸۸) چي د نومیناليزم د تکامل په لومړنۍ مرحله کي ( ۱۰ ـ ۱۱ پ.پ) ئې ستر رول درلود يوازي د هغو شيانو موجوديت يو واقعيت باله، چي د حواسو په واسطه درک کېدای سي.

## ژبه اوټولنه

..... ژبه د انعکاس او څرګندوني وسيله ده، نو دغه خاص اجتماعي او اقتصادي تشکيل په ژبه کي منعکس کېږي. د ټولني د اقتصادي، سياسي، کلتوري او تخنيکي انکشاف په وجه نوي مفاهيم منځ ته راځي. [۹]

دغه د نويو مفاهيمو منځ ته راتګ په خپل وار دا ايجابوي، چي د ژبي په وسيله افاده سي.

زما، ستا، دده، ستاسي، ددوی، ددې...کلمې دشخصي ملکيتونو د افادي له پاره( نه د خپلوۍ د روابطو د څرګندولو په غرض) د ټولني په يوې داسي تاريخي مرحلي کي استعمال سوي، چي هلته شخصي ملکيتونه منځ ته راغلي دي. په لومړي ابتدايي تاريخي دوره کي، چي شخصي ملکيتونه نه وو، نو ددغسې کلمو د استعمال احتمال په دغسې معناوو نه لېدل کېږي. همدارنګه د استعمار، استثمار... د کلمو استعمال او پيداښت په اوسنۍ مروجي معنی سره د ټولني په يوې بلي متکاملي تاريخي دورې کي د استعماله لوېږي او په عوض کي ئې د نوي ټولني د غوښتنو سره سم نوي لغتونه استعماليږي. دلته به يو ساده مثال راوړو: د تراکتور د راتګ سره د زاړه سيستم د يوي د آلاتو نومونه ورو۔ ورو له منځه ځي او د تراکتور د آلاتو او پرزو نومونه مروج کېږي.

د پښتو ژبي لغوي پانګه هم په خپل تاريخي تکامل کي د بېلو بېلو تغيراتو سره مخامخ سوې ده ځيني لغتونه له منځه تللي او زاړه سوي دي او ځيني بيا نوي را پيدا سوي دي.

پښتو ژبي ته د نورو ژبو، لکه : عربي، دري، ترکي، هندي، انګليسي او نورو اروپايي ژبو څخه د تاريخ په اوږدو کي د نوي مفاهيمو د څرګندولو په غرض ډېري کلمې او علمي اصطلاحات ( اقتصادي، سياسي، تخنيکي ...) راغلي دي او د تاريخي ضرورت پر اساس استعمال سوي او اوس هم استعماليږي.

---

[۹] زيری جريده ۱۳۵۵ل کال ۴۰ ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ژبې د لغوي پانګې دغه دخيله برخه د پښتو ژبې د لغوي پانګې ژوندۍ او فعاله برخه تشکيلوي. دغه ډول دخيل علمي اصطلاحات، چې د نورو ژبو څخه په يوه وخت کي پښتو ته راغلي او اوس عام استعمال هم لري، پردې لغتونه نه ګڼل کېږي، بلکي د پښتو ژبې د لغوي پانګې اصلي سرمايه ده.

ددې ډول علمي اصطلاحاتو او لغتونو په عوض کي نوي اصطلاحات او کلمې وضعه کول، د ژبې د تکامل د اصولو سره مخالف کار برېښي.

سربېره پردې کومه ګټه هم نه لري او دا په دې علت چې: ۱ـ د دغسې دخيلو مستعملو علمي اصطلاحاتو او لغتونو په عوض کي د ځانه نوي اصطلاحات وضعه کول د ژبې د تکامل د تيوري نه منل دي.

۲ـ د دغسې دخيلو مستعملو علمي اصطلاحاتو بدلول بې له دې، چې د اکثريت په تاوان وي، بله ګټه نه لري.

۳ـ دا کار به غير علمي او غير ممکن وي، ځکه چې که فرضاً يوازې يو د کيميا علم را واخلو، نو وينو چې په زرو علمي اصطلاحات لري چې يو قاموس په ليکل کېږي.

دا څنګه کېداى سي؛چې دغه ټول علمي اصطلاحات بدل کړو او که فرضاً بدل ئې هم کړو، څومره ګټه به ولري؟

۴ـ نن ورځ ژبپوهان په دې هڅه کي دي، چې د نړۍ د بېلو بېلو هېوادونو د خلکو د آساني مفاهيمي په عرض بين المللي ژبه جوړه کړي؛ مګر که موږ کوښښ کوو، چې هغه لغوي اشتراک چې اوس د ځينو بين المللي علمي اصطلاحاتو د استعمال په برخه کي د بېلو بېلو ژبو ترمنځ راغلی دی، په لوی لاس له منځه وړو او په عوض کي ئې نوي وضعه کوو، نه دا چې لويه اشتباه به مو کړې وي، بلکي غير ممکن کار برېښي او د نورو وخت به مو بې ځايه ضايع کړی وي.

ددې کار څخه کومه بله ګټه متصوره نه ده.

۵ـ د دغسې علمي مستعمل دخيلو اصطلاحاتو بدلول پښتو او دري ژبې د لغوي اشتراک له پلوه سره ليري او کوم لغوي اشتراک، چې د دواړو ژبو ترمنځ موجود دئ ضعيفه کېږي بايد کوښښ وسي، چې پښتو ژبه او دري ژبه د لغوي پانګې له پلوه نوري هم سره نږدې سي، چې د دواړو ژبو زده کړه ددواړو ژبو د ويونکو له پاره لا هم پسې اسانه سي، نه داچې دغه دوې ژبې د لغوي پانګې له پلوه سره لېرې کړو.

## امونيمونه اوپه قاموس کي د هغوی راوړل

د امونيمونو پېژندنه هم د تيوري له پلوه او هم په علمي ډول د ليکسيکالوژي او قاموس ليکني يوه مهمه مسأله ده. همدا وجه ده چې دې مسئلې د ډېرو ژبپوهانو اوقاموس ليکونکو توجه ځان ته راګرځولې. د امونيمونو د ټاکلو او په قاموس کي د هغو د ثبتولو په برخه کي بېلې بېلې نظرئې څرګندي سوي دي، خو د دې موضوع د پېچلتوب له کبله تر اوسه پوري ژبپوهان کومې واحدي تيوريکي او علمي فيصلې ته نه دې رسېدلي او د دوی د نظريو ترمنځ ستر توپير ليدل کيږي. له ۱۹۴۰-۱۹۳۰کلونو څخه د شوروي اتحاد په قاموس ليکنه کي د امونيمونو د ټاکلو او په قاموسونو کي د هغوی د ثبتولوپه برخه کي په عمومي ډول يو نظر موجود وو او هغه داچې د دوی په عقيده هغه لغتونه امونيمونه ګڼل کېدل چې د ريښو په لحاظ سره بېل او تلفظ ئې يو ډول وو؛ مګرکوم قاموسونه چې بيا د۱۹۵۰ کلونو په شاوخواکي خپاره سوي د امونيمونو دتعريف په برخه کي د زاړه او عنعنوي روش څخه اوښتي دي. په دې قاموسونو کي نه يوازې هغه لغتونه امونيمونه ګڼل کيږي کوم چې تلفظ ئې سره ورته وي او د ريښو په لحاظ سره بېل وي، بلکه هغه لغتونه هم امونيمونه ګڼل کيږي کوم چې تلفظ ئې يو ډول وي اود لغتونو د تاريخي تکامل پر اساس د يوې کلمې د بېلو بېلو معناوو د بيلتون په نتيجه کي منځ ته راغلي وي. دغه وروستی تعريف په هغه ژبني ميتود بنا دی چې د شلمې پېړۍ د علمي تحقيقاتو د پراختيا په نتېجه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ ته راغلي او په ننني ژبپوهنه کي د ستروکتوراليزم په نامه يادېږي. د ستروکتوراليزم پيروان په خپلو ژبنيو څېړنو کي د ژبي اوسني حالت ته زيات ارزښت ورکوي. او په همدې اساس د دوی دتحقيقاتو اساسي هدف د ژبي د اوسني حالت څېړنه ده که څه هم دوی په خپلو ژبنيو تحقيقاتو کي تاريخي ميتود له نظره نه اچوي. اکاديميک .و .و. وينګرادف ليکي: د ژبي په تاريخ کي تل د کلمو په معنوي سرحدونوکي بدلون او اختلاط پيښيږي، چي د همدې بدلون په اساس د يوې کلمې لغوي فرازيالوژيکي اشکال په مستقلوکلمو- امونيمونه بدليږي او هم برعکس امونيمونه د اتصال او اختلاط په نتيجه کي د يوې واحدې کلمې اشکال ګرځي (  ) ل. ل کوتينه په خپلو څېړنو کي داسي نتيجې ته رسيدلّی دئ : نن د امونيمونو اصطلاح د هغو کلمو له پاره استعماليږي؛ چي د تلفظ ورته والی ئې تصادفي وي او يا دا چي د يوې کلمې د بېلو بېلو معنا ؤ د لېري والي په نتيجه کي منځ ته راغلي وي(  ) که څه هم د امونيمونو په بڼخه کي د دغه ډول نظر تائيد د[3]شوروي اتحاد د زياتو مشهورو ژبپوهانو لکه: پرو فيسر. اس. ما سلف، او. اس. اخمانوه، ل. ا.نوويکف،ک. ا. تيمفيف، م. م. فلکوويچ، اس. ای. اوږيګف او داسي نورو... په اثارو کی ليدل کيږي او په درسي کتابونو کي هم دغه ډول نظرمنعکس کيږي، خو بيا هم د ټولو ژبپوهانو له خوا نه تائيديږي. د ستروکتوراليزم په مقابل کي يو بل ژبنی ميتود واقع دئ چي د ۱۹ پيړۍ په ژبپوهنه کي يوازنی علمي ميتود ګڼل کيدای شي، او د مقايسوي- تاريخي ميتود په نامه يادېږي. څرنګه چي د مقايسوي- تاريخي ميتود پيروان په ژبنيوتحقيقاتوکي تر ډېره حده پر تاريخي پيښنو اتکأ کوي اود دوی له پاره يوازينی علمي ميتود مقايسوي- تاريخي ميتود دئ، نو د دوی نظرهم د امونيمونو په برخه کي د ستروکتوراليستانو سره توپير لري. د مقايسوي- تاريخي ميتود پيروان يوازي هغه لغتونه امونيمونه ګڼي چي تلفظ ئې يو ډول وي، خو د اتمولوژي له نظره هيڅ ارتباط سره ونه لري او په تاريخي لحاظ د يوې ريښي څخه منځ ته نه وي راغلي. دغه نظر په ډېر صراحت سره د و. ای. ابايف په اثارو کي ليدل کيږي . و. ای. ابايف وايي چي په ژبه کي په واقعي ډول دوې مختلفي پښښي ليدل کيږي ؛چي يوه يي له بلي سره هيڅ ډول ارتباط نه لري. دغه دوې پيښي يوه د امونيمي په نامه او بله ئې د پليسيمي   په نامه يادېږي. ددې دوو پېښوتر[2] منځ هيڅ ډول پلونه اوګډ سرحدونه نه ليدل کيږي نه پليسيمي په امونيمي بدلېداسي او نه هم امونيمي په پليسيمي بدليدای سي   په همدې اساس ابايف معتقّد دئ چي د پليسيمي او امونيّمي[3] په بېلولو کي په هغه ميتود اتکأ وکړي،کوم چي دژبو په اوسني حالت پر څيړنو اکتفأ کوي څېړونکي له واقعت څخه لېري کوي، ځکه دا ميتود د پليسيمي او امونيمي سرحدونه سره ګډ وي او د دې په عوض کي چي د دې ميتود په وسيله په واقعي ډول د لغتونو معنوي سيستم وسپړل سي د هغه معکوسه او کږه بڼه څرګنديږي. همدارنګه و.تی. ابايف د تاريخي ميتود په رڼا کي امونيمي او پليسيمي داسي سره بېلوي:

۱-هغه يو ډول غږيز لغتونه چي په تاريخي لحاظ يو له بله سره هيڅ ارتباط ونه لری، او د يوې کلمې د مختلفو معناوو د ليري والي په نتيجه کي منځ ته نه وي راغلي، او هر لغت ځانته بېل تاريخی سير ولري نو دغو لغتونو ته واقعي امونيمونه ويل کيدای سي

۲- هغه يو ډول غږيز لغتونه چي معناوي ئې اوس يوه له بلي څخه لري ښکاري خو په تاريخي او اتمولوژيکي لحاظ يو له بل سره داسي ارتباط ولري چي د يوه لغت دبېلو بېلو معناوو د بيلتون په نتيجه کي منځ ته راغلي وي واقعي امونيمونه

---

[30] و.و وينګرادف- دکلمي شکلونه.دعلومو داکاډمي خپرونه.دژبي او ادبياتوڅانګه ۳ ټوک،۴۳ مخ،۱۹۴۴کال

[31] ل.ل کوتينه،د امونيمونو مسأله او داسني روسي ژبي په قاموسونوکي دهغوی انعکاس.دقاموس ليکني مجموعه،۴ټوک،۵۸ مخ،م،۱۹۶۰کال

[32] کله چي يوه کلمه څومعنی وي ولري نو دغسي پيښی ته پليسيمي وايي ،لکه داړول کليمه چي داسي معناوی لري.اړول(۱)يوشی پربل مخ کول،پړمخي کول،(۲)کريابول،محتاجول(۳)بيرته ګرځول،پښيمانه کول،له لاري ايستل،عقيده وربدلول.

[33]،ابايف په قاموسونو کي د مونيمونوثبتول.دژبپوهني مسألي،۳ګڼه،۳۳-۴۰ مخ م،۱۹۵۷کال. و،ای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سلف نظر دتائید وړ دئ. دده په عقیده ټول هغه شکلونه (د لغتونو، مورفیمونو او ترکیبونو په سویه) چي تلفظ ئې یو ډول او معناوي ئې سره بېلي وي او امونیمونه بلل کیدای سي په دې تعریف کي دا په نظر[5] کي نه نیول کیږي چي دا یو ډول[3] غږیز لغتونه څنګه منځ ته راغلي د تاریخي تکامل پر اساس د یوې کلمې د بېلو بېلو معناوو د لېږي والي په نتیجه کي منځ ته راغلي او که په اتمولوژیکي هر یو بېل تاریخي سیر لري. د ژبي د اوسني حالت په څېړنه کي زموږ له پاره دومره کافي ده چي هغه لغتونه او امونیمونه (متشابه) وګڼو چي تلفظ یي یو ډول او معناوي ئې سره بېلي وي دا چي دغه لغتونه په پخوانیو وختونو کي څنګه وو، د ژبي د اوسني حالت د څېړني له پاره کوم مهم رول نه لري. د مثال په ډول په اوسني پښتو ژبه کي د کوټه (باطل) کوټه (خونه) او تور (د سپین ضد)- تور (تهمت) امونیمونه دي ؛ځکه چي تلفظ یي یو ډول او معناوي ئې سره بېلي دي. دا چي په پخوانیو زمانو کي کوټه (خونه) –کوټه (باطل) او یا تور (د سپین ضد) تور (تهمت) د یوه لغت بېلي معناوي وي او یا مستقیلي کلیمې وي د ژبي د اوسنی حالت په څېړنو کي د امونیمونو د تعریف په برخه کي کوم تغیر نه شي راوستلای، ځکه که چیري د اتمولوژیکی څېړنو په نتیجه کي ثابته هم شي چي کوټه (خونه) –کوټه (باطل) له یوې رېښې څخه منځ ته راغلي دي بیا هم دغه دوې کلمې امونیمونه دي. ځکه چي اوس ئې غږیزه بڼه یو ډول او معناوي ئې سره بېلي دي. د همدې څېړنو په نتیجه کي ویلای سو چي د اوسنۍ پښتو ژبي په قاموسونو کي د دغه واقعیت منعکس کول ضروري ګڼل کیږي. او هغه یو ډول غږیز لغتونه چی معناوي ئې سره بېلي وي باید په قاموسونوکي د امونیمونو په شکل منعکس شي. قاموس لیکونکي باید په دې پسي ونه ګرځي چی دغه یو ډول غږیز لغتونه د ریښو په لحاظ ارتباط سره لري او که یه. د پښتو ژبي په هغو- قاموسونو کي چي تر اوسه په افغانستان کي لیکل شوي دي دې مسألې ته پوره توجه نه ده شوې، په پښتو قاموس (پښتو-فارسي قاموس) کي حتی ددې مسألې یادونه هم نه ده شوې. په نوموړي قاموس کي یوازي د (رموزاواشارات) تر عنوان لاندي دومره لیکل سوي دي چي ((دا ګل( ) چي د لغت په سر کي ایښودل سوي دي د مستقل لغت علامه او نښه ده)) ددې علت به دوي چي تراوسه پوري په پښتو ژبپوهنه کي د امونیمونو موضوع په خاص ډول نه ده څېړل سوي، سره له دې هم په پښتو قاموس کي ځیني امونیمونه د مستقلو کلمو په حیث راوړل سوي دي که څه هم د کومي علامي په واسطه نه دي ښوول سوي لکه: وږی ( لکه د غنمو ) وږی ( د ماړه ضد) کوټه ( خونه ) –کوټه ( باطل ) کوږ (یو ډول حیوان) کوږ (د سم ضد ) او داسي نور... مګر سره له دې هم په پښتو قاموس کي کله کله داسي سوي دي چي په یوه قاموس مقاله کي تر یوې کلمې لاندي د معناوو په لړ کي مستقلي کلمې راوړل سوي دي لکه : چور: (۱) تاخت و تاج (۲) پودر (۳) رېزمرېز (۴) بالکل (۵) سوراخیکه به زریعه جریان آب در بند آب و پلوان پیدا میشود. (٦) قول کوه (۷) سنګ تیزیکه شبان در وقت ضرورت ګرسفندبان ذبح میکند. کله چي سړی ٦

دغي قاموسي مقالې ته ځیر شي نوداسي څرګندیږي چي تریوې کلمې لاندي ئې د معناوو په لړ کي بېلي مستقلي کلمې سره راټولي کړي دي چي د معناوو تر منځ ئې هیڅ ډول ارتباط نه لیدل کیږي . او هغه مستقلي کلمې چي په همدې قاموسی مقاله کی ئې امونیمونه بللای سو په دې ډول دي: ۱-چور ( تاخت وتاج)۲ –چور پور، ریز مرېز)۳- چور ( بالکل ) ۴- چور ( سنګ تیزیکه شبان در وقت ضرورت ګوسفندان ذبح میکند) ۵- چور(قول کوه) -٦چور(سوراخیکه به ذریعه جریان آب در بند آب وپلوان پیدامیشود) همدارنګه په نوموړي قاموس کي د ځل (وار)- ځل (دځلا په معنی) د یوې کلمې په حیث په

---

و.ای.ابایف.په قاموسونو کي دامونیمونو ثبتول،دژبپوهني مسألي . ۴۰ مخ[3] ۱۹۵۷

[35]یو،اس.ماشلف دژبي دتیوري او اوتاریخ دمسألومجموعه.ل،۱۹۸مخ،۱۹۶۳

[36] و.ګ پښتوقاموس ،پښتوټولنه،۱۳۳۰کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې قاموسی مقاله کي راوړل شوی دئ. سره له دې چي د معناوو په منځ کي ئې هيڅ ډول ارتباط نه ليدل کيږي او واقعي امونيمونه دي.کله کله د عربي کلمو مفغن کول هم په پښتو ژبه کي د امونيمونو د پيدايښت سبب ګرځي د پښتو قاموس ليکونکو کوښښ کړی دی چي په قاموس کي د عربي کلمو مفغن شکل وليکي لکه: رو(روح)، وسه (وسعه) او داسي نور دي. د پښتو قاموس ليکونکو دغسي عربي مفغني کلمې او پښتو کلمې په يوه قاموسي مقاله کي راوړي دي او معناوو ته يي پوره پاملرنه نه ده کړې. لکه: رو(۱) آهسته (۲) روح (۳) المونيم. وسه ( وسعه) وسه ( باران ) همدارنګه په پښتو قاموس کي کوټ (کلا) کوټ ( بالاپوښ ) چي هيڅ ډول ارتباط نه سره لري د يوې کلمې د معناوو په شکل ثبت کړي دي. د دې پورتنيو څېړنو او مثالونو څخه داسي څرګنديږي چي د د پښتو قاموس ليکونکو د امونيمونو په ټاکلو او په قاموس کي د هغوی د ثبتولو په برخه کي پوره پاملرنه نه ده کړې. نو ځکه ئې بېلي بېلي کلمې د يوې کلمې د معناوو په لړ کي په يوه قاموسی مقاله کی سره ځای کړې. مګر اسلانوف بيا په خپل قاموس کي (پښتو- روسي قاموس) کي د امونيمونو مسألې ته پوره توجه کړې ده. څرنګه چي د شوروي اتحاد په ژبپوهنه کي د ژبې مسألې بېل بېل اړخونه څېړل سوي دي، نو اسلانوف هم د اوسنۍ ژبپوهني په رڼاکی هغه لغتونه چي تلفظ ئې يو ډول او معناوي ئې بېلي وي د امونيمونو په نامه پېژني او په همدي اساس دا ډول کلمې د مستقلو کلمو په حيث په بېلو بېلو قاموسی مقالو کي ثبتوي او د اعدادو په وسيله ئې له نورو عادي کلمو څخه بېلوي لکه: تور (تهمت) تور (د سپين ضد) تور (جال) اسلانوف په خپل قاموس کي سربېره پر امونيمونو اموګرافونه هم د اعدادو په وسيله ښوولّي دي لکه: تلل- د تګ په معنّا. –تلل- د وزن کولو په معنا مګر دا هم بايد وويل سي چي په دې قاموس کي ځيني داسي کلمې

د اموګرافون په حيث راوړل سوې دي، چي واقع يا موګرافونه نه دي او د ليکلو په لحاظ فرق سره لري لکه: خولۍ — خولې يا کلی — کلي او داسي نور...

## د لغتونو ګرامري خصوصيات

قاموس د لغتونو يوه ساده ممجموعه نه ده. بلکه سربېره پردې چي د يوې ژبې لغتونه راغونډ وي او لوستونکو ته ئې د يوې مجموعې په توګه وړاندي کوي، ددې په څنګ کي د لغتونو بيل بيل اړخونه او ځيني اساسي او لومړني خصوصيتونه هم څرګندوي، تر څو لوستونکي او يا زده کوونکي د دغو لغتونو په شاوخوا کي لومړني معلومات او پوهه لاس ته راوړي. يوه له دغو مسألو څخه چي اوس ئې د ژبپوهانو پاملرنه ځان ته را ګرځولې او ننۍ قاموس ليکنه ئې بايد حل کړي هغه دا ده چي تر ممکنه حده پوري بايد په قاموسونو کي د لغتونو ګرامري خصوصيتونه او ګرامري کټګورۍ وښوول سي. خصوصاً په دوه ژبيزه قاموس کي د لغتونو د ګرامري خصوصيتونو او ګرامري کټګوريو ښوول هم د تيوري او هم په عملي لحاظ ډېر ګټورکار دئ. په دوه ژبيزو قاموسوکي د دغي مسئلې صحيح حل له يوې خوا د دواړو ژبو د ګرامري سيستمونو په مقايسه کي او له بلې خوا د کليمو د سم استعمال په برخه کي د لوستونکو سره پوره مرسته کولای سي؛ ځکه هره ژبه ځان ته خاص ګرامري قواعد، د افادې مشخص سيستم او د کليمو د يو ځای کيدو بيل بيل پرنسيپونه لري. د اکاډيميک ل. و. شېربه د تيوريکي تحليل په رڼا کي ويلای سو چي تر کومي اندازې پوري چي په دوه ژبيزه قاموس کي د کليمو د لغوي معناوو د خصوصيتونو څرګندول امکان لري، په همدې اندازه هم بايد د کليمو د ګرامري معناوو خصوصيتونه وښوول سي .خصوصاً ددې مسألې ارزښت په دوه ژبيزه قاموس کي هغّه وخت ښه څرګنديږي چي دوې داسي ژبې سره مقايسه

[37] اموګرافونه هغو کلموته وايي چي په پښتو ليکدود کي يو ډول ليکل کيږي،خو تلفظ او معناوي يي فرق سره ولري

[38] شېربه.دميتودولوژي له نظره ګرامراو دلغتونو سره دهغه متقابل اړيکي...په منځنيوښوونځيوکی دخارجي ژبودريس.م.ل.۱۹۴۷ و.ګ.ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو؛ چي د ګرامري سیستمونو له پلوه سره لېري وي.  په دې مقاله کي به موږ [39] په پښتوقاموسونو ( پښتو قاموس، د اسلانف قاموس ) کي د کلیمو د ګرامري خصوصیتونو پر دغو مسألو باندي و غږیږو.

الف: د پښتو ژبي د کلام د اجزاوو ښوول، ب – د کلام د اجزأوو دګرامري خصوصیتونو څرګندول، ج – د کلیمو د هغو برخو ثبتول چي د مارفولوژي له نظره بېلېدونکي دي.

الف: د پشتو ژبي د کلام اجزأ: که څه هم په پښتو ژبه کي د تحلیلي ژبو په شان، پریدلوګ د کلیمو د نحوي ارتباط د څرګندولو له پاره استعمالیږي، خو د مارفولوژي له نظره د اوښتونکو ژبو ګروپ ته منسوبه ده. ځکه چي د کلام اجزأوو ګرامري معنی اکثرأ د کلیمو د وروستیو برخو (پای) د تغیر له پلوه څرګندیږي. د پښتو ګرامر پوهانو له نظره د پښتو ژبي د کلام اجزأ دا دي. اسم، صفت،  قید، ضمیر، فعل، عدد، د ادات توري، د ندا توري، د ربط توري، پریدلوګ او پسلي لوګ  هر یو له د غو څخه مشخصي ګرامري علامې لري. خو دا هم باید وویل سي چي د پښتو ژبي د کلام  د اجزأوو تر منځ کوم مطلق سرحد  نه سته او کله کله د کلام یو جز هم  د صفت او هم د اسم او یا قید په شکل استعمالیږي. په پښتو قاموس ( پښتو- فارسي۱۳۳۰) کي د ځینو علامو په واسطه د کلام اجزأ ښوول سوي دي. مګر دغه علامې تر ډېره حده د کلام د اجزأوو سره پوره مطابقت نه لري. په پښتو ژبه کي قید د کلام د یوه جز په حیث په عمومي ډول دا لاندي خصوصیتونه لري.

۱-د جنس تابع نه وي ( د مذکر او مونث له پاره یو ډول استعمالیږي) ،۲- د عدد تابع نه وي ( د مفرد او جمعي له پاره یو ډول استعمالیږي)، ۳- د حالت تابع نه وي (د لته ځیني استثنا آت شته) ،۴ -د  یوخ عم لیا کیفیت د څرنګوالي پر علایمو د لالت کوي. په پښتو قاموس کي قید کله د صفت کله د اسم په نامه ثبت سوي او کله کله بیا بیخي هیڅ ډول علامه نه ده ورته لیکل سوې: ۱ - هغه کلیمې چي د کلام د اجزأوو د وېش له پلوه د قید په ګروپ پوري اړه لري ددې قاموس لیکونکو هغه یوازي د صفت په شکل راوړی دی لکه: نن، نږدي، ناڅاپه، ژر ژر، تر ژره، دلته، لیري، غوندي، ښایي، تل، ورو ورو، ډېر، لیږ، خورا، لاندي، په څېر، په شان او داسي نور... [41]

۲-هغه قیدونه چي په همدې قاموس کي د مذکرو نومونو په شکل ثبت سوي دي لکه: پرون، اوس، سبا، زښت، خورا ډېر، چیرته.

۳-هغه قیدونه چي هیڅ ډول علامې نه دي ورته لیکل شوي. لکه: هلته، لکه، پخوا، داسي، دغسي، بېخي، همدارنګه په پښتو قاموس کي ځیني صفتونه هم د غلطي ګرامري علامې په واسطه ښوول سوي دي. په دې قاموس کي ډېری داسي کلیمې راغلې چي اصلأ صفتونه دي خو د لیکونکو له خوا مذکر یا مونث نومونه ګڼل سوي دي لکه: وړی، وچ، سور، سپک، زړه ور، ړوند، روڼ، ړنده، توره، وچه، خوږه او داسي نور... په پښتوقاموس کي دضمیرونو په ښوولو کي د کوم سیستماتیک پرنسیپ مراعات نه دی سوی. ځینو ته ئې ګرامري علامې لیکل سوي او ځینو ته بیا نه دي لیکلي سوي لکه: زه، زما،  د ده، د دوی، هغه، څوک، هیڅوک، چي کومې ګرامري علامې نه دي ورته لیکل سوي. همدا رنګه په پښتوقاموس کي کومکي توري لکه: له (پریدلوګ)، څخه، ځني (پوسلیلوګ)، هو، هوکې، (د ادات توري) – هم (د ربط توری) بې له ګرامري علاموڅخه ثبت سوي دي . سربېره پر دې خو ( د ادات توری ) - بلکه، چه، مګر، خو (د ربط توري) اصلأپه قاموس

[39] .ددووژبیزوقاموسونو په جوړولو کي دژبودګرامري جوړښت دبیلوالي ارزښت.قاموس لیکنه اولهجې پیژندنه،دلیکنو مجموعه.دعلومو اکاډیمي. ۱۹۵۳م. و.ګ.ل.ي.مایتینسکیه

[40] یادونه:تراوسه پوري دپښتو ژبي دکلام داجزاوودوېش په برخه کي کوم بشپړ اویامنل شوی اثر نه شته،نوځکه دا لازمه ګڼل کیږي چي په دې برخه کي پوره څېړنه وشي.زه به کوشش وکړم چي دپښتو ژبي دموادوپر اساس دکلام اجزأ وڅېړم او په خاصو ګروپونو (کټګوریو)یي ووېشم.(دا څېړني به په زیري کي په پرله پسي ډول خپري شی.).

[41] ډېر لږ(په ځینولهجو کي)ژر متحرک سرحدونه لري په دغوقیدونو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي نه دي راوړل شوي. په پښتوقاموس کي د مصدرونو د ښوولو له پاره ګرامري علامي ليکل سوي دي مګر د لازمي او متعدي فعلونو ذکر ئې نه سته.

ب- د کلام د اجزأوو ګرامري خصوصيتونو: دوهمه مسأله په قاموسونو کي د کلام د اجزأوو د معنی وو بيلول دي. څرنګه چي په پښتو ژبه کي د کلام د اجزأوو معنوي سرحدونه متحرک دي نو د قاموس ليکني د علم له نظره دا لازمه ګڼل کيږي چي په قاموسونو کي د کلام د اجزأوو وظيفه او د دوی د واقعي معناوو کلاسيفيکيشن وښوول سي. صفت په پښتو ژبه کي په عمومي ډول دغه خصوصيتونه لري

- د جنس تابع دی ( يعني که موصوف مذکر وي صفت ئې هم د مذکر او که موصوف مؤنث وي نو صفت ئې هم د مونث شکل غوره کوي. ) ۲- صفت د عدد تابع دئ ( يعني که موصوف مفرد وي نو صفت د مفرد په شکل او که موصوف جمعه وي نو صفت هم ورسره د جمعي په شکل استعماليږي.) ۳- د حالت له مخي تغير منونکی دی ( هم اصلي حالت لری او هم مغيره حالت ). مګر د صفتونو په منځ کي ځيني داسي استثنايې ګروپونه هم سته چي خاصي توضيح ته ضرورت لري: ۱ - نه بدليدونکي صفتونه : دا هغه ډول صفتونه دی چي د مذکر او مونث، د مفرد او جمعي، په اصلي حالت او مغيره حالت کي نه بدليږی او د ټولو له پاره په يوه بڼه استعماليږي لکه : لاسي، ابي، ښايسته او داسي نور... ۲- هغه صفتونه چي د مذکر د مفرد او د مذکر د جمعي له پاره يو ډول استعماليږي او بدلون نه مومي لکه : تيره ( مذکر- مفرد اوجمع) بيده (مذکر – مفرد او جمع) او داسي نور... ۳- هغه صفتونه چي کله که د صفت او کله کله د قيد وظيفه اجراکوي. لکه : ښه، ورو، ښايسته او داسي نور... دغه کليمې د کلام په بېلو اجزاوو پوري اړه لري او په متن کي مختلفي معناوي څرګند وي.

۴- په پښتو کي ځيني داسي کليمې سته چي هم د صفت او هم د اسم وظيفې اجرأ کوي، لکه : مشر، ړوند، سپور، سپين، لوی زوړ او داسي نور... د پښتو قاموس ليکونکو د[43] پورتنيو کليمو ګرامري خصوصئيتونو ته پاملرنه نه ده کړې او نه ئې په خپل قاموس کي دغه خاص ګروپونه د کومو خاصو ګرامري علامو په واسطه ښوولي دي. يوه بله موضوع چي د کلام د اجزأوو د ګرامري خصوصيتونو سره ارتباط لري او په قاموس کي ئې څرګندول ضروري ښکاري،هغه داده چي په پښتو ژبه کي ځيني داسي کليمې سته چي يوازي د جمعی په شکل استعماليږي لکه : اوړه ، وربښم، وابښه، غنم، اوبه، شيدې، وړی، وريجي او داسي نور... همدارنګه ځيني کليمې بيا د مفرد او جمعي له پاره يو ډول استعماليږي. لکه: هګۍ، خولۍ، چوکۍ او داسي نور... چي په قاموس کي بايد د دغه ډول کليمو خصوصيتونه او ګرامري معناوي د خاصو ګرامري علامو په واسطه و ښوول سي، خو په پښتو قاموس کي د کليمو دغه ډول ګرامري خصوصيتونه هم نه د ي ښوول سوي مثلأ : د هګۍ کليمې ته يوازي دومره ليکل سوي دي چي مونثه کليمه ده. غنم ته ليکل سوي چي مذکر او بس؛ مګر اوړه، وربښم، وابښه، اوبه، شيدې، وړی، وريجي-کلمو ته د جمعي ګرامري علامې ليکل سوي دي خو دلته ئې بيا د مذکر او مونث يادونه نه ده سوې.

ج - په قاموس کي د کليمو د هغو برخو راوړل چي د مارفولوژۍ له نظره بېليدونکي دي: په قاموس کي بايد د کليموهغه برخي چي د ژبي د ويونکو له نظره مارفولوژيکي بيلوالی لري د خاصو ګرامري علامو په واسطه و ښوول سي اوس به

[42] ښايست دمفردمونث او دجمعي دمونث په مغيره حالت کی بدلون مومي
[43] دصفتونو پورتنی کلاسيفيکيشن پوره او بشپړنه دئ.دلته زمامقصد دانه دی چي دپښتوژبي دصفتونو ټول عمومي او استثنايي ګروپونه او حالتونه وښيم څکه دابيا بيله څېړنه او بېل بحث غواړي.په دې مقاله کي زه يوازي دومره يادونه کوم چيپه پښتو ژبه کي دکلام داجزاوو سرحدونه متحرک دي او کيدای شي چي دکلام يو جز څو مختلفي ګرامري معناوي ولري نوځکه يي په قاموسونو کي دمختلفومعناوو ښوول او دکټه ګوريو بېلول ضروري ښکاري.
[44] ل.و.شپربه.منتخبات(دژبپوهني او فونيم پوهني په برخه کي)،۱،ټوک،ل،۳۶مخ،۱۹۵۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وگورو چي په پښتو قاموس کي مختاړي (پريفکسونه)، ورستاړي (سوفکسونه) او بنسټ (هغه برخه ده چي د يوه فعل بيل بيل گرامري شکلونه څني جوړيږي) په څه ډول سره راوړل سوي دي کله چي د قاموس پاڼې را واړوو نو وينو چي دغه مسأله هم په نيمگړې توگه پکښي راغلې ده. دغه مختاړي نه دي راوړل سوي؛لکه: کښي، پوري، ننه، پرې، و(و- د مطلق فعل مختاړی). همدارنگه په نوموړي قاموس کي د نومونو او صفتونو وروستاړي (سوفکسونه) په غيرسيستماتيک ډول سره ثبت سوي دي. په همدې قاموس کي د نومونو ورستاړي لکه: تور، تيا، وال، والا، تون، د صفتونو ورستاړي لکه: من يا لی راوړل سوي دي؛ مگر له بلې خوا بيا د نومونو د وروستاړي په قاموس کي نه دي راغلي : ځی (پوهنځی، ښوونځی...) وان (موټروان...) والی (کلکوالی، تودوالی...) همدارنگه د صفتونو ځيني وروستاړي هم نه دي ثبت سوي لکه: جن (غمجن...) ور(زړه ور...) په پښتوقاموس کي د (توب) او (تيا) وروستاړي سم نه دي توضيح سوي. دوی ليکلي چي دغه وروستاړي د مجردو صفتونو وروستاړي دي. حال دا چي دغه ورستاړي د مجردو نومونو په پای کی راځي. لکه: سړيتوب (سړی - توب) غړيتوب (غړی+توب) ، زلميتوب (زلمی+توب) روغتيا (روغ+تيا) لوړتيا (لوړ+تيا) ژورتيا (ژور+تيا) او داسي نور... په پښتوقاموس کي وروسته له مصدرونو څخه د فعل ځيني گرامري شکلونه ښوول کيږي.که چيري د فعل گرامري شکلونه له نوموړو مصدرونو څخه (د دوی په عقيده) نه سي جوړېدای نو ليکونکی د انالوژي (قياس) له مخي له ځانه مصدرونه ورته جوړوي او د غير مستعمل نوم ورباندي ايږدي لکه: کتل، (ف.ز.س) مص- ديدن- نگريستن، انتظار (حا) افعال دی گراز مصدرغيرمستعمل گورل.

حا-گوري ما-وکوت ا-وبه گوري امر وگوره.

مگر خبره دا ده چي په پښتو ژبه کي د فعل گرامري شکلونه د مصدر څخه نه جوړيږي. ټول فعلي شکلونه د حال د بنسټ او د ماضي د بنسټ څخه جوړيږي. په زياترو افعالوکي د ماضي بنسټ مساوي دی له مصدره سره منفي مصدري علامې:

| د ماضي بنسټ | مصدر | مصدري علامې |
| --- | --- | --- |
| په کتل کي:کت(Kat) | کتل(katal) | (al) |
| په تلل کي:تلل(tl) | تلل(tlal) | (al) |

مگر د حال د افعالو مصدرونه بيا مختلف وي. په (کتل) کی هغه بنسټ چي د حال د زمانې گرامري فعلي شکلونه څني جوړيږي (گور) دئ او په (تلل) کي بيا (ځ) دی لکه: گورم، گورو، گوري،...او ځم، ځو، ځي... همدا وجه ده چي زموږ زياتره گرامر پوهان ځينو مصدرونو ته با قاعده او خينو ته بې قاعده مصدرونه وايي؛ ځکه دوی داسي فکر کوي چي گرامري فعلي شکلونه له مصدرونو څخه جوړيږي. په دې برخه کي دوی د عربي تر تاثير لاندي راغلي دي. ښه به دا وي چي په قاموس کي وروسته له مصدرونو څخه هغه بنسټونه وښوول شي له کومه څخه چي د فعل مختلف گرامري شکلونه جوړيږي.د اسلانف په پښتو - روسي قاموس کي د کلام د اجزأ په سم ډول سره ښېل او د گرامري علامو په واسطه ښوول سوي دي. يوازي مفردو مذکرو صفتونوته گرامري علامې نه دي ليکل سوي. ددې علت به شايد دا وي چي ليکونکی اکثرأ صفتونه د مفرد، مذکر او اصلي حالت په شکل راوړي دي. د پښتوقاموس په خلاف په دې قاموس کي د کلام د اجزأوو معناوي په ښه توگه سره ښېلي سوي او تشريح سوي دي. خصوصأ کوښښ سوی چي کلام د هغو اجزاوو معناوي سره بيلي کړي،کوم چي د معنوي سرحدونو له پلوه متحرک وي لکه:۱ول. ښه ( د صفت په حيث) ښه آس، ښه هلک...۲ هم د اسم په حيث، د ښو ښه زيږي، د بدو واښه-د بدو سړو څخه د ښو هيله مه کوه!...۳يم ( د قيد په حيث) ډېر ښه، خورا ښه، ښه سو چي...په ښه ډول، په ښه شان، ښه مي په ياد دي چي ...[٤٥]

[٤٥] دتفصيل له پاره وگورئ اسلانف پښتو-روسي،قاموس د(ښه) قاموس مقاله.مالازمه ونه گڼل چي ټوله قاموسي مقاله دلته رانقل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلانف په قاموس کې هغه صفتونه چې د مذکر د مفرد او جمعې له پاره یو ډول استعمالیږي د خاصوگرامري علامو په واسطه ښوول کیږي. لکه تیره، ښه... خو ځینې صفتونه چې نه بدلیدونکي دي یعنې د مذکر، مونث، مفرد اوجمعې په حال کې یو ډول اسعمالیږي لکه: لاسي، آبي... د اسلانف په قاموس کې د کومو خاصوگرامري علامو په واسطه نه دي ښوول سوي. هغه کلیمې چې په پښتو ژبه کې یوازې د جمعې په ډول استعمالیږي د اسلانف په قاموس کې د سموگرامري علامو په واسطه ښوول سوي دي لکه: غنم، وریږ او داسې نور... همدارنگه د اسلانف په قاموس کې د کلیمو هغه برخې چې د مارفولوژي له نظره بیلیدوکې دي (مختاړي، وروستاړي، بنسټ) د گرامري علامو په واسطه ښوول کیږي. د کلیمو بنسټونه د الفبأ په ترتیب په خپل ځای په قاموس کې ثبت سوي دي. دغه کار لږ څه غیر موزون غوندې ښکاري؛ ځکه که چیرې ځوک غواړي چې د کوم فعل بنسټ په قاموس کې ولټوي هغه ته باید ددې فعل بنسټ معلوم وي.که چیرې ورمعلوم وي نولټولو ته ئې کوم ضرورت نه پیداکیږي او که چیرې نه وي ور معوم نو بیا ئې په قاموس کې د الفبأ په ترتیب نه سي پیداکولای. سمه به دا وي چې د فعلونو بنسټونه د مصدرونو سره یوځای راوړي وای، نه بیل بیل. مثلاً ښه به دا وای چې د ( اغوند )، (الوځ)، (بول) بنسټونه ئې د (اغوستل) الوتل (او (بلل) د مصدرونو سره یوځای راوړي وای. مگر په دې قاموس کې مصدرونه د الفبأ په ترتیب په یوه ځای کې او د فعل بنسټونه ئې د الفبأ په ترتیب په بل ځای کې راوړل سوي دي . خو سره له دې بیا هم د اسلانف قاموس د کلیمو د گرامري خصوصیتونو د ځرگندولو له پلوه تر ټولو هغو پښتو قاموسونو غوره دئ،کوم چې تراوسه خپاره سوي او زموږ لاس ته راغلي دي. کابل مجله ۱۳۵۲ل کال ۱۰گڼه۴۴-۴۷ مخونه ٦

## په قاموس کې د لغتونو تلفظ لیکل او د خج ښوول

د پښتو ژبې فونوټیکي خصوصیات د همدې اوسني لیک په واسطه په واقعي بڼه نه سي ځرگندېدای د پښتو ژبې او لیک ترمنځستره فاصله لیدل کیږي. دغه د پښتو ژبې د ږغونو او لیک ترمنځ بیلتون د پښتو قاموسونو لیکونکو درک کړی دئ. پښتو قاموس لیکونکو کوښښ کړی دئ، چې په یوه یا بل ډول سره د پښتو لغتونو تلفظ په قاموسونوو کې وښیې. محمدگل مومند په خپل قاموس (پښتوسیند-۱۳۱٦)کې د کلمو د تلفظ د افادې له پاره د مخففونو داسې یو سیستم غوره کړی دئ: ٤ ٧

ازانگه کول – ( مف، مف، مم، سا، حر مخ، سا، مف، مض، سا)

بیرته اخیستل - ( مک، سا، مج، سا، مف، سا، مم، مک، سامع، سا، حر مخ، سا) او داسې نور...

مگر د پښتو قاموس ( پښتو – فارسي -۱۳۳۰) لیکونکو د پښتو سیند مرکب مخففونه لږ څه ساده کړي دي. په دې قاموس کې د کلمو تلفظ د داسې بسیطو تورو په واسطه ښوول کیږي چې هر توری ئې د هغو حرکاتو نمایندگي کوي چې اصلا په عربي ژبه کې معمول دي. لکه: لځول: ( ز ف ز س)  شکول: (س ز ز س) کور: (ض مج س) لور: (ص مع س) شیدې: (ک مع کمج) او داسې نور...  دغه ډول تلفظ د افادې سستمونه له یوې خوا د ډېرو لوستونکو لپاره مشکل او له بلې خوا د کلیمو تلفظ نه افاده کوي. بلکې د کلیمو د تورو حرکتونه ښیي. په همدې اساس دغه ډول سیستمونه د کلیمو د فونیتیکي ترکیب سره پوره مطابقت نه لري. د پښتو په اوسني لیک کې هغه کلیمې چې په زور ( a) او زورکي (ə ) ختمیږي دواړه واولونو د یوه توري (ه) په واسطه ځرگندیږي. او سربیره پردې په پښتو قاموس کې دغه ډول واولونه د سکون په شکل ښوول سوي دي لکه: زړه: (س ز س) زړه: (ف ف س) او داسې نور... ځرنگه چې له یوې خوا د پښتو ژبې د ږغونو او لیک

---

[٤] کابل مجله ۱۳۵۳ل کال ۴ گڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ توپیر موجود دئ او له بلې خوا دغه ډول د تلفظ د افادې سیستمونه چې په افغانستان کې د پښتو ژبې په قاموسونو کې مروج دي د کلیمې پوره او سم تلفظ نه سي افاده کولای. نو یوازنۍ سمه لاره به داوي چې په پښتو قاموسونو کې د کلیمو تلفظ په لاتیني تورو لیکل سوی. د لاتیني تورو په مرسته کولای سو چې د پښتو کلیمو سم تلفظ افاده کړو. همدا وجه ده چې په هغو پشتو قاموسونو کې چې په شوروي اتحاد کې خپاره شوي دي لکه: د پ بزودین پښتو - روسي قاموس (۱۹۵۰)، ک ۱۰.لېبدیف پښتو-روسي قاموس (۱۹۶۲) اوم. گ. اسلانف پښتو - روسي قاموس(۱۹٦٦) کې د پښتو کلیمو تلفظ د روسي الفبا په تورو لیکل سوی دئ. د پښتو ژبې کوم ږغونه چې د روسي الفبا د تورو په واسطه نه سي افاده کیدای، نو د روسي ژبې د هغو تورو پر سر یا لاندي ټکي ورکول کیږي. کوم چې د مروج په لحاظ د پښتو ژبی د ږغونو سره نږدې ږغونه افاده کوي. سره له دې چې د اسلانف قاموس په پښتو قاموس لیکنه کې تر ټولو پښتوقاموسونو ښه او جامع دئ، خو بیا هم د پښتو کلیمو د تلفظ په برخه کې ځیني نیمگړتیاوي لري، لکه:

| | | |
|---|---|---|
| د اسلانف په قاموس کې: | سم تلفظ یې | |
| ټمبل (tambul) | tambal | |
| چیم | چې | |
| ړا | ړي | اوداسی نور... |

**د کلیمو خج:** خج په بېلو بېلو ژبو کې د موقعیت په لحاظ توپیر لري. د ځینو ژبو په کلیموکې معین ځای لري او په ځینو ژبو کې بیا متحرک وي. په چیک او سلواکي ژبو کې خج د کلمو پر لمړي سیلاب راځي په پولیندي ژبه کې د کلیمي د پای له خوا په دوهم سیلاب باندي خج واقع کیږي. د فارسي ژبې په شان په پښتو کې د کلمو خج کوم معین ځای نه لري. په ځینو کلمو کې پر لومړي سیلاب، په ځینو کې پر منځني او په ځینو کې پر وروستي سېلاب خج راځي لکه: وسپنه ( خج پر لومړي سیلاب) لوړوالی (خج پر منځني سېلاب)، پرون (خج پر وروستي سېلاب). په همدې اساس ویلای سو،چې د پښتو کلیمو د سم لوستلو لپاره به دا ښه وي؛ چې په پښتو قاموسونوکي د کلمو د خج ځایونه و ښوول سي، ځکه د خج د ځای د بدلون په اساس د ډېرو کلمو لغوي یاگرامري معناوو کي تغیر

پېښیږي چي ځیني مثالونه به ئې دلته راوړل شي

د لغوي معنا بدلون: غوټه (خج پر لومړي سیلاب) گنډه

غوټه (خج پر وروستي سیلاب) غوټه، په اوبوکي ځان ډوبول.

ښکاري(خج پر لومړي سیلاب) څرگندیږي

ښکاري ( خج پر وروستي سیلاب ) ښکارکول

واړه (خج پر لومړي سیلاب) ټول

واړه ( خج پر ورو ستي سیلاب ) کوچنیان تېره ( خج پر لومړي سیلاب ) ماضي

تېره ( خج پر وروستي سیلاب) د پخ ضد جوړه ( خج پر لومړي سیلاب) سوله جوړه ( خج پر وروستي سیلاب ) جفت

بوره ( خج پر لومړي سیلاب ) هغه ښځه چي زوی ئې له لاسه ورکړی وي. بوره ( خج پر وروستي سیلاب ) چینی

د گرامري معنا بدلون

نوتل ( خج پر وروستي سیلاب) د جمعي استمراري ماضي فعل نوتل ( خج پر لومړي سیلاب ) د جمعي مطلق ماضي فعل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوري وتل ( خج پر وروستي سيلاب ) د جمعي استمراري ماضي فعل پوري وتل (خج پر لومړي سيلاب ) د جمعي مطلق ماضي فعل

پرې ايسته ( خج پر وروستي سيلاب ) استمراري ماضی فعل پرې ايسته ( خج پر لومړي سيلاب ) مطلق ماضي فعل

تره ( خج پر لومړي سيلاب) اسم (يوه پلنه ډبره،کلپه لاره) تره ( خج پر وروستي سيلاب) استمراري امر

گټه (خج پر لومړي سيلاب) اسم (پايده) گټه ( خج پر وروستي سيلاب) استمراري امر او داسي نور..

څرنگه چي په پښتو ژبه کي د خج ځای متحرک دئ؛ نو په پښتو قاموسونو کي د کلمو د خج د ځای ښوول يو ضروري کار دئ. دا کار له يوې خوا د کلمو په سم لوستلو کي زموږسره مرسته کوي او له بلې خوا د کلمو د معياري تلفظ له پاره هم بې گټې نه دئ. خو سره له دې هم پښتو قاموس ليکونکو دې موضوع ته پوره پاملرنه نه ده کړې اوبې له يو څو کلمو نه چي د خج ځايونه ئې ښوول سوي دي نوري ټولي کليمې ئې بې د خج د ځای له ښوولو ثبت کړي دي. خو اسلانف په خپل پښتو روسي قاموس کي دهري کلمې دخج ځای شوولی دئ.

## د لغتونو انتخاب

دمخه تر دې چي د لغتونو اساسي مسألی په پښتو قاموس او د اسلانوف په پښتو- روسي قاموس کي په ژور نظر سره وکتل شي بايد د اوسنۍ ادبي پښتو د لغوي پانگي مشخصات په لنډ ډول و ښوول سي. په معاصره ژبپوهنه کي دا يو منل سوی حقيقت دئ، چي خارجي عوامل د يوې ژبې په تاريخي تکامل کي ستر رول لري. يوله دغو عواملو څخه د ټولني اقتصادي-تاريخي مرحله او د دولت شکل دئ. د مثال په ډول: د يوې ژبې موجوديت د لهجو په شکل د فيوډاليزم د دورې يو څرگند خصوصيت دئ؛ لکه چي په فيوډالي دوره کي اقتصادي او سياسي مرکزيت ضعيف وي همداسي په دې دوره کي د يوې ژبې د لهجو ترمنځ زياته او تماسونه لږ وي.[٤] [٨]

نو ځکه په داسي ټولنو کي ژبه يو معياري اوعمومي بڼه نه لري، بلکه د بيلو بيلو لهجو په شکل څرگنديږي هره تاريخي دوره د ټولني په ژوندانه کي يو خاص اجتماعي او اقتصادي رژيم منځ ته راوړي.څرنگه چي ژبه د ټولني د شعور د انعکاس او څرگندوني وسيله ده نو ددغه خاص اجتماعي او اقتصادي رژيم په ژبه کي منعکس کيږي، چي په همدې اساس د ټولني د توليدي قواوو، تخنيک او کلتور د انکشاف په وجه نوي مفاهيم منځ ته راځي او دا په خپل وار دا غواړي چي د ژبي په وسيله افاده سي. د ژبي د تاريخي تکامل د خارجی عواملو څخه يو هم ژبني تماسونه دي نن ورځ په يوه داسي ژبه هم نه وي چي په خپل تکاملي جريان کی دي د نورو ژبو له تاثير څخه بې برخي پاته وي.

د ځينو ژبپوهانو په عقيده (ټولي ژبې په عمومي ډول مخلوطي گڼل کيدای شي د پښتو ژبي لغوي پانگه همْ په خپل تاريخي تکامل کي د بيلو بيلوتغيراتو سره مخامخ سوي ده ځيني لغتونه له منځه تللي او زاړه سوي دي او ځيني بيا نوي راپيدا سوي دي: په عمومي ډول د اوسنۍ ادبي پښتو ژبي لغوي پانگه له دوو برخو څخه تشکيله سوې ده. يوه برخه د پښتو ژبي خپلي کلمې دي او بله برخه هغه کلمې دي چي د نورو ژبو لکه: عربي، فارسي، ترکي، هندي، انگليسي او نورو اروپايي ژبو څخه د تاريخ په اوږدو کي پښتو ژبي ته ور ننوتې او د تاريخي ضرورت پر اساس استعمال سوي او هم اوس استعماليږی. د دخيلي پانگي ستره برخه هغه کلمې دي چی د عربي ژبي څخه پښتو ته ورننوتې او د ژوندانه په بيلو بيلو اړخونو کي استعماليږي، لکه مذهبي اصطلاحات: جنت، صراط، اعراف، صحابه، طواف، صدقه... تعليمي او تربيوي اصطلاحات: معارف، ثقافت، تعليم، اخلاق... حقوقي او قضايي اصطلاحات محکمه، قاضي، عدليه، استنطاق، عدالت...

---

[٤] کابل مجله ۱۳۵۳ل کال ۹گڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجتماعي او سیاسي اصطلاحات: مبارزه، طبقاتي استعمار، استثمار اضداد ...اداري او دولتي اصطلاحات صدارت، وزارت، ماموریت، کاتب، مدیر، مامور، رئیس، وزیر، صدر اعظم... تقریباً ټول ګرامري اصطلاحات: صرف، نحوه، صفت، فعل، مصدر،ضمیر...

سربېره پردې عربي کلمې د پښتو ژبي په نورو برخو کي هم استعمالیږي. لنډه دا چي ویلای سو چي مشکله به وي چي په پښتو ژبه کي دي داسي ساحه موجوده وي چي هلته دي عربي دخیلي کلمې نه استعمالیږي. د ب. ز. خالیدف په عقیده د اوسنۍ ادبي پښتو ژبي په لغوي پانګه کي په سل کي پنځوس عربي دخیلي کلمې دي. همدا رنګه عربي دخیلي کلیمی په پخوانیو پښتو اثارو کي هم په زیاته اندازه لیدل کیږي مثلاً: د شپاړسمي پېړي د لیکونکي بایزید انصاري په لیکنو کی په سلو کي شل د اخوند درویزه په لیکنو کي په سلو کي دېرش، داتلسمي او نولسمي پېړیو په اشعارو کي په سلو کي تر دېرشو څلوېښتو پوري عربي دخیلي کلیمې استعمال سوي دي. مګر په پښتني فولکلور کي عربي دخیلي کلمې لږ استعمال لري، چي تقریباً په سلو کي درو څخه تر اتو پوري عربي دخیلي کلیمی موجودي دي دا چي د عربي ژبي څخه پښتو ته ډیري کلیمې ننوتې کومه تصادفي خبره نه ده، بلکي تاریخي علتونه لري له یوې خوا عربي ژبي د ختیځواسلامي هیوادونو د کلتور په تاریخ کي ستر رول لوبولی دئ او همدا وجه ده؛ چي کله کله عربي ژبه حتی د شرقي لاتیني ژبي په نامه یادیږي. له بلي خوا دا چي عربي یوه دیني ژبه وه چي له دې پلوه هم هرومرو د ټولو اسلامي هیوادونو ژبي بې تاثیره نه دي ځیني پاته سوي، نو طبعي خبره ده چي د همداسي عواملو له کبله پښتو ژبي ته هم زیات عربي لغتونه ور ننوتي دي. همدا رنګه پښتو د فارسي ژبي څخه هم بې تاثیره نه پاته ده سوی؛ ځکه له یوې خوا د پښتو او فارسي ویونکو ګډ ژوند او تماسونه او له بلي خوا دا چي فارسي د دوو پېړیو په اوږدو کي د افغانستان یوازنۍ رسمي دولتي او دمعارف ژبه وه.

پرته د عربي او فارسي ژبو څخه د ترکي او هندي ژبو څخه هم ځیني لغتونه پښتوته ورننوتي دي. د وروستیو شلو دېرشوکلونو په اوږدو کي د علمي، اجتماعي، تخنیکي او اقتصادي روابطو د تکامل په سبب د اروپایي ژبو څخه علمي، تخنیکي، اقتصادي او بین المللي سیاسي اصطلاحات پښتو ته ور داخل شوي او عام استعمال ئې موندلی دئ، چي دې کار د پښتو ژبي لغوي پانګه لاپسي درنه کړي ده. د پښتو ژبي د لغوي پانګي د مشخصاتو لنډي یادوني څخه وروسته به او س دا وڅېړو چي په پښتو قاموسونو کي د پښتو لغوي پانګي د انتخاب په برخه کي د کومو پرنسپونو څخه کار اخیستل سوی دئ.

**پښتو قاموس:** په پښتو قاموس کي زیاتره هغه لغتونه ثبت سوي، چی د پښتو اصلي لغتونه ګڼل سوي او یا دا چي له دغو لغتونو څخه په اشتقاقي ډول جوړسوي دي. په همدې اساس په دې قاموس کي اکثراً هغه لغات راغلي دي؛ چي په عامیانه اومحاوري ژبه کي مستعمل دي.

مګر هغه لغتونه ډېر لږ ثبت سوي چي اجتماعي او علمي مفهومونه څرګندولای سي. ددې علت دادی چي دغه ډول لغتونه یعني اجتماعي، علمي، اقتصادي او سیاسي اصطلاحات تر ډېره حده پوري د پردیو ژبو څخه پښتو ته ور ننوتي. که څه هم دغه ډول دخیل لغتونه د پښتو ژبي د فعالي لغوي پانګي اساسي برخه تشکیلوي او د پښتو ژبي په علمي او ادبي لیکنو کي زیات استعمالیږي خو بیا هم د نوموړي قاموس لیکونکو د هغو د ثبتولو څخه ډډه کړې ده. ددې قاموس له لوستلو څخه سړی دې نتیجي ته رسیږي، چي لیکونکو به نه غوښتل چی پردۍ کلمې دي په دې قاموس کي راوړل سي. خو سره له دې هم د (۲۰۰) کلمو په حدودو کي پردې لغتونه ثبت سوي دي چي د لیکونکو له خوا د مفغن یا مشترکو کلمو په نامه یاد سوي دي. او یو څو محدود (د لسو په شاوخوا کي) لغتونه هم د دخیلو په نامه راوړل سوي دي؛ لکه (ناموس، نبي، غني،کرت،

---

[٥٠] ب.ز.خالیدف په اوسنۍ ادبي پښتو کي عربي دخیلي کلمې ددوکتورت دتیزیس لنډیزه تاشکند دثمرقند پوهنتون،۶مخ ۀ۱۹۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرگس، لام ) کوم لغتونه چي د ليکونکو لخوا د مشترکو يا مفغنو په نامه ثبت سوي اکثراً د دخيلو کلمو سره د پرنسيپ له پلوه کوم توپير نه لري، اوس به له هر گروپ څخه د نموني په ډول ځيني لغتونه د دغه قاموس څخه را واخلو.

مفغني کلمې: کوزه (قبضه)،کوايت (قواعد)، لوز(لفظ) مابوب (محبوب)، مامور(معمور)، مامله (معامله)،کتل (قتل)...

مشترک لغتونه: خير، دنيا، ميدان،کبر،گرمه، ملنگ، ناز، اپرين، هوس...په پښتو قاموس کي د مفغنو او مشترکوکلمو په برخه کي هيڅ يوه يادونه نه ده سوې چي په دې برخه کي د ليکونکو اصل هدف او پرنسيپ ځيني څرگند سوي واى. خوکله چي هغه لغتونه چي په قاموس کي د دخيلو مفغنو او مشترکو په نامه ياد سوي دي سره مقايسه کړو دا څرگنديږي چي د دغو لغتونو ترمنځ د پرنسيپ او اصولو له مخي کوم توپيرونه ليدل کيږي. د ځينو څېړونکو په عقيده پښتو ژبي ته د ترکي ژبو څخه ډېر لغتونه ننوتي دي خو په دې قاموس کي داسي لغتونه ډېر لږ ليدل کيږي، چي هغو ته دي کومه داسي اشاره سوې وي چي د ترکي ژبو څخه پښتو ته راغلي او يا د ترکي ژبو څخه مفغن گڼل سوي وي لکه: چاکو او خلگ په دې قاموس کي ځيني داسي کلمې ليدل کيږي، چي اصلاً د ترکي ژبو څخه پښتو ته ورننوتي دي، خو د قاموس ليکونکو هغه را اخستي او بې له کومي يادوني څخه ئې ثبت کړي دي، لکه: کارگه، ورشو، ټنگه، چول،کاچوغه او داسي نور... ۵

مگر له بلي خوا په دې قاموس کي نور ډېر داسي زاړه لغت ثبت سوي دي خو هغو ته کومه سبکي اشاره نه ليکل سوې، لکه: غوړن، دبنن، دريځ، تون زړن، ستايوال، لونل، ميرڅی، جونډی، رپ ، سوبه، ښکلل،گروهيدل، لوړاوی، روغی او داسي نور... همدارنگه ځيني نوري داسي زړې کلمې سته چي د پورتنيو زړو کلمو سره يو ځای په پخوانيو ادبي ليکنوکي ليدل کيږي او د استعمال له پلوه هم له پورتنيو زړو کلمو سره کوم توپيرنه لري خو پښتو قاموس نه د ي اخيستي، لکه: سولل، باړی، ټيکنه، سين،کورول، مخسور، من، سمی، شنار، ملا اوداسي نور...

**پښتو روسي قاموس:** د پښتو قاموس په خلاف په دې قاموس کي د پښتو کلمو په څنگ کي دخيل اجتماعي سياسي لو علمي لغات هم ثبت سوي دي؛ څرنگه چي اسلانوف ته دا پوره څرگنده ده چي يوې ژبي ته د نورو ژبو څخه کلمې او اصطلاحات داخليدل يو تاريخي واقعيت دئ، نو ځکه په خپل قاموس کي هغه پردی کلمې چي دنورو ژبو څخه پښتو ته راغلي او اوس مستعملي دي ثبت کړي دي؛ لکه: جوی، خانم، خاک پا، آمدن، درون، زنبور، سرفه، کارد، نماز، پاسخ او داسي نور... ځينو فارسي کلمو ته ليکل سوي دي، چي لږ استعماليږي، لکه: استخوان، پشم، سنگ، آتش، خنک، ابر، افتاب، ابرو اوداسي ... د زړو په برخه کي ددې قاموس او پښتو قاموس ترمنځ کوم توپير نه ليدل کيږي. اسلانوف هم په خپل قاموس کي ځيني زاړه لغتونه راوړي او ځيني ئې بيا نه دي ثبت کړي څرنگه چي دا قاموس د زړو لغتونو په برخه کي د پښتو قاموس سره د پرنسيپ له پلوه کوم اساسي توپير نه لري نو په دې بر خه کي زياتو توضيحاتو ته ضرورت نه ليدل کيږي.

چي اسمان يي مخ پټ کړی په سحاب ؤ — خدای وماته ښکاره کړ هغه نمر بيا

چي رقيب راته تړلی په زنځير ؤ — خپل حبيب راباند يرانيست هغه ور بيا

په وصال يي منت بار اوسه رحمانه — په صدف کي دخيل نشته دگوهر بيا

## مقايسوي ـ تاريخي ژبپوهنه او ۱۹ پېړی

د نولسمي پېړی ژبپوهنه د مقايسوي-تاريخي ميتود پر محور گرځي، ددې ميتود په رامنځ ته راتلو سره په ژبپوهنه کي د نوو علمي تحقيقاتو ور پرانستل کيږي او ژبپوهانو ته داسي امکانات لاس ته ورځي چي د ژبنيو واقعتونو ښېل ښېل اړخونه

[51] دمفغنواو دخيلو کلمو په برخه کي وگورې زيری( )گنی

[52]

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سیستماتیک ډول تر څېړني لاندي و نیسي مختلفي پېچلې مسألې طرحه او هم حل کړي، لکه: د یوې کورنۍ د ژبو د ارتباط ښوونه، د ژبو د تکاملي قوانینو سپړنه یوازي او یوازي د همدې مقایسوي-تاریخي میتود په مرسته ژبپوهانو وکړای سول چي د پخوانیو مړو ژبو رمزونه کشف او د لوستلو وړوګرځوي.

دا ډول څېړني ته یوازي د ژبپوهني بلکه د بېلا بېلو میتودونو د پخواني تاریخ او کلتور پر نا څرګندو اړخونو رڼا اچوي، د همدې میتود د رواجیدو سره د ژبپوهني په تاریخ کي یوه نوې اصولي او علمي مرحله شروع کیږي او ژبپوهنه د یوه مستقل علم بڼه غوره کوي. ددې میتود رواجیدل په کوم یوه خاص مملکت پوري اړه نه لري او حتی مخکي له نولسمي پېړۍ څخه په بېلا بېلو هیوادونو کي داسي تمایلات لیدل کیږي چي مختلفي ژبې سره مقایسه او د هغوی نږدېوالی اولېږي والی وښیې او ژبې پر مختلفو کورنیو اوګروپونو ویېښي. څرګنده ده، چي دغو څېړنو تر ډېره حده پوري ساده شکل درلود او مقایسه به صرف پرڅو مثالونو بنا کې ده، خو په نولسمي پېړۍ کي دغه تمایلات به اروپایي هیوادونو کي علمي بڼه غوره کوي او پر مشخصو او مستندو اصولو بنأ کیږي. د نولسمي پېړۍ د لومړنیو شلو کلونو به شاوخواکي لومړني ژبني علمي آثار منځ ته راځي چي د مقایسوي-تاریخي میتود علمي پرنسپونه پکښي طرحه کیږي. د سوېډن د ژب پوهاند ر. رسک (۱۷۸۷-۱۸۳۲م) اثر (د پخوانۍ ایسلایندي ژبې د پیدایښت څېړنه) چي په ۱۸۱۸م کي خپریږي، د مشهور جرمني عالم ف. بوپ(۱۷۹۱-۱۸۶۷)اثر(۱۸۱۶) چي په هغه کی د سانسکریت د تصریف سیستم د زندي، ارمني، یوناني، لاتیني، دري او جرمني ژبو د تصریف سیستم سره مقایسه کیږي، د یاګریم (۱۷۸۵-۱۸۶۳) اثر د جرمني ژبې ګرامر، چي په ۱۸۱۹ کي خپور سوي دي، د اولسي عالم ا.خ. و ستوک اثر چي په ۱۸۲۰ کي ئې لومړی ټوک وتلی دئ د مقایسوي-تاریخي ژبپوهني د نولسمي پېړۍ لومړني مشهور اثار ګڼل کیږي.

د دغو ژبپوهانو د اثارو له کتلو څخه سړی دې نتیجې ته رسیږی چي د ژبو مقایسه باید مخکي تر هرڅه د ګرامري شکلونو پر تجزیه بناوي. که چیري په دې صورت کي د ژبو ترمنځ اساسي نږدېوالی څرګند سي نو هغه وخت کیدای سي چي د دغو ژبو د خپلوي مسأله طرحه سي. راغلو دې ته چي د ژبو په مقایسه کي د لغاتو شباهت او نږدېوالی د ژبو د خپلوي  په برخه کي کوم مطمئن معیار ګڼل کیدای نه سي؛ ځکه د ژر احتمالات سته چي دغه مشابهي کلمې به په تاریخي دورو کي یوې ژبې د بلي ژبې څخه په مستعاراخستې وي.نوله همدې کبله د ژبو د خپلوي د څېړني په برخه کي د لغوي شباهتونو څخه باید یوازي د مکمل په حیث کار واخیستل سي،  یعني که چیري د دوو ژبو ترمنځ  موږ وکړای سو،  چي د ګرامري اشکالو (مختاړو، وروستاړو،...) نژدېوالی پیداکړو نو وروسته تر هغه به لغاتو ته رجوع کوو. او د لغتونو په مقایسه کي هم باید اصلي اشکال (ریښې) او د هغوی پخوانۍ معناوي سره پرتله سي. د ژبو په مقایسوي-تاریخي څېړنو کي سربېره پرګرامري تجزیو او لغوی سپړنو باید د ژبې په غږیز اړخ ته هم پوره توجه وسي او په دې برخه کي پوره احتیاط په کار دئ، ځکه د اوسنیو ژبو په منځ کي کیدای سي چي د بېلو بېلوکلمو د غږیز شباهتونه تصادفي وي. نو ددې له پاره، چي د تصادف و ډنډ ته ور ونه لوېږو، لازمه ده چي هرغږیز شکل په تاریخي لحاظ د پیدایښت څخه را ونیسو او ټول تاریخي تحولات او تغیرات ئې هم په ژبه او هم په هغه ګروپ کي چي دا ژبه ورنژدې بلل کیږي وسپړو. د همدې ډول څېړني په ترڅ کي کولای سو، چي هغه مشخص قوانین کشف کړو کوم چي ددې تغیراتو او تحولاتو سبب ګرځي. د همدغو غږیزو شکلو د تحول د قوانینو کشف او سپړنه د مقایسوي-تاریخي ژبپوهني بنسټ تشکیلوي. دا ژبنی مکتب اوس هم د نړۍ په بېلو بېلو هیوادونو کي یو شمېر  پیروان لري. دلته به ددې مکتب د دوو پېړیو ( نولسمي او شلمي) د تحقیقاتو نتېجې او هغه پرنسپونه چی د ژبو د مقایسې په برخه کي ددې مکتب د پیروانو له خوا وړاندي سوي او په مختلفواثاروکي ئې یادونه سوې په لنډ ډول وړاندي کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-د ژبو د یوه گروپ په منځ کي چي د خپلوي اړیکي لیدل کیږي ددې اصلي علت دا دی چي دغه ژبې د یوې واحدي ژبې د انحلال او انحطاط په نتیجه کي د بېلوبېلو لهجو په شکل منځ ته راغلی او تاریخي شرایطو د بېلوالي او هرې لهجې د خاص تکامل په نسبت د دوی ترمنځ فرقونه دومره زیات سي چي هري یوې د مستقلي ژبې بڼه غوره کړې ده. که څه هم اوس نه سي کېدای، چي اصلي لومړنۍ ژبه چي د انوري ژبې ځني زېږېدلې دي په پوره ډول د ټولو مشخصاتو سره بیرته را ژوندۍ کړو، خو یوازي دومره کیدای سي چي د هغې فونتیکي، گرامري او لغوي اساسي او کلي مشخصات څرگند او وټاکل سي.

۲-په مقایسوي-تاریخي میتود کي د لغوي شباهتونو څخه کار اخیستل کیږي، خو دا معنا نه لري چي هره کلمه چي په مخه راغله او په څو ژبو کي ئې یو ډول رغیز شکل او یوه معنی درلوده، نو دی د ژبو په مقایسه کي د تشابهي معیار په حیث کار ځني واخستل سي. دغسي کلمې د یوې خوا کیدای سي؛ چي د خپل مستعار شکل و لري لکه: د فابریکه، کلمه چي په بیلو بیلو ژبو کي یوه رغیزه بڼه لري او هم په یوه معنی استعمالیږي. او د بلي خوا کیدای سي چي داسي شباهتونه تصادفي وي، لکه: په پښتو اودري کي د (بد) کلمه او په انگلیسي کي د **bad** کلمه چي هم د معنی په لحاظ او هم د رغیز شکل له پلوه سره یو شی غوندي دئ. ددې ډول شباهتونه او نژدې والی د سبږنو په اساس هیڅکله یوې سمي نتیجې ته رسیدای نه شو. د مقایسې په وخت کي باید داسي کلمې انتخاب سي چي په تاریخي لحاظ د لومړنۍ اصلي ژبې عصر ته نژدې وي. د لومړنۍ اصلي ژبې تاریخي مرحله د ځینوفرضیو پر اساس لومړنۍ ابتدایي بشري ټولنه گڼله سوې ده، نوکه چیري سړی هغه کلمې سره مقایسه کړي چي دکپټالیزم د عصر محصول وي لکه: فابریکه، موټر... نو دا به یوه غیر اصولي مقایسه وي. د اکثرو پوهانو به عقیده په لغوي مقایسه کي باید هغه  کلمې سره پرتله سي چي د مفاهیمو د افادې له مخه تاریخي تقدم ولري لکه: خور، ورور، پلار، مور... اعداد یو، دوه، درې... د حیواناتو اونباتاتو نومونه، په دې ځای کي د لغتونو د معنا کلي شباهت حتمي نه بلل کیږي، مگر منتها دومره خبره ده چي د اختلاف په صورت کي باید فرقونه سیستماتیک وي.

د ژبو په مقایسه کی یوازی د لغوي شباهتونو پیداکول کافي نه گڼل کیږي؛ بلکي ددې له پاره چي یوه مقایسوي څېړنه د ژبو د خپلوۍ د ارتباط په برخه کي مستنده او علمي بڼه و لري، نو ښایي چي په مقایسې کي د ژبوگرامري جوړښت و سپړل سي او د دوی په منځ کی نږدې اړیکي کشف سي.

۴- په مقایسوي-تاریخي څېړنو کي د ژبو رغیز جوړښت ستر ارزښت لري. او بې له مقایسوي رغپوهني څخه مقایسوي رغبوهنه اصلاً خپل مفهوم  بايلي. د رغیزو شباهتونو د پیداکولو لپاره باید ډېره هڅه ونه سي چي داسي کلمې پیداکړای سي چي په غږیزه بڼه کي ئې کلي شباهت موجود وي، ځکه په هره اندازه چي د کلمو رغیز شباهت سره ورته وي  په هغه اندازه ژبې یو له بله لیري او د دوی د خپلوي احتمالات لږوي؛ مگر برعکس هر څومره چي په رغیزه بڼه کي سیستماتیک شباهت او لږ منظم توپیر موجود وي په هغه اندازه د ژبو د خپلوۍ احتمالات ډېر قوي دي. ځکه کومي ژبې چي د یوې اصلي منشأ څخه را زېږېدلې او بیا په بیلو بیلو تاریخی او اجتماعي شرایطو کي وده کوي نوهرو مرو به تغیرات هم مني. د غږیزو شباهتونو په پیداکولو کي باید هغه غږیز تغیرات په نظر کي ونیول سي، چي د تاریخ په اوږدو کي دداخلي تکاملی قوانینو په اثر په خپله په ژبه کي منځ ته راځي او د ژبې د فونیتیکي قوانینو بڼه غوره کوي.

۵-د دې  له پاره چي د یوه گروپ ژبو د لومړنۍ ژبې ( چی دانوري ځني زېږېدلی) فونتیکي گرامري او لغوي عمومي مشخصات را پیداکړو، نو ښه به دا وي چي د یوې خوا د دغو ژبو دکلمو ریښې، مختاړي، او وروستاړي سره مقایسه سي او د بلې خوا د پخوانیو مړو ژبو مواد د ژوندیو ژبو او لهجوسره پرتله سي ترڅو چي د منظمو تغیراتو د سپړني په نتیجه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړني اشکال وټاکو. د نولسمي او شلمي پېړیو په ژبپوهنه کي د مقایسوي- تاریخي څېړنو په نتیجه کي ژبپوهان موفق سول چي د نړۍ ژبي پر بیلو بیلو کورنیو او ګروپونو وویشي. د همدې مقایسوي-تاریخي څېړنو په اثر پښتو ژبه په اریایي ګروپ بیا په ایندو اروپایي کورنۍ کي داخلیږي. دلته به د مثال په ډول یوازي د ایندو اروپایي کورنۍ ژبي وښیو:

**اریایي ګروپ:** پښتو، دري، بلوڅي، تاجیکي، کوردي، پامري، اوسیني، تاتي، تالیشي، د کسپین د غاړو ژبي، یغنوبي.

۲-هندي ګروپ: هندي- اوردو، بنګالي، پنجابي، هندي، سیندي، راجستهاني، ګوجراتي، مراتهي، سینګالي، نیپالي، بهاري، اوري (اودري)، آسیامي، کشمیري، څیګاني

۳-سلاویاني ګروپ: روسي، اوکرائني، بیلروسي، بلغاري، مقدوني، سېربه خرواتي، سلویني، چیکي، سلواکي، پولیندي، کاښو، سېربه لوږیڅ

۴-د بالتیک ګروپ: لیتواني، لیتوني، لتګالي

۵-جرمني ګروپ: انګلیسي، هالیندي، جرمني، دنمارکي، سوېډني، ناروېجي، آسلایندي، فریزي، فاریوري، ایدیش

٦- روماني ګروپ: فرانسوي، ایتالوي، هسپانوي، پرتګالي، روماني، پرونسالي، سرديني، کتلاني، ملداري، ارموني، ریته رومانیؤکربولي

۷- کلیتي ګروپ ابرلیند یوسکاتلندي، د مان د ټاپوګانو ژبي، بریتونی، اونبزي (ولیبیی)، ګالي

۸- یوناني ګروپ: نوې یوناني ژبه. ۹-الباني ګروپ: الباني ۱۰-ارمني ګروپ: ارمني ۱۱- اناتومي ګروپ: په دې ګروپ کي ژوندۍ ژبي نشته ۱۲-تخاري ګروپ: په دې ګروپ کي ژوندۍ ژبي نشته.[5]

مقایسوي تاریخي میتود په ژبپوهنه کي ستر نوي تحولات راوستل. ژبپوهنه ئې پرعلمي اساساتو و دروله او پخوانۍ عنعنوي ژبپوهني ته یي د نوو پرنسپونو او میتودونو پر اساس څرګنده وده ورکړه. دابې ځایه نه ده چي پوهان د همدې میتود په رواجیدو سره ژبپوهني ته د یوه مستقل علم په حیث قائلیږي، خو سره ددې ټولو ښېګڼو دا میتود ځیني نیمګړې خوا وي لري چي ځیني عمومي نیمګړتیاوي ئې دا دي:

د دې میتود پیروانو د ژبي ځینو مسألو ته لکه: دا چي ژبه څنګه تکامل کوي؟ کوم عوامل دي چي ژبي په تحول او تکامل کي مؤثر رول لري؟ توجه نه ده کړې

۲-د دې پوهانو ټوله توجه دې ته وه چي د یوې کورنۍ ژبو هغه اصلي او پخوانۍ ژبه راوسپړي، د کومي څخه چي ددې کورنۍ نوري ژبي زیږزدلي دي په همدې اساس د دوی ټولي څېړني د یوې مړې ژبي د را ژوندۍ کولو پر محور ګرځېدې. د مړو ژبو د څېړنو بې ځایه تمایل ددې سبب شو چي د ژوندیو ژبو د داخلي جوړښت اوسترکچر څېړنه له نظره ولوېده او ډېره لږه توجه ورته کیده. دغه سبب وو چي په شلمه پیړۍ کی د پوهانو د انتقادونو په نتیجه کي نوی ژبنی مکتب منځ ته راغی چي ستروکتورالیزم په نامه یادیږي. (ستروکتورالیزم به په خپل ځای وڅېړل شي)

## ملاده ګراماتیزم

دنولسمي پېړۍ په اواخرو او د شلمي پېړۍ په اوایلو کي ملاده ګراماتیزم د اروپا په ژبپوهنه کي یو مؤثر ژبنی مکتب وو. دا ژبنی مکتب په جرمني کي منځ ته راغلی (د۱۸۷۰کال په شاوخوا کي) ددې مکتب منځ ته راتګ او فعالیت ددغو پوهانو دنومونو سره ارتباط لري: ا. لېسکین(۱۹۱٦-۱۸۴۰)، و. ښېریر (۱۸۸۷-۱۸۴۱)، ب. دیلبریوک (د۱۸۴۲-۱۹۲۲)، ګ.

---

داریایي ګروپ مړې ژبي دادي :زړه فارسي،اوستا.پهلوی،میدي،پارفیاني،موغدي،خوارزمي،سکیفي،ساکي(خوتني)[3]

[5] دژبو دوېښ په برخه کي وګورئ:ا.ا.ریفرماتسکي.دژبپوهني مبادي.۱۹٦۷م،۴۰۷-۴۴٦مخ.ر.بوداګف.دژبپوهني دعلم مقدمه.۱۹۵۸ م،۳۵۷-۳٦۰ مخ. ب.ب.ن.ګلوین.دءپوهني اساسات ۱۹٦۸م ،۲٦۱-۲٦۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاول (۱۹۲۱-۱۸۴٦)، گ او ستگوف (۱۹۰۹-۱۸۴۷، ک. بروگمن (۱۹۱۹-۱۸۴۹)، په روسیه کی ف. ف. فرتوناتف (-۱۸۴۸ ۱۹۱۴)، اکادیمیک ا. ا. ښاخمتف (۱۹۲۰-۱۸٦۴)، په امریکا کي و. د. اویتني (۱۸۹۴-۱۸۲۷)، په فرانسه کي م. برییل (۱۹۱٦-۱۸۳۲)، په ایټالیاکي گ. اسکولي (۱۹۰۷-۱۸۲۹) او داسي نور...

---

که څه هم دا مکتب د اصولو د مخه د مقایسوي-تاریخي میتود دریمه متکامله مرحله گڼل کیږي، خو بیا هم ددې له پاره چی خپل روش د یوه مستقل ژبني مکتب په حیث وړاندي کړي، نو یوه اعلامیه (مانیفیست) خپروي او په هغې کي د تاریخي-مقایسوي میتود په پیروانو او رهبرانو انتقادونه کوي. د مانیفیست د لیکونکو انتقادونه، ف. پوپ، یازگریم، ا. شلېخر او د مقایسوي-تاریخي میتود نورو مشرانو ته متوجه وو.

د ملاده گراماتیزم پیروانو داسي عقیده درلوده چي که څېړونکی غواړي چي کوم نوی میتود وړاندي کړي، نو ښایي چي اول هغه معلومات وسپړل سي چي د مخه تر ده وړاندي شوي دي . په همدې اساس دوی هم د مخه تر دې چي خپل اصول وړاندي کړی اول د مقایسوي- تاریخي میتود اصول د انتقادي پلوه سپړي. د اعلامیی لیکونکي وایي چي د مقایسوي- تاریخي میتو د رهبرانو د خپلو څېړنو د محور په حیث د ایندواروپایي ژبو څېړنه منلې ده او په دې برخه کي ئې جدي تحقیقات کړي دي. مگر بد بختانه حتی په دې برخه کي ځینو اساسي مسألو ته لکه: دا چي په عمومي ډول یوه انساني ژبه څنگه ژوند او تکامل کوی؟ او داچي کوم عوامل د انسان پر وینا تاثیر کوي؟ او دا عوامل د انساني ژبي په تدریجي تکامل کی څومره رول لري؟ هیڅ توجه نه ده کړې، نو طبعي خبره ده تر څو چي دغه عوامل ونه سپړل سي او څېړونکی پرې ونه پوهیږي، نو څېړنه کوم علمي ارزښت نه پیداکوي. نو همدا وجه ده چی ټولي مقایسوي-تاریخي څېړني یوه شلېدلې او غیر منظمه بڼه لري.

سربیره پر دې د مانیفیست لیکونکي د مقایسوي-تاریخي میتود د پیروانو اشتباهات په دې کي بولي چي: ۱- دوی سایکولوژي ته کافي پاملرنه نه ده کړې. ۲- د دوی ټولو توجه دې ته وه، چي هغه پخوانۍ ژبه را وسپړي چي دا نوري ژبي ځیني زېږېدلې دي. ۳- دوی بې د کومو اسنادو څخه تاریخ پر دوو دورو وېشي .

د مخه تر تاریخ دوره او تاریخي دوره. ۴- دو ی د ژوندیو ژبو او د دوی د تاریخ سره کافي دلچسپي نه درلوده. ۵- دوی غږ او توري سره گډ کړي دي. ٦- په فونوټیکي قوانینو کي استثنأت منی. ۷- په اشتقاقي قوانینو کی انالوژي ته په ارزښت نه دي قائیل سوي. د مانیفیست لیکونکي وروسته تر دې انتقادي برخي خپل اصول وړاندي کوي. ددې اصولو اساسي ټکي په دې ډول دي:

۱. ژبه یو داسي شی نه دئ، چی د باندي تر انسان دي موجودیت ولري، بلکه برعکس ژبه په واقعي ډول په فرد کي موجودیت لري.

۲. نو په همدې اساس د ټولو ژبنیو تغیراتو منشاویونکي افراد دي

- د انسان سایکولوژیکي او فزیکي فعالیت ثابت او نه بدلیدونکی دئ.

۳. لکه څنگه چي هر فونوټیکي تغیر په میخانیکي ډول د مشخصو قوانینو پر اساس منځ ته راځي، نو ځکه اشتباه هم نه مني.

٤. د ژوندیو ژبو په ژوند کي د انالوژي پر اساس د نوو ژبنیو اشکالوجوړېدنه ستر ارزښت لري. او دا د ژبو د غني کیدو یوه مهمه وسیله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملاده گراماتیزم د اعلامیې تر خپرېدو دوه کاله وروسته و گ. پاول مشهور اثر چي (د ژبي د تاریخ پرنسیپونه ) نومیږي راوزی. دا اثر د ملاده گراماتیزم د میتودولوژي څرگنده نمایندگي کوي. پاول ددې اثر په یوه برخه کي د ( فرد، ټولني او ژوند) پر مقابلو روابطو رغیږي.

پاول لیکي چی: «ټولنه یوازي کلتور جوړوي، یوازي همدا ټولنه ده چي سړي ته تاریخي موجودیت ورکوي» «افهام او تفهیم یوازي هغه شی دئ چي د فرد ژبه خلق کوي» «که څه هم فردي سایکولوژي او فزیکی خصوصیتونه د ژبي د شکل عوامل دي، خو بیاهم د افهام او تفهیم درول په تناسب دوهم درجه عوامل گڼل کیږي.» گ. پاول د خپلو دغو پورتنیو نظریاتو څخه یوې داسي نتیجې ته رسیږي چي توقع نه ځني کیده. دی داسي نتېجې ته رسیږي:

١-هر ډول ژبنی خلاقیت تل فردي وي . «یعنی ژبه د فرد محصول گڼي »

٢- بې د فردي ژبو څخه بله هیڅ ډول ژبه موجودیت نه لري.

٣په نړۍ کي په هغه اندازه ژبي شته، په کومه اندازه چي افراد موجود وي.

د فرد، ټولني او ژبی د متقابلو روابطو مسأله په نولسمه پېړۍ کي د و. گومبلد د خوا هم طرحه سوې ده، خو پاول هم دگومبلد په شان ونه سو کړای چی ددې مسألې د حل سم شکل وړاندي کړي. د پاول په قضاوتونو کي څرگند تناقض لیدل کیږي، ښه به دا وای چي ده د خپلو نظریو څخه داسی نتېجه اخستې وای چي: ١- ژبه د ټولني محصول ده. ٢- د ټولني (اجتماعي) ژبه یو واقعت دئ. اولسي (اجتماعي) ژبه یو خیال او قصورنه دئ ٣- دیې ژبي مثلاً پښتو د ټولو ویونکو افرادو ژبي سره د ټولو شفاهي توپیرونه بیا هم یوه ژبه (پښتو) ده که څه هم ملاده گراماتیزم په خپل وخت کي د ژبپوهني په تاریخ کي مهم رول درلود او داینډو اروپایي ژبو په څېړنه کي ئې د مقایسوي-تاریخي میتود د تکامل او بشپړتوب په برخه کي پوره مرسته کړې ده. خو بیا هم د ملاده گراماتیزم روش هم د بیغورۍ له پلوه او هم په عملي توگه ځیني داسي خواوي لري چي گوته ورته نیول کیږي. د ملاده گراماتیزم اکثره تیوریکي اشتباهات ددې څخه راولاړیږی چي په خپلو ژبنیو څېړنو کي د نولسمي پېړۍ په ځینو ذهني ایدیالیستیکي فلسفي میتودونو خصوصاً (پزیتیویزو) اتکا کوي.

پزیتیویزو د نولسمي پېړۍ په فلسفه کي یو فلسفي روش دئ، چي په نولسمه پېړۍ کي ئې د غربي هیوادونو په سوسیولوژي ، فلسفه او نورو اجتماعي علوموکي د بیلوبیلو مسألو په څېړنه کي زیات رول لوبولی دئ، نو ددغه وخت ځیني ژبپوهانو هم د ژبنیو مسألو په څېړنه کي ددغه میتود څخه کار اخستی او په ژبنیو څېړنو کي ئې تر ډېره حده ظاهري شباهتونه اوظاهري روابطو ته زیاته توجه کړې ده او د ژبنیو پېښنو اصلي ماهیت ته ئې لږه پاملرنه کړې ده. نو دا به بده نه وي چي د پزیتیویزوم ځیني عمومي مشخصات دلته راوړو، پزیتیویزوم یو فلسفي مکتب دئ، چي په ١٩ پېړۍ کي منځته راغلی او درې تاریخي مرحلې لري. ددې فلسفې روش طرحه اوگوست کونت ته (١٧٩٨-١٨٧٥) منسوبیږی. سپینسر(انگلستان) همدې روش د پرنسپونو په طرحه کولو کي ستر رول لري. د پزیتیویزو د طرفدارانو په عقیده دا روش نه آیډیالیزم دئ او نه ماټریالیزم، بلکه تر دواړو پورته او یو دریم فلسفي روش دئ. خو د روش له پلوه په واضح ډول څرگندیږي، چي یو ذهني آیډیالیستي روش دئ.

ځکه دوی وایي چي: علم یوازي دومره کولای سي چی د بیلو بیلو پېښنو ظاهري روابط وسپړي او ظاهري شباهتونه څرگند کړي. مگر نه سیکولای چي هغه قوانین و سپړي، کوم چي د دغو د تغیر او تکامل سبب گرځي. د پزیتیویزوم آیډیالیستي خصوصیت د تجربې) د توضیح په برخه کي په ښه توگه څرگندیږي. د تجربې په برخه کي وایي چي سړی نه سي کولای چي د شیانو او پېښنو خصوصیتونه و ټاکي او ددوی په ماهیت کي ورننوزي. ځکه چي سړی یوازي د خپل ذهني جهان سره سروکار لري او د خپلو حواسو د چوکاټ څخه د باندي نه وزي. په دې اساس د دوی په عقیده پوهه د حواسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترساحې د باندې مخکې نه سې تلای. علمي پوهه يوازې د سړي په ذهني (شخصي) تجربو پورې تړلې ده. د پزيتيويزوم د اصولو د مخه د ټولنې او طبيعت د عيني قوانينو څخه انکار کوي. همدارنګه د پزيتيويزوم فلسفي روش د ماهيت په لحاظ يوه بل فلسفي مکتب ته چې د اګنوستيسيزم په نامه يادېږي او اساسات ئې په اتلسمه پېړۍ کې د يوم او کانت په فلسفه کې طرحه سوي دي ډېر ورته والی لري .

دغه دوه فلسفي روشه يوازې د شکل او عبارت له پلوه څه توپير سره لري. د اګنوستيسيزم د پيروانو په فکر د انسان عقل محدود او د حواسو د ساحې څخه د باندې په هيڅ شی نه سې پوهېدای. انسان نه سې کولای د شيانو ماهيت و پېژني او د هغوی په برخه کی موثقه پوهه ولري. يوم فکر کاوه چې: څنګه چې سړی د خپلو ذهني (شخصي) حواسو سره سرو کار لري؛ نو په همدې اساس دی نه سې کولای چې د خارجي نړۍ په واقعيت و پوهيږي. کانت که څه هم د شيانو د عيني موجوديت څخه انکار نه کوي، خو دده په فکر د شيانو ماهيت نه درک کيدونکی دئ. سړی د خپل عقل او منطقي تفکر په مرسته يوازې دومره کولای سې چې د پديدو ظاهري بڼه وپېژني. په همدې اساس دغه شيان چې موږ ئې وينو او هغوی ته په کوم شکلي خاصيت قائل يو، دکانت په نظر دغه د شيانو خپل خاصيت او شکل نه دئ، بلکه دغه خاصيت زموږ د ذهن مولود دئ، چې زموږ ذهن ئې شيانو ته ورکوي مګر علم وايي چې نه يوازې د يوه شي شکل او ماهيت دواړه عيني موجوديت لري بلکه د دواړو ترمنځ ټينګ متقابل روابط موجود دي . شکل (ظاهري بڼه ) د يوه شي خارجي علايم او خصوصيات دي او ماهيت د يوه شي هغه داخلي او ذاتي قوانين دي چې د تکامل سير ئې ټاکي.

اوس به د ملاده ګراماتيزم د ميتودولوژۍ هغه تيوريتيکي او عملي عمومي نمګړتياوي چې ګوته ورته نيول کيږي په دې ډو ل خلاصه کړو:

- د ملاده ګراماتيزم پيروان د فرد ټولنې په متقابلو روابطو او په ژبه کې په فردي او اجتماعي ارزښتونو ښه نه پوهېدل.
- نوځکه يې ويل چې په واقعي ډول يوازې فردي ژبه موجوديت لري او اجتماعي (اولسي) ژبه تش خيال او تصور دئ.

۳-په ژبنيو څېړنو کې د دوی بې ځايه تمايل سايکولوژي ته ددې سبب سو چې د ژبپوهني او سايکولوژي سرحدونه د دوی په څېړنو کې سره ګډ سي د ژبې علم د فردي سايکولوژي سره وتړي.

۴-که څه هم دوی په خپلوانتقادونو کي (د مقايسوي-تاريخي ميتود پيروانو) ټينګار کاوه چې د ژونديو ژبو څېړنه يوعيني ضرورت دئ، خو بيا هم د دوی پوره پاملرنه د ژبو تاريخ ته وقف شوې ده. د ژونديو ژبو څېړني ته ئې مافي پاملرنه نه ده کړي.

۵-په همدې اساس د ژبې د سيستم څېړنه د دوی په تحقيقاتو کې بيخي لږ ځای لري. دا بې ځايه نه ده چې ژبپوهان ملاده ګراماتيزم (اتميزم) باندې ست هم کوي. ځکه چې تر ډېره حده دوی ژبنۍ مسألې په مجرد ډول څېړلې دي .

٦-دوی د ژبې د بيلو بيلو خواوو په څېړنه کې تعادل نه دئ ساتلی، د ملاده ګراماتيزم د پيروانو زياته پاملرنه مارفولوژي او فونيم پوهني ته وه. نحوي، لغت پوهني او سبک پيژندني ته ئې پوره پاملرنه نه ده کړي .

۷-دوی د فونيتيکي تغيراتو په برخه کې هيڅ ډول استثنا نه منله.

۸-د دوی په عقيده د ټولو فونوتيکي تغيرات اساس يوازې او يوازې فزيالوژيکي عوامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دوکتور عبدالحکیم هلالي ژباړې

## علمي جهان بیني او د ژبپوهنې مسالې

١ـ ایا دا سمه ده چې ژبه د زېربنا د روبنا په حیث و بولو؟

جواب. یا دا سمه نه ده. [٥]

زېربنا د ټولنې د تکامل د یوې مشخصې مرحلې اقتصادي سیستم دئ. روبنا به د ټولنې سیاسي، حقوقي، دیني، هنریو فلسفي نظریات او د دې سره سم ئې سیاسي، حقوقي او داسې نورې مؤسسې دي. هره زېربنا خپله مشخصه روبنا لري: فیوډالي سیستم خپله مشخصه روبنا لري. خپل مشخص سیاسي، حقوقي، فلسفي نظریات اړ د دې سره سم سیاسي، حقوقي، فلسفي او داسې نورې مؤسسې لري. همدارنګه د کپیټالیستي سیستم زېربنا خپله مشخصه روبنا او د سوسیالیستي سیستم زېربنا خپله مشخصه روبنا لري. که چېرې زېربنا بدلېږي او له منځه ځي، نو په تعقیب ئې روبنا هم بدلېږي او له منځه ځي. که چېرې نوې زېربنا منځ ته راځي، نو په تعقیب ئې خپله مشخصه روبنا هم منځ ته راځي.

ژبه په همدې لحاظ کاملا د روبنا سره تفاوت لري. د مثال په ډول به روسي ټولنه او روسي ژبه راواخلو. د دې وروستیو دېرشو کلونو په اوږدو کې په روسیه کې پخوانۍ کیپټالیستي زېربنا له منځه تللې او پر ځای ئې نوې سوسیالیستي زېربنا منځ ته راغلې ده. د زېربنا د دې بدلون سره هغه روبنا چې د کیفټالیستي زېربنا محصول وو له منځه تللې او ځای ئې هغې نوې روبنا نیولی چې د سوسیالیستي زېربنا محصول د پخوانۍ سیاسي، حقوقي، هنري، فلسفي او داسې نورې مؤسسې په سوسیالیستي موسسو بدلې سوي دي.

مګر سره له دې تغیراتو روسي ژبه، په اساسي ډول، په هغه شکل پاته ده، لکه چې د اکتوبر تر انقلاب د مخه وه.

په دغه وخت کې په روسي ژبه کې څه تغیرات راغلل؟

د روسي ژبې په لغوي پانګه کې څرګند بدلون راغی. په دې معنا چې د نوي سوسیالیستي تولید، نوي سوسیالیستي دولت، نوي سوسیالیستي کلتور، نوي اجتماعي ژوند او په پای کې د علم او تخنیک د پرمختګ په ارتباط د روسي ژبې لغوي پانګه د نوو کلمو او اصطلاحاتو له پلوه لا پسې غنې سوه. د ځینو کلمو او اصطلاحاتو معناوې بدلې شوې او نوې معناوې ئې پیدا کړې. ځیني زړې کلمې د لغوي پانګې څخه ووتلې او د استعمال څخه ولوېدلې. اصلي لغوي پانګه او ګرامري سیستم چې د ژبې اساس ګڼل کېږي، نه دا چې د کپیټالیستي زېربنا تر انحطاط وروسته له منځه نه ولاړل او په نوې اصلي لغوي پانګې او نوي ګرامري سیستم بدل نه شول، بلګې برعکس په کلې ډول وساتل شول او بې له اساسي تغیرڅخه د اوسنۍ روسۍ ژبې د اساس په حیث پاته شول.

بله دا چې دا سمه ده چې روبنا د زېربنا زېږنده ده، مګر د دې معنا قطعا دا نه ده، چې روبنا یوازې او یوازې زېربنا منعکسوي، په خپله غیرفعاله او بې طرفه ده او د خپلې زېربنا د سرنوشت، د طبقو د سرنوشت او د سیستم د خصوصیت په برخه کې بې علاقې او بې تفاوته ده، بلکې برعکس روبنا د خپل پیدایښت له وخته د یوې سترې فعالې قوې په حیث تبارز کوي. د خپلې زېربنا په تشکیل او ټینګښت کې فعاله برخه اخلي. د نوي سیستم سره د مرستې او دفاع په غرض او د زاړه سیستم او زړو طبقو د له منځه وړلو او محوه کلولو له پاره ټول ترتیبات نیسي او بل ډول کېدای نه شي، ځکه چې روبنا

---

٥ کابل مجله ١٣٥٨ل کال ٧ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلا د زیربنا له خوا د دې له پاره منځ ته راځي، چي زیربنا ته خدمت وکړي، په تشکیل او ټینګښت کي ئې فعاله ونډه واخلي او د زاړه سیستم د زیربنا او روبنا د له منځه وړلو له پاره کلکه او فعاله مبارزه وکړي. او همدغه د روبنا رول او وظایف دي. که چېري روبنا د خپلي زیربنا د فعال دفاعي سیستم څخه وګرځي او د بې تفاوتۍ موقف اختیار کړي. که چېري د طبقاتو د سرنوشت په مقابل کي بې تفاوته واوسي. نو په دې صورت کي روبنا خپل روبنایي کیفیت د لاسه ورکوي او او روبنا نه شو ورته ویلای.

په همدې لحاظ ژبه، اساسا، د روبنا سره تفاوت لري. ژبه په ټولنه کي د یوې یا بلي تاریخي دورې- زړې او یا نوي زیربنا زیږنده ده، بلکي د ټولني او زیربنا د پېړیو پېړیو د تاریخ محصول ده. ژبه د کومي طبقې زیږنده نه، بلکي د ټولني زیږنده ده، چي د ټولني د ټولو طبقو د سلګونو نسلونو محصول ده. ژبه د کومي یوې طبقې د اړتیاوو د لیري کولو د پاره نه ده پیدا شوې، بلکي د ټولني او د ټولني د ټولو طبقو د اړتیاوو د لیري کولو د پاره منځ ته راغلې ده. نو ځکه واحده ده. د ټولني د پاره او عمومي ده. د ټولني د ټولو غړو د پاره د خلګ ژبه د خلکو د مفاهمې[٦] د مهمي وسیلې په حیث، د[٥] ژبې رول په دې کي نه دئ چي د ټولني د یوې طبقې په تاوان او د بلي طبقې په ګټه کار وکړي، بلکي رول ئې اساسا، په دې کي دئ چي په یو شان د تولني د ټولو غړو او ټولو طبقو په خدمت کي وي. د دې څخه به په واضیح ډول څرګندېږي چي ژبه، بې تفاوته، لکه څنګه چي زاړه سستم ته خدمت کوي همداسي نوي سستم ته خدمت کوي او لکه څنګه چي د پخوانۍ زیربنا په خدمت کي وه، همداسي د نوي زیربنا په خدمت کي ده او لکه څنګه چي د استثمارګرانو په خدمت کي ده، همداسي د استثمار کېدونکو په خدمت کي ده.دا واقعیت د هیچا څخه پټ نه دئ، چي روسي ژبې د اکتوبر تر انقلاب تر مخه روسي کیپتالیزم، روسي بورژازي کلتور ته دغسي ښه خدمت کاوه، لکه اوس چي ئې د سوسیالیستي سستم او روسي ټولني د سوسیالیستي کلتور د پاره کوي. د شوروي اتحاد د نورو ملتونو د ژبو (لکه، اوکرایني، ازبکي، ترکمني ) په برخه کي هم دغه ویلای شو چي دغو ژبو د خپلو ملتونو زاړه بورژوازي سستم ته دغسي ښه خدمت کاوه، لکه اوس چي ئې نوي سوسیالیستي سستم ته کوي.

بل ډول کېدای نه شي. ژبه، اصلا، د دې د پاره موجودیت لري او د دې د پاره منځ ته راغلې ده، چي د خلکو د مفاهمې د وسیلې په حیثیت د ټولني د ټولو طبقو په خدمت کي وي، واحده وي د ټولني د پاره او عمومي وي د ټولني د ټولو غړو د پاره. که چېري ژبه د دغه عمومي خلقي موقف څخه واوړي او داسي موقف ونیسي چي د ټولني د نورو اجتماعي ګروپونو په تاوان، د یوه اجتماعي کروپ په ګټه او حمایه کي ودرېږي، نو همدغه کاپې ده چي ژبه، د ټولني د افهام او تفهیم د یوې مهمي وسیلې په حیث خپل اصلي کیفیت د لایه ورکړي. د یوه احتماعي ګروپ د یوې لهجې حیثیت پیدا کړي او د زرال او انهتات خوا ته روانه شي.

په همدې لحاظ ژبه اصولا، د روبنا سره فرق لري، مګر د تولید وسایلو، مثلا ماشین ته ورته ده. ماشین، لکه ژبه، د ټولني د طبقاتو په مقابل کي بې تفاوته موقف لري او کیفتالیزم او سوسیالیزم ته په یوه شان خدمت کوي.

همدارنګه روبنا د ټولني د یوې دورې د اقتصادي زیربنا محصول دئ، نو ځکه روبنا ډېر ژوند نه کوي او د دغي معیني زیربنا د انحطاط او زوال سره له منځه ځي. برعکس ژبه د پېړیو پېړیو زیږنده ده، چي د پېړي پېړیو په اوږدو کي تشکیل کوي، غني کېږي، تکامل کوي او صیقل کېږي. په همدې اساس ژبه په نه مقایسه کېدونکي ډول تر هري زیربنا او تر روبنا زیات ژوند کوي. نو ځکه نه یوازي د یوې زیربنا او روبنا زوال بلکي د څو زیربناوو او روبناوو زوال او انحطاط د دې

ـ مقصد د ټولني د یوې ژبې ویونکي دي، نه د بېلو، بېلو ژبو ویونکي (مترجم[٦])

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبب کېدای نه شي، چي ژبه دي له منځه ولاړه شي او نوې دي شي. د نوي لغوي پانګي او نوي ګرامري سستم سره منځ ته راشي.

د پوشکين له مرګ څخه تر سلو زيات کلونه تېر شوي دي. په دې کلونو کي په روسيه کي فيوډالي سستم، کيپتاليستي سستم له منځه ولاړل او نوی سوسياليستي سستم منځ ته راغی. يعني دوی زېربناوي او د دوی روبناوي له منځه ولاړې. مګر که د مثال په ډول روسي ژبه راواخلو نو په دې ژبه کي په دې اوږده وخت کي کومه ميجاړتيا نه ده راغلې او اوسنۍ معاصره روسي ژبه به د خپل جوړښت په لحاظ د پوشکين د ژبي سره ډېر جزيي تفاوت ولري. دا تفاوت او تغير به څه وي؟ د روسي ژبي لغوي پانګه په ځرګند ډول غني شوه. يو زيات شمېر زړې کلمې د لغوي پانګي څخه ووتلې او د استعمله ولوېدې، د يو زيات شمېر کلمو معناوي بدلي شوې، د ژبي ګرامري سستم ښه شو، مګر د پوشکين د ژبي سټرکچر، ګرامري سستم او اصلي لغوي پانګه، په اساسي توګه، پاته شول او د معاصري روسۍ ژبي د بنسټ او اساس په توګه وساتل شول.

دا خبره ښېخي ځرګنده ده، چي واقعا آيا د دې د پاره څه ضرورت ليدل کېږي، چي تر هر انقلاب وروسته دي د موجوده ژبي سټرکچر، ګرامري سستم او اصلي لغوي پانګه له منځه يووړل شي او نوې دي شي. لکه څنګه چي دا کار د روبنا سره کېږي؟ دې ته څه ضرورت ليدل کېږي، چي ( اوبه ) ( مځکه ) ( غر ) ( کور ) ... کلمې دي په دغه ډول نه، بلکي په بل ډول وويل شي؟ څوک دې ته ضرورت لري، چي د کلمو تغيرات دي په ژبه، ترکيبونو او جملو کي د موجوده ګرامري سستم پر اساس نه، بلکي د يوه نوي ګرامري سستم پر اساس وي؟ آيا په ژبه کي به د دغسی انقلاب راوستل د ټولني د انقلاب د پاره څه کټه ولري؟ تاريخ اساسا، هغه څه نه کوي، چي ضرورت ورته نه وي. که پوښتنه داسي طرحه کړو ـ سره له دې چي موږ ته دا ثابته هم وي، چي موجوده ژبه د خپل سټرکچر له پلوه د نوي سستم د استفادې وړ او هم د نوي سستم اړتياوي په اساسي ډول پوره کولای شي، نو دې ته به بيا څه ضرورت وي، چي په ژبه کي انقلاب راولو؟ د روبنا په برخه کي ويلای شو، چي نه يوازي ممکنه ده، بلکي ضروري هم ده، چي بايد د نوي سستم د ټولني د توليدي قوواو د پراخ تکامل او انکشاف په منظور زړه روبنا له منځه يوسو او په نوې روبنا ئې بدله کړو. مګر څنګه کولای شو، چي د څو کلونو په جريان کي موجوده ژبه له منځه يوسو او په عوض کي ئې نوې ژبه منځ ته راوړو او هغه هم په داس يشکل چي نه دي په ټولنيز ژوند کي انارشي راشي او نه دي هم ټولنه د تجربې د تهديد سره مخامخ شي؟ څوک بې له ملا نصرالدين ( دونکيخوت ) کولای شي چي ځان ته دغسي مساله طرحه کړي؟

په پای کي دا هم بايد ووايم، چي د ژبي او روبنا تر منځ يو بل اساسي فرق دا دئ، چي روبنا د توليد او د سړي د توليدي فعاليت سره مستقيم ارتباط نه لري. د روبنا ارتباط د توليد سره، په غيرمستقيم ډول، يوازي د اقتصاد د لاري، د زېربنا له لاري تامينېږي. نو ځکه روبنا د توليدي قوواو د تکامل د درجو تغيرات، فورا او په مستقيم ډول نه منعکسوي، بلکي د زېربنا تر تغير وروسته، د زېربنا په تغير کي د توليد له تغير او بدلون په ترڅ کي منعکسه کوي. د دې څخه دا معنا اخيستلای شو، چي د روبنا د فعاليت ساحه تنګه او محدوده ده. برعکس ژبه د سړي د توليدي فعاليت سره مستقيم ارتباط لري. ژبه نه يوازي د سړي د توليدي فعاليت سره مستقيم ارتباط لري، بلکي د سړي د ټولو نورو فعاليتونو او د کار دټولو ساحو سره د توليد څخه نيولې تر زېربنا پوري او د زېربنا څخه پيا تر روبنا پوري مستقيم ارتباط لري. په همدې اساس ژبه هغه تغيرات چي پ توليد کي منځ ته راځي، فورا او په مستقيم ډول منعکسوي. بې له دې چي د زېربنا تغير ته انتظار وباسي. څرنګه چي ژبه د انساني فعاليت ټولو ساحو سره مستقيم ارتباط لري، نو د فعاليت ساحه ئې د روبنا د فعاليت د ساحې په تناسب ډېره پراخه او هر اړخيزه ده. د دې څخه مخکي له هر څه دا ځرګندېږي، چي ژبه خصوصا لغوي پانګه، تقرېبا په پرله پسې او دوام تغير کي واقع ده. د صنعت، کرني، تجارت، ترانسپورت، تخنيک او علم پر له پسې تکامل او انکشاف

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ايجادوي، چي ژبه د دغو انکشافاتو د غوښتني سره سم خپله لغوي پانگه د نوو کلمو، نوو اصطلاحاتو له پلوه غني کړي. ژبه هم څرنگه چي دغه ضرورت مستقيما منعکسوي، نو خپله لغوي پانگه په نوو لغتونو، نوو اصطلاحاتو غني کوي او خپل گرامري سستم بشپړوي. لنډه دا چي:

(۱) څوک چي مترقي ايډيالوژي عقيده لري، ژبه د زېربنا د روبنا په حيث نه شي بللای.

(۲) ژبه د روبنا سره گډول ستره اشتباه ده.

## د ژبپوهني مسئلي

(ژباړه)

دوهمه پوښتنه آيا دا سمه ده،چي ژبه تل طبقاتي وي او ده او د ټولني له پاره عمومي واحده غير طبقاتي ژبه موجوديت نه لري؟[5]

جواب: په دا سمه نه ده.

په آسانۍ سره په دې پوهېدای سو،چي په هغي ټولني کي،چي طبقات نه وي،نو د طبقاتي ژبي موضوع اصلاً، نه طرحه کېږي. لومړنۍ ابتدايي ټولني طبقات نه پېژندل، نو طبعاً هلته ژبه طبقاتي نه وه.

ژبه په لومړني ابتدايي ټولني کي د ټول کليکتيف د لومړنۍ ابتدايي ټولني د کليکتيف په شمول بايد طبقه وبلله سي دا يوازي او يوازي يوه لفاظي او د کلمو سره لوبي دي،چي رد او يا توضيح ته ئې اصلاً څه ضرورت نه ليدل کېږي.

هغه څه چي د ژبو په تکامل پوري اړه لري په زغرده ويلای سو،چي په هرځای کي د ژبو د تکامل په ټولو پړاوو کي - د خيل څخه د قبيلي د قبيلي څخه د مليتونو او د مليتونو څخه د ملي ژبو سطحي ته د تکامل په هرپړاوکي ژبه په ټولنه کي د پوهولو او پوهېدلو د وسيلي په حيث د ټولني له پاره عمومي او واحده وه او بي له دې،چي د ټولني د غړو اجتماعي موقف ئې په نظر کي وي په يوه شان د ټولني د غړو په خدمت کي وه دلته زما مقصد د غلامۍ او منځنيو پېړيو امپراتورۍ،لکه د کوروش، ستر الکساندر او يا ژول سزار او ستر کارل امپراتورۍ نه دي، چي واحد اقتصادي بنسټونه ئې نه درلودل او اتحاد ئې هم موقتي او بي ثباته نظامي ــ اداري اتحاد ودې امپراتوريو، نه يوازي دا چي واحدي عمومي ژبي نه درلودي،بلکي ممکنه نه وه،چي ټوله امپراتوري دې داسي يوه واحده ژبه ولري،چي د امپراتورۍ غړي دې په وپوهېږي دا ځکه چي دا امپراتورۍ د مختلفو قبيلو او مليتونو د ميخانيکي اتحاد پر اساس منځ ته راغلي وي،چي دې قبيلو او مليتونو خپلي ژبي درلودي. زما مقصد دغه او دا ډول امپراتورۍ نه دي،بلکي زما مقصد هغه قبيلي چي د يوې امپراتورۍ په چوکاټ کي ئې خپل جلا گډ اقتصادي بنسټ درلود.

او له پخوا څخه ئې خپله تشکيله سوي ژبه درلوده تاريخ وايې چي ددغو قبيلو او مليتونو ژبي طبقاتي نه وي بلکي عمومي وي. دقبيلو او مليتونو له پاره چي هر غړی ئې په پوهېده په دې کي شک نسته،چي ددې ژبو ترڅنگ لهجي او محلي محاوري موجودي وي، خو دغه لهجي او محاوري د قبيلي يا مليت د عمومي واحدي ژبي تابع وي.

وروسته د کپيټاليزم د پيدايښت د فيوډاليزم د تشتت په محوه کېدو او د ملي بازار په منځ ته راتگ سره مليتونو د ملتونو مرحلي او د مليتونو ژبو ملي ژبو ته تکامل وکړ. تاريخ وايې چي ملي ژبي طبقاتي نه،بلکي عمومي ژبي دي، عمومي دي د ملتونو د ټولو غړو له پاره او واحدي دي د ملتونو له پاره لکه څنگه چي وويل سول ژبه په ټولنه کي د ټولني د غړو د افهام او تفهيم د وسيلي په حيث په يوه شان د ټولني د ټولو غړو په خدمت کي ده او په دې برخه کي د طبقو په مقابل کي خپله بي تفاوتي څرگندوي. مگر د بيلو بيلو اجتماعي گروپونو او طبقو خلک د ژبي په مقابل کي کاملاً بي تفاوته نه دي.

[5] کابل مجله ۱۳۶۰ل کال ۸گڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی کوښښ کوي چي ژبه په خپله گټه (انترس) استعمال کړی خپلي خاصي کلمي ور واچوي خپل خاص اصطلاحات، خپلي خاصي محاوري ور داخلي کړي په دې برخه کي په خاص ډول د شتمني طبقي حاکمه قشرونه چي د خلکو څخه بیل سوي وو او د خلکو څخه ئې کرکه درلوده د یادوني وړ دي.

په همدي ډول«طبقاتي» لهجي(۱)

ږرگون ۲ او اشرافي (ژبي) منځ ته راځي.

په آثارو کي اکثرا، په غلط ډول د «پرلتري ژبي» او بزگري ژبي په مقابل کي دغه لهجي (دیالیکټ) اوږرگون «اشرافي ژبي» او «بورژوازي ژبه» گڼلی سوي دي.

د ډېر تعجب ځای دی،چي زموږ ځیني پوهان پر همدي اساس دی نتیجي ته ورسیدل،چي ملي ژبه یو تش خیال دی او هغه څه چي په واقعي ډول موجودیت لري هغه طبقاتي ژبي دئ.

زه فکر کوم چي دا ډول نتیجه گیري ستره اشتباه ده. آیا دغه لهجي اوږرگون ژبي گڼل کېدای سي؟ بي شکه، یه دا ځکه چي (۱) دغه خاصي لهجي اوږرگون خپل خاص گرامري سیستم او خپله خاصه اساسي لغوي پانگه نه لري، دوی دغه د ملي ژبي څخه اخلي.

۲ـ دغه لهجي اوږرگون د یوې طبقي د حاکمه قشرونو د غړو ترمنځ د استعمال تنگه ساحه لري او قطعاًدخلکو د قشرونو دغړو ترمنځ د استعمال مجموعي ډول د ټولني په درد نه خوري، نو دغه لهجي اوږرگون څه شی لري؟ یو مقدار خاصي کلمې لري،چي د ارستوکراسي او یا د بورژوازي د لوړو قشرونو د ذوق او سلیقي سره سم مخصوص مفاهیم څرگندوي، یوڅه خاص اصطلاحات او ترکیبونه چي له ادبي پلوه اوظرافت له مخي د ملي ژبي سره فرق لري او هغه زیوه عبارتونه او ترکیبونه نه لري چي په ملي ژبي کي سته او په پای کي ویلای سو چي یو مقدار خارجي کلمي لري. مگر سره له دي اساسي لغوي پانگه او گرامري سیستم ئې عمومي ولسي ملي ژبي څخه اخیستل سوي دي، په همدې اساس لهجي اوږرگون مستقلي ژبي نه دي،بلکي د عمومي ولسي ملي ژبي ځانگي دي،چي د استعمال یوه تنگه او محدوده ساحه لري. داسي فکر کول چي لهجي اوږرگون کولای سي، چي د مستقلو ژبو سطحي ته تکامل وکړي، او دا استعداد لري،چي ملي ژبي له صحني وباسي او عوض دي ئې کړي، نو دا دتاریخي پرسپیکتیف څخه انکار او د مارکسیستي نظر څخه د انحراف معنی لري.

پر ک.م استناد کوي او دده د مقالې «مقدس ماکس» څخه هغه عبارت را اخلي چي هلته ویل سوي دي،چي بورژوازي «خپله ژبه» لري او دا ژبه (دبورژوازی محصول ده)، چي د تجارتي راکړي ورکړي او میرکانتلیزم روحیه ورننوتي ده.

ددغه عبارت پر اساس ځیني کسان غواړي دا ثابته کړي،چي گویا ک. م ژبه طبقاتي بلله او د ملي واحدي ژبي موجودیت ئې رداوه. که چیري دغو کسانو د موضوع سره واقعي برخورد کولای، نو دوی باید د همدې مقالې (مقدس ماکس) هغه عبارت هم رانقل کړی وای، کله چي ک. م د ملي واحدي ژبي د تشکیل د لارو پر مسئلو ږغیږي وایې چي په یوه ملي ژبه کي د لهجو د تمرکز شرط اقتصادي او سیاسي تمرکز دی، نو دلته نه دا چي ک. م د ملي واحدي ژبي موجودیت نه ردوي، بلکي دئ د یوه لوړ شکل په حیث د یوې واحدي ملي ژبي ضرورت تایید وي او لهجي د ټیټ پوړ په حیث د هغي تابع گڼي.

په دې صورت کي بورژوازي ژبه چي د ک . م د وینا پر اساس «د بورژوازي محصول ده» باید څنگه تعبیر سي؟ آیا ک . م دغه ژبه داسي ژبه گڼله لکه ملي ژبه چي خپل حاضر ژبنی سترکچر لري. آیا ک . م کولای سول،چي دغسي ژبه ئې وگڼي؟ واقعاً، یه! ک . م یوازي دومره غوښتل چي ووایي، چي بوژروازي په خپلو خاصو تجارتي کلمو او اصطلاحاتو سره واحده ملي ژبه کثیفه کړي، چي گویا دوی خپل تجارتي ږرگون لري. ددې څخه په څرگند ډول دا نتیجه اخیستلی سو، چي زموږ دې خلکو د ک . م نظر تحریف کړی دی، ځکه ئې تحریف کړی، چي دوی د ک . م عبارتونه را نقلوي او پرده استناد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، مگر نه دمارکسیستانو په څېر، بلکي د هغو کسانو په څېر چي کتابونه ئې ډېر لوستي وي، خو د موضوع واقعیت ته نه وي ورننوتي.

همدارنګه بل ځای پر ف . ا استناد کوي او «په انګلستان کي د کارګري طبقي وضعه» نومي رسالي څخه د ف . ا هغه عبارت را نقلوي چي وایي «د وخت په تېرېدو سره د انګلستان کارګره طبقه، کاملاً بل ډول خلک سول او د انګلستان د بورژوازۍ سره کاملاً فرق لري»، او «د بورژوازي په تفاوت کارګران په خپله لهجه خبري کوي،بیلي مفکوري او بیل درک او تصورات لري، بیل اخلاق او بیل اخلاقي پرنسپونه لري، بیل سیاست لري» ددې مثال څخه ځیني خلک داسي نتیجه اخلي، چي ف . ا د عمومي ولسي ملي ژبي د ضرورت څخه انکار کاوه او ګویا ده «طبقاتي» ژبه تائیدوله. حقیقت دادی، چي ف . ا په دې ځای کي پر ژبه نه رږغیږي،بلکي دی پر لهجي (دیالیکت) رږغیږي، نه پر ژبه ف . ا کاملاً په دې پوهېده چي لهجه د ملي ژبي د څانګي په حیث ملي ژبه نه سي عوضولای. زه داسي فکر کوم، چي دغه خلک د ژبي او لهجي ترمنځ تفاوت ښه نه سي احساسولای بله دا چي د ف . ا دغه عبارت چي دوی د خپلي ادعا د اثبات له پاره را نقل کړی دی پر خپل ځای نه بلکي بي ځایه راوړل سوي دي، ځکه دا واضحه ده، چي ف . ا په دې ځای کي پر«طبقاتي ژبو» نه رږغېږي. دئ په دي ځای کي، اصلاً د ایډیالوژي، درک او تصور، اخلاقو او اخلاقي پرنسپونو او سیاست پرطبقاتي خلصت باندي رږغیږي. دا کاملاً سمه ده او په دي کي هیڅ شک نسته،چي د بورژوا او پرو لتاریا ایډیالوژي، درک او تصور، اخلاق، اخلاقي پرنسپونه او سیاست کاملاً تفاوت سره لري، نو دا دملي ژبي یا «طبقاتي ژبي» سره اصلاً څه ارتباط لري؟ آیا په ټولنه کي د طبقاتي اضدادو موجودیت زموږ له پاره ددې دلیل کېدای سي، چي ژبه «طبقاتي» وبولو او یا برعکس د ملي واحدي ژبي د موجودیت ضرورت ثابت کړو؟مارکسیزم د ننه په ملت کي د طبقاتي اضدادو د موجودیت په درک سره سره وایي چي د ژبي یووالی د ملت د ښو څخه یوه ډېره اساسي نښه ده آیا دا کسان دغه مارکسیستي تیزس مني او که یه؟

همدارنګه پرلافارک استناد کوي او وایي، چي لا فارک په خپله رساله «ژبه او انقلاب» کي ژبه (طبقاتي) ګڼي او ګویا دئ د عمومي ولسي ملي ژبي ضرورت نه تائیدوي دا سمه نه ده.

واقعاً لافارګ د ټولني د بیلو بیلو قشرونو د «اشرافي ژبي» یا (ارستو کراسي ژبي) اوړرګون په برخه کي رږغیږي مګر ځیني دا هیروي چي لا فارګ د ژبي اوړرګون ترمنځ د بیلوالي او تفاوت د مسئلي سره کومه دلچسپي نه ده نېولي او لهجو ته کله «مصنوعي وینا» کله (ړرګون) وایي. دئ په خپله رساله کي په مشخص ډول سره داسي اعلان کوي: «مصنوعي وینا، چي د ارستو کراسي مشخصه ده، د هغي عمومي ولسي ژبي څخه جلاسوه چي بورژوا، کسبګرو، ښار او کلي خبري پري کولي» په همدي اساس لافارګ د عمومي ولسي ژبي موجودیت او ضرورت تائیدوي او عمومي ولسي ژبي ته د «ارستو کراتانو د ژبو» نورو لهجو او ړرګون په تابع خصلت او ارتباط پوره پوه وو، نو ددې څخه دا نتیجه لاس ته راځي چي پر لافارګ هم سم استناد نه دی سوی.

پر دې استناد کوي،چي یو وخت په انګلستان کي، انګلیسي فیوډالان« د سلو کلونو په اوږدو کي» په فرانسوي ژبه رږغیدل، په داسي حال کي،چي د انګلستان خلکو په انګلیسي ژبه خبري کولي، نو داسي فکر کېږي، چي دغه حالت د «طبقاتي» ژبي د تائید او د عمومي ولسي ژبي د ضرورت درد دلیل کېدای سي. مګر دا دلیل نه دی، بلکي یوه مضحکه کیسه او افسانه ده دا ځکه چي:

۱ـ په هغه وخت کي د انګلستان ټولو فیوډالانو په فرانسوي ژبه خبري نه کولي، بلکي یوازي د انګلیسي فیوډالانو یوې جزیې حاکمي ډلي په سلطنتي دربار کي او د ګرافانو په ساحه کي په فرانسوي ژبه خبري کولي.

۲ـ دوی په کومي (طبقاتي ژبي) خبري نه کولي، بلکي په عادي عمومي ولسي فرانسوي ژبه رږغیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ لکه څنګه چي ښکاره ده، دغه په فرانسوي ژبه نازيدنه او افتخار، بي له دي چي اثر ئې پاته سي، له منځه ولاړ او خپل ځای ئې عمومي ولسي انګليسي ژبي ته پريښود.

آيا دا خلک داسي فکر کوي، چي «د سلو کلونو په اوږدو کي» د انګلستان د فيوډالانو او د انګليستان د خلکو ترمنځ د پوهولو او پوهېدلو پروسه د ترجمانانو د لاري ترسره کيده، د انګلستان فيوډالانو د انګليسي ژبي څخه استفاده نه کوله په هغه وخت کي عمومي ولسي انګليسي ژبه نه وه، فرانسوي ژبي په هغه وخت کي بي له يوې اشرافي ژبي، چي د حاکمي ارستوکراتي ډلي ترمنځ په يوه تنګه ساحه کي ويله کيده، کوم بل حالت ئې درلود؟ څنګه کيدای سي، چي ددغسي مضحکو «دلايلو» پر اساس د عمومي ولسي ژبي د موجوديت او ضرورت څخه انکار وسي؟

روسي ارستو کراتان هم يو وخت د تزار په دربار او تالارونو کي په فرانسوي ژبه نازيدل.

دوی په دې افتخار کاوه، چي کله چي په روسي ژبه ږغيږي، نو اکسينټ ئې فرانسوي دی، يعني دوی په روسي ژبه يوازي په فرانسوي اکسنټ سره ږغيدای سي، نو دا ددې دليل کېدای سي، چي د وخت په روسيه کي عمومي ولسي روسي ژبه نه وه، عمومي ولسي ژبه په هغه وخت کي يو تش خيال او «طبقاتي ژبه» يو واقعيت و؟ زموږ ځيني پوهان په دې برخه کي اقلاً دوی غلطي کوي. لومړی غلطي ئې په دې کي ده، چي دوی ژبه دروبنا سره ګډوي. دوی فکر کوي، چي که روبنا طبقاتي خصلت لري، نو ژبه هم بايد عمومي ولسي نه، بلکي طبقاتي وي ما مخکي وويل، چي ژبه او روبنا دوه بيل مفهومونه دي او مارکسيست هيڅ کله دغه دوه مفهومونه نه سره ګډوي.

دوهمه غلطي په دې کي ده، چي ددوی په دي درک سره، چي د بورژوازي او پرولتاريا ګټي او غوښتني متضادي دي او دوی ترمنځ نه پخلا کيدونکي مبارزه روانه ده، نو ټولنه هم پر دوو برخو تجزيه سوي ده او د دوو دشمنو طبقو ترمنځ هيڅ ډول اړيکي نسته. دوی فکر کوي څرنګه چي ټولنه تجزيه سوي ده او واحده ټولنه نسته، بلکي يوازي طبقات سته، نو د ټولني له پاره د يوې واحدي ژبي ضرورت هم نسته اوملي ژبه په کار نه ده، ښه نو چي ټولنه منحله سوه او عمومي ولسي ملي ژبه هم نسته، نور نو څه پاتي کېږي؟

څه چي موجوديت لري هغه طبقات او«طبقاتي ژبي» دي. ددې څخه واضحه ده، چي هره (طبقاتي ژبه) به خپل (طبقاتي) ګرامر يعني (پرولتري) ګرامر او (بورژوازي) ګرامر لري حقيقت خو دادی چي په طبيعت کي دغسي ګرامرونه نه سته، نو سره له دې هم دا خلک نه حيرانيږي او عقيده لري، چي دغسي ګرامرونه نه پيدا کېږي.

موږ په يوه وخت کي داسي«مارکسيستان» درلودل، چي دوی پر دې ټکي ډېر ټينګار کاوه، چي د اوسپنو هغه لاري چي د اکتوبر تر انقلاب وروسته زموږ په هېواد کي پاته سوي دي، بورژوازي لاري دي او موږ مارکسيستانو ته نه ښايي چي د هغو څخه استفاده وکړو، موږ بايد هغه له منځه يوسو او نوی «پرولتري» لاري جوړي کړو.

دوی په خپل دې نظر سره د لومړنی ابتدايي دورې د سمڅو د انسانانو لقب وګاټه.

څرګنده ده چي د ټولني طبقو او ژبي په برخه کي دغسي ابتدايي انارشيستي نظر د مارکسيزم سره هيڅ ډول ارتباط نه لري او يو غير مارکسيستي نظر دئ.

واقعاً دا سمه نه ده، چي د طبقاتي نه پخلاکيدونکي مبارزي په موجوديت سره دي ټولنه تجزيه او پرطبقو سره وويشله سي او په يوې ټولنه کي دي دا طبقي يوه دبلي سره اقتصادي روابط ونه لري. ترهغه وخته پوري،جي کپيټاليزم موجوديت لري، نو بورژوا او پرولتاريا به د يوې واحدي کپيټاليستي ټولني د برخو په شکل د اقتصاد په ټولو مزو سره تړلي وي. بورژوانه ژوند کولای سي او نه غني کېدای، ترڅو په خپل واک کي اجير مزدوران ونه لري او پرولتار خپل موجوديت ته دوام نه سي ورکولای، ترڅو کپيټالستانو ته استخدام نه سي ددوی ترمنځ د ټولو روابطو قطع کېدل د هر ډول توليد د قطع

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدو معنا لري او د هرډول تولید قطع کېدل د ټولني د مرگ او په خپله د طبقاتو د مرگ معنا لري او دا څرگنده ده، چي هیڅ یوه طبقه هم دا نه غواړي چي ځان په خپله محوه کړي. په همدې اساس طبقاتي مبارزه که هرڅومره شدیده هم وي، دا نه سي کولای چي ټولنه تجزیه کړي، یوازي د مارکسیزم د مسئلو او د ژبي د طبیعت په برخه کي کاملي ناپوهی کولای سول، چي د ټولني د تجزیې د «طبقاتي» ژبو او (طبقاتي) گرامر افسانه زموږ د ځینو خلکو په ذهن کي تلقین کړي.

همدارنگه پر و. ا ل استناد کوي او وایي چي ده په کپیټالیستي سیستم کي د دوو کلتورونو بورژوازي کلتور او پرولتري کلتور موجودیت منلی دی او په کپیټالیستي سیستم کي د ناسیونالیستي کلتور شعار، ناسیونالیستي شعار بولي. دا خبره بیخي سمه ده او په دې برخه کي دی کاملاً سم وایي مگر دا ددې سره، چي ژبه «طبقاتي» ده، اصلاً څه ارتباط لري؟ څرگنده ده چي هیڅ ارتباط نه لري مگر دغه خلک پر و. ا. ل، استناد کوي او دده دغه خبره رانقلوي چي په کپیټالیستي سیستم کي دوه کلتوره موجود دي، زما په فکر دوی غواړي، چي له دې لاري په لوستونکوکي دا تلقین کړي، چي په یوې ټولني کي د دوو کلتورونو بورژوازي کلتور او پرولتري کلتور موجودیت په خپله دا معنا لري، چي ژبي هم باید دوي وي، ځکه چي ژبه د کلتور سره ارتباط لري. ددې څخه دا نتیجه اخلي چي و. ا. ل د یوې واحدي ملي ژبي د ضرورت څخه انکار کوي او ژبه طبقاتي گڼي.

په دې برخه کي ددغو خلکو اشتباه اصلاً په دې کي ده، چي دوی ژبي او کلتور سره گډوي او ژبه او کلتور یو شی بولي مگر کلتور او ژبه دوه بیل شیان دي. کېدای سي چي کلتور بورژوازي او سوسیالیستي وي، مگر ژبه د پوهولو او پوهېدلو د وسیلي په حیث تل عمومي ولسي ده او بورژوازي کلتور او سوسیالیستي کلتور ته خدمت کولای سي. آیا دا یو واقعیت نه دی، چي روسي، اوکرائیني ، ازبیکي ژبي چي نن ددغو ملتونو سوسیالیستي کلتور ته ښه خدمت کوي، همدغه شان ئې د اکتوبر تر انقلاب د مخه ددغو ملتونو بورژوازي کلتور ته ښه خدمت کاوه؟

دوی په خپل دې تایید سره، چي د دوو کلتورونو موجودیت د دوو بیلو ژبو د منځ ته راتگ او د یوې واحدي ژبي د ضرورت د نفي سبب کېږي، ستره اشتباه کوي. کله چي و. ا. ل د دوو کلتورونو په برخه کي رغیږي، نو دده د وینا اتکاء اصلاً پر دې ده، چي د دوو کلتورونو موجودیت د واحدي ژبي د نفي او د دوو ژبو د منځته راتگ سبب کېدای نه سي او ژبه باید واحده وي کله چي د بوند غږو شروع وکړه چي و. ا. ل په دې متهم کړي، چي دی د واحدي ملي ژبي ضرورت ردوي او کلتور د «غیرملي» کلتور په بڼه تعبیر او تفسیر وي، نو و. ا، ل د دوی پرضد سخت پروټسټ وکړ او دا ئې اعلان کړه چي دی د بورژوازي کلتور پر ضد مبارزه کوي، نه د ملي ژبي پرضد، چي ضرورت ئې دی په خپله د یوه مسلم واقعیت په حیث تایید وي. د تعجب خبره ده،چي زموږ ځینو خلکو هم د بوند د غږو پیروي وکړه او د دوی پر پله روان سول.

څه چي په واحدي ملي ژبي پوري اړه لري او و. ا. ل ئې د ضرورت په رد متهم سوي، دا ایجابوي،چي د و.ا. ل دې لاندي عبارت ته غوږ کښېږدو.

«ژبه د انسانانو د پوهولو او پوهېدلو مهمترینه وسیله ده د ژبي یووالی او بې خنډه (آزاد) تکامل ئې د اوسني کپیټالیزم سره د موافق واقعاً آزاد او وسیع چال چلند او پر ټولو مختلفو طبقو د نفوذ د آزادو او وسیعو گروپ بندیو د شرایطو څخه مهمترین شرط دی).

په پای کي پر ج. س استناد کوي او دده څخه د مثال په توگه دغه عبارت را اخلي، چي: «بورواژوازي او ناسیونالیستي گوندونه ئې هم پخوا او هم په اوسني مرحله کي ددغسي ملتونو اساسي رهبري کونکي قوه وه او ده» دا کاملاً سمه خبره ده. بورژوازي او ناسیونالیستي گوندونه ئې واقعاً بورژوازي کلتور رهبري کوي،لکه څنگه چي پرولتاریا او انټرناسیونالیستي گوند ئې پرولتري کلتور رهبري کوي. مگر دا ددې سره چي ژبه «طبقاتي» ده اصلاً څه ارتباط لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا دې خلکو ته دا څرګنده نه ده، چي ملي ژبه د ملي کلتور بنه ده، چي ملي ژبه دواړو (بورژوازي کلتور او سوسیالیستي کلتور) ته خدمت کولای سي؟ آیا زموږ خلک ددې مارکسیستي فارمول سره آشنا نه دي، چي نننی روسیې، اوکراینې، سپیني روسیې او داسي نورو... کلتورونه سوسیالیستي دي د محتوا په لحاظ ملي دی د شکل په لحاظ یعني د ژبې له پلوه آیا دوی ددغه مارکسیستي فارمول سره موافق دي؟

په دې برخه کي ددې کسانو اشتباه په دې کي ده، چي دوی د ژبې اوکلتور ترمنځ فرق نهویني او په دې نه پوهیږي، چي کلتور د خپلي محتوا له پلوه د ټولني دتکامل د هري نوي مرحلي سره بدلیږي په داسي حال کي چي ژبه د څو مرحلو په اوږدو کي په اساسي ډول پرخپل حالت پاتي کېږي او نوي او زاړه کلتور ته یوشان خدمت کوي نو:

الف ـ ژبه دپوهولو او پوهېدلو د وسیلي په حیث واحده وه او ده دټولني له پاره عمومي وه او ده دهغي د ویونکو له پاره.

ب ـ د لهجي اوړرګون موجودیت د عمومي ولسي ژبې موجودیت نه رد وي،بلکي برعکس د عمومي ولسي ژبې موجودیت تایید وي، چي لهجي اوړرګون ئې د څانګو په حیث د هغي تابع دئ.

ج ـ د «طبقاتي» ژبې فارمول یو غلط غیر مارکسیستي فارمول دئ.

## علمي جهانبیني او ژبپوهني مسئلي

(ژباړه)

### د ژبې علایم

ژبه د هغو اجتماعي پدیدو څخه یوه پدیده ده، چي د ټولني د موجودیت په ټولو اوږدو کي فعالیت کوي. ژبه د ټولني د زیږیدو او تکامل سره زیږي او تکامل کوي او د ټولني د مړیني سره یو ځای مري. ژبه د باندي تر ټولني موجودیت نه لري، په همدي علت د ژبې قوانین او تکامل یوازي هغه وخت د درک وړ دی،چي د ټولني د تاریخ او د هغو خلکو د تاریخ سره یوځای وڅېړل سي، په کومو خلکو پوري چي دا ژبه اړه لري او ددې ژبې ویونکي او ایجادونکي دي.

٨

ژبه یوه وسیله او آله ده، چي خلک ددې په مرسته یو له بل سره راشه درشه کوي، افکار سره تبادله کوي او د یوې مفاهیمي ته سره رسیږي، څرنګه چي ژبه د تفکر سره مستقیم ارتباط لري، نو په کلمه او په جملو کي د کلمو په ترکیب سره د تفکر نتیجي او انساني شعوري پرمختګونه ثبتوي او ساتي یې، چي په دې ډول په بشري ټولنه کي د افکارو د تبادلي امکانات برابروي.

د افکارو تبادله یو دایمي او حیاتي ضرورت دی، ځکه چي بې له دي د طبیعي قواوو پرضد په مبارزه کي او د لومړنۍ مادي احتیاجاتو په تولید کي د خلکو د ګډ فعالیت تنظیم امکان نه لري د ټولني د تولیدي فعالیتونو پرمختګونه امکان نه لري او لنډه دا چي د ټولنیز تولید موجودیت ممکن نه دی ټولنه بې له داسي ژبې چي ټولنه پرې پوهېږي او د غړو له پاره ئې عمومي وي، خپل تولید قطع کوي تجزیه کېږي او په نتیجه کي د یوې ټولني په توګه خپل موجودیت له لاسه ورکوي. ددې په څنګ کي چي ژبه د مفاهیمي وسیله ده د ټولني د مبارزي اوتکامل آله هم ده.

لکه څنګه چي څرګنده ده د یوې ژبې د ټولو کلمو د ترکیب څخه د ژبې لغوي پانګه جوړیږي. د ژبې د لغوي پانګي مهمه برخه اساسي لغوي پانګه ده، چي ټولي اصلي اوبومي کلمې ئې اجزا دي او د ژبې د لغوي پانګي د اساسي هستي حیثیت لري. اساسي لغوي پانګه د ژبې د لغوي پانګي په تناسب ډېره محدوده مګر عمر ئې ډېر اوږد اوپیړیو، ته رسیږي او د ژبې د نوو کلمو د جوړیدو بنسټ تشکیلوي.

---

٥ کابل مجله ١٣٦٣ل کال ٨ ـ ٩ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغوي پانگه د ژبې د حالت تصوير منعکسوي، څومره چې د ژبې لغوي پانگه غني او هر اړخيزه وي په هغه اندازه ژبه غني او پرمختللي وي.

مگر لغوي پانگه په يوازي ډول ژبه نه سي جوړيدلای،بلکي لغوي پانگه د ژبې د تعميراتي موادو حيثيت لري، لکه څنگه چې په تعميراتي چارو کي بې له تعميراتي موادو څخه تعمير نه سي جوړيدای، خو بيا هم تعميراتي مواد د تعمير معنا نه لري همدارنگه هم لغوي پانگه په يوازي ډول ژبه نه ده، که څه هم ژبه بې له لغوي پانگي کوم مفهوم نه لري. لغوي پانگه هغه وخت ستر ارزښت پيداکوي، چې د ژبې د گرامر تر فرمان لاندي راځي. گرامر د کلمو دتغير اصول او قواعد په جمله کي د کلمو د ترکيب قوانين ټاکي او ژبې ته منظم، معقول او معنا لرونکی خصوصيت ورکوي. گرامر( مورفولوژي، نحو) د کلمو د تغير، په جمله کي د کلمو د ترکيب د قوانينو مجموعه ده.

ددغه گرامر په برکت ژبه دا امکانات ترلاسه کوي،چې بشري فکر ته شکل او صورت ورکړي او مادي ژبنۍ جامه ور واغوندي. د گرامر متمايز خصوصيت په دې کي دی،چې د کلمو د تغير د قوانينو په بيانولو کي، کومي مشخصي او معيني کلمې په نظر کي نه نيسي، بلکي کلمې په عمومي او مجرد ډول په نظر کي نيسي همدا رنگه کله چې د جملو د رغښت اصول او قواعد څرگندوي بيا هم کومي مشخصي او ټاکلي جملي او ټاکلي رغنده اجزا يې، لکه کوم ټاکلی مستند عليه کوم معين خبر په نظر کي نه وي بلکي په عمومي او کلي ډول بې له دي چې د يوې يا بلي مشخصي جملې د شکل سره ارتباط ولري په نظر کي نيسي.

گرامر هم د کلمو او هم د جملو په برخه کي ئې درلود، که څه هم قوانين او اصول ئې ابتدايي وو، خو په هرصورت يو گرامري سيستم و. را وروسته، د توليد انکشاف، د طبقو منځته راتگ، د ليک پيدايښت د دولت تشکيل، چې دخپلي اداري له پاره ئې د مراسلاتو تنظيم ته څه ضرورت درلوده او د تجارت انکشاف، چې د مراسلاتو تنظيم ته ئې لا زيات احتياج درلود، د چاپ د ماشين اختراع، د آثارو زياتوالی دې ټولو د ژبې په تکامل کي ستر بدلون راوست. ددغه وخت په اوږدو کي قبيلي او مليتونه تجزيه کېدل، سره ببلېدل، سره گډيدل او په پای کي ملي ژبې او دولتونه منځ ته راغلل، انقلابونه وسول، زاړه اجتماعي سيستونه په نوو اجتماعي سيستونو بدل سول. دغو ټولو تحولاتو په ژبه او د ژبې په تکامل کي لا نور ستر تغيرات راوستل.

مگر دا به ستره اشتباه وي، که فکر وسي چې د ژبې د تکامل پروسه د روبنا د تکامل يعني د موجوده سيستم د ړنگيدو او د نوي د جوړيدو په څېر ده. په واقعيت کي د ژبې د تکامل لاره دا نه ده، چې موجوده ژبه دې ړنگه او پرځای دي نوي جوړه سي، بلکي ژبه د موجودي ژبې د انکشاف او پراخوالي او د اساسي عناصرو د بشپړولو له لاري تکامل کړی دئ. ژبه د يوه کيفي حالت څخه بل کيفي حالت ته په يوه غورځنگ سره د زاړه حالت په ړنگولو او د نوي په رامنځته کولو نه ده را اوښتي، بلکي په تدريجي او دوامداره ډول د زاړه کيفيت لرونکو عناصرو په مړه کېدو او د ژبې د نوي رغښت د نوي کيفيت لرونکو عناصرو په پاسره او اخيستنه د يوه کيفي حالت څخه بل کيفي حالت ته اوښتي ده.

وايې چې د ژبې د مرحلوي تکامل تيوري يوه مارکسيستي تيوري ده، ځکه چې دغه تيوري د زاړه کيفيت څخه نوي کيفيت ته ناڅاپي غورزنگ، د ژبې د تېرېدو د شرايطو په حيث تاييدوي. دا سمه نه ده، ځکه مشکله ده چې پدې تيورۍ کي دي کوم مارکسيستي څه ـ مه پيدا کړو او که چيري مرحلوي تيوري واقعاً د ژبې د تکامل په تاريخ کي ناڅاپي غورځنگ تاييدوي، نو پدې تاييد سره لاخپل مخ توروي. مارکسيزم د ژبې په تکامل کي ناڅاپي غورځنگ يعني د موجودي ژبې ناڅاپي او فوري مړينه او د نوي ژبې ناڅاپي جوړيدل نه تاييدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لافارک پر حقه نه و، کله چي په فرانسه کي د اووه لس سوه نهه اتیا(۱۷۸۹) او اوه لس سوه څلور نوي یم (۱۷۹۴) کلونو ترمنځ پرناځاپي ژبني انقلاب رغیده.

(وګوری دلافارګ رساله،ژبه او انقلاب) هغه وخت په فرانسه کي هیڅ ډول ژبنی انقلاب او هغه هم ناځاپي نه و پیښ سوی. داسمه ده چي په دغه مرحله کي د فرانسوي ژبي لغوي پانګه په نوو کلمو او د ځینو کلمو په معنا کي بدلونونه راغلل او بس، نو دغسي بدلونونه په هیڅ صورت د ژبي سرنوشت نه ټاکي. په ژبه کي د اهمیت وړ د ژبي ګرامري سیستم دی او اساسي لغوي پانګه ده. خو د فرانسي د بورژوازي انقلاب په مرحله کي نه یوازي داچي د فرانسوي ژبي ګرامري سیستم او اساسي لغوي پانګه محوه نه سول، بلکي تر نننۍ ورځي پوري ئې په اوسنۍ فرانسوي ژبه کي خپل ژوند ته دوام ورکړی دئ.

دا خو اصلاً د بحث وړ نه ده، چي پنځه کلنه شپږکلنه لنډه موده (ناځاپي ژبنی انقلاب) دي د یوې موجودي ژبي د محوه کېدو او د نوي ملي ژبي د جوړېدو له پاره کافي وګڼله سي، نه یوازي داچي دا موده ډېره لنډه ده،بلکي خندونکي ده، ددې له پاره پېړۍ په کار دي مارکسیزم فکر کوي چي:

ژبه د زاړه کیفي حالت څخه، نه د غورځنګ له لاري او نه هم د موجودي ژبي د محوه کېدو او د نوي د جوړېدو له لاري، نوي کیفي حالت ته اوړي.

لازمه ئې بولم د غورځنګ علاقه مندانو او پلویانو تر غوږه ئې ورسوم، چي د زاړه کیفیت څخه نوي کیفیت ته د تېرېدو د غورځنګ قوانین نه یوازي داچي د ژبي د تکامل په تاریخ کي د تطبیق وړنه دي، بلکي د نورو زیربنایې او روبنایې اجتماعي پدیدو په برخه کي هم تل صدق نه کوي. غورځنګ د هغي طبقاتي ټولني له پاره چي پر دښمنو طبقو سره بیلې سوي وي حتمي دي مګر دهغي ټولني له پاره، چي دښمني طبقي نه لري، هیڅکله حتمي او ضروري نه دي.

موږ د اتو، لسو کلونو په اوږدو کي د خپل هېواد (شوروي اتحاد) د کرني په ساحه کي بورژوازي انفرادي زراعتي سیستم په سوسیالیستي، کلخوزي سیستم بدل کړ. په کلي کي د بورژوازي اقتصادي سیستم ړنګول او د نوي سوسیالیستي سیستم جوړول دا یو انقلاب و. مګر دغه انقلاب د غورځنګ او ټوپ په توګه، یعني د موجود حکومت په درولو ترسره نه سو. بلکي په کلي کي د زاړه بورژوازي سیستم څخه نوي سیستم ته د تدریجي تېرېدو له لاري سرته ورسید.

دا کار ځکه موافقانه اجرا سو، چي دغه انقلاب په کلي کي له پاسه او د مسلط حکومت په تشبث او ابتکار او د بزګرو د اکثریت په حمایې سرته ورسید.

وایې چي د ژبو د ګډوډېدو یو زیات شمېر تاریخي حقایق ددې دلیل کېدای سي، چي سړی دي ګومان وکړي چي د ژبو د ګډېدو په وخت کي په ناځاپي ډول د غورځنګ له لاري د زاړه کیفیت څخه نوي کیفیت ته په تېرېدو سره نوې ژبه منځته راځي دا بیخي غلطه ده.

د ژبو ګډېدل باید د یوازیني فیصله کوونکي عمل او ضربي په خیر مطالعه نه سي چي د څو کلونو په اوږدو کي ئې نتیجي راوزي. د ژبو ګډېدل یوه اوږده پروسه ده، چي په سلګونو کلونه دوام کوي، ځکه نو په دې برخه کي هیڅ ډول غورځنګ اصلاً طرحه کیدای نه سي.

همدارنګه بیخي غلطه ده، که داسي فکر وسي، چي د ګډېدو مثلاً د دوو ژبو د ګډېدو په نتیجه کي دي یوه داسي نوي دریمه ژبه منځته راسي، چي د ګډېدونکو ژبو له یوې ژبي سره دي ورته نه وي او د کیفیت له پلوه دي د ګډېدونکو ژبو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرې يوې ژبې سره تفاوت ولري په واقعيت کي د ګډيدو په وخت کي يوه ژبه د نورو په منځ کي بريالي راوزي، خپل ګرامري سيستم ساتي، خپله اساسي لغوي پانګه ساتي او د خپلو داخلي قوانينو د تکامل سره سم مخ پر تکامل روانيږي.

مګر بله ژبه به تدريجي ډول خپل کيفيت له لاسه ورکوي او ورو، ورو مري، ځکه نو د ګډيدو په نتيجه کي کومه نوي دريمه ژبه منځته نه راځي،بلکي يوه ئې د خپل ګرامري سيستم او اساسي لغوي پانګي سره ساتل کېږي او دخپلو داخلي قوانينو د تکامل سره سم د تکامل امکانات ور په برخه کېږي. البته په دې پروسه کي د بريالي ژبې لغوي پانګه د مغلوبې ژبې د لغوي پانګي څخه په اخيستنو سره غني کېږي.

په دې اخيستنو سره نه داچي، خواريږي، بلکي برعکس تقويه کېږي. دمثال په ډول د روسي ژبې سره هم دغسي پيښه سوي ده. د روسي ژبې سره ددې تاريخي تکامل په اوږدو کي د مختلفو خلکو ژبې ګډې سوي دي، خو د اتل بريالي ځني وتلي ده، څرګنده ده،چي د روسي ژبې لغوي پانګه د نورو ژبو د لغوي پانګو څخه په اخيستنو سره بشپړيده. په دې کار نه دا چي ضعيفه نه سوه بلکي برعکس غني او تقويه سوه.

څه چي د روسي ژبې په ملي خصوصيت پوري اړه لري ويلای سو، چي هغه ملي خصوصيت ئې وساته او ډېره کوچنۍ صدمه هم ور ونه رسيده، ځکه چي خپل ګرامري سيستم ئې وساته خپله اساسي لغوي پانګه ئې وساتله او د خپلو داخلي قوانينو د تکامل په بشپړيدو سره مخ په وړاندې د تکامل پر لور روانه سوه.

په دې کي هيڅ شک نسته، چي د ګډيدو تيوري شوروي ژبپوهني ته کوم ګټور څه نه سي ورکولای. که چيري دا سمه وي، چي د ژبپوهني اساسي مسئله د ژبې د تکامل د داخلي قوانينو څېړنه نه ده نو دا بايد ومنو چي د ګډيدو تيوري نه يوازي دا چي دا مسئله نه حلوي حتی طرحه کوي ئې هم نه اصلاً دا تيوري توجه نه ورته کوي يا دا چي نه په پوهيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله

ددې مونو گراف په بشپړولو سره زه په دې و توانېدم، چې د ښاغلي دوکتور عبدالحکیم هلالي خپرې ورې مقالې د مختلفو جریدو او مجلو څخه را ټولي کړم. پر اهمیت، کمیت، اړتیا او ارزښت ئې وږغېږم، همدارنگه دده پر ژباړو هم څه ناڅه رڼا واچوم یعني د ژباړي ژبه، ارزښت، کمیت او ځانگړنو باندي یې بحث وکړم، ترڅو دده دغه مقالې خوندي سي او د ژبپوهني په برخه کي، چي زموږ په ژبه کي سخته اړتیا ورته لیدل کېږي استفاده ورڅخه وسي او د پښتو ژبي د ژبپوهني برخه په بډایه سي.

دا مونوگراف (سریزه، مننلیک، شالید، د څېړني میتودولوژي، ستونزي،اصلي محتوا، وړاندیزونه او مأخذونه) لري، چي هر یو ئې د مونوگراف لیکني له اُصولو او پرنسیپونو سره سم لیکل سوی. په مونوگراف کي لومړی دهلالي صاحب پېژندنه او آثار راغلي، وروسته د ژبپوهني اړوند معلومات راغلي، بیا د ژباړي اړوند ځینو ټکو ته اشاره سوي او په پسي د هلالي صاحب مقالې راوړل سوي دي. ان شاء الله ددې مقالو په راټولو سره به د ژبپوهني د زده کوونکو له پاره د ژبپوهني اړوند ډېره غنیمت ډاتا په لاس راغلي وي او د ژبپوهني د موادو کمبود به څه نا څه رفع سوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه

۱ـ د پښتو ژبې د ژبپوهنې اړوند مواد، چې مختلفو لیکوالانو په بېلابیلو وختونو کې لیکلي او د هېواد په مختلفو مجلو او جریدو کې خپاره سوي، تیت او پرک دي نورو محصلینو ته دي دنده ورکړل سي ترڅو دغه خواره، واره مواد سره راټول او دپښتو ژبپوهنې پانګه پرې غنې سي.

۲ـ د ډاکتر عبدالحکیم هلالي د پېژندنې سمینار دي جوړ سي.

۳ ـ د ډاکتر هلالي مقالې دي د ځانګړي اثر په توګه چاپ سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مأخذونه


۱: رښتین. زېور، زرغونه(۱۳۹۵ل).،پښتو نحوه(گرامر).(۴مخ)، مومند خپرندویه ټولنه، جلال آباد.

۲ : خویشکی. محمدصابر،(۱۳۹۳ل)، پښتو غړپوهنه او ویيپوهنه(ز مخ)، مومند خپرندویه ټولنه،جلال آباد.

۳ : شاکر. نور احمد، پوهندوی، (۱۳۵۰ل).، ژبنۍ څېړني، دولتي مطبع،کابل.

۴: تږی. حبیب الله، ډاکټر، (۱۳۸۹ل)نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل،دوهم چاپ،گودرخپرندویه ټولنه، جلال آباد.

۵: لودین. محمد دولت، (۱۳۹۵ل )د ژبپوهني عمومي مسایل،لومړی چاپ، جوی شیر، کابل.

٦: ښکلی. اجمل،(۱۳۹۳)ل کال، د ژباړي اصول، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد.

۷: ستانکزی. رفیع الله(۱۳۹۳ل) د ژباړي فن، مومند خپرندویه ټولنه جلال آباد

۸: زیری جریده مختلف کلونه او مختلفي گڼي.

۹: کابل مجله مختلف کلونه، مختلفي گڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# abstract

Dr. Abdul Hakim Hilali was born in kutalak village of Gulistan district of Farah in 1314 year.

Initially conducted the seminary in Nimroz province, educated secondary and secondary education schools in Kabul. Mr. hilali arrives in the first row of the country's great linguists, who studied the Ph.D. degree's in the field of linguistics. His mother tongue has given valuable services to the language of linguistic literature in Pashto, printing special arts, and publishing numerous articles and magazines in various parts of the linguistic literature, in which my various articles in this monograph are published. Receive this article, with the most of the current textbooks and compliant with the rules of writing article. Hilali sahib has also translated several articles from Russian into Pashto, which I used to hang on monograph.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Ministry of Higher Education**

**Kandahar University**

**Faculty of Languages and Literature**

**Department of Pashto Language and Literature**

Monograph for Bachelor's Degree

# Dr. Abdul Hakim Hilali Introduction and linguistics Articles

**Compiled by: M. Tahir karyab**

**Adviser: Teaching Assistant Matiullah Rohyal**

**Year: 2018**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ministry of Higher Education

Kandahar University

Faculty of Languages and Literature

Department of Pashto Language and Literature

Monograph for Bachelor's Degree

# Dr. Abdul Hakim Hilali Introduction and linguistics Articles

Compiled by: M. Tahir karyab

Adviser: Teaching Assistant Matiullah Rohyal

Year: 2018

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**